
# چی پاشومان سنده ویلیت




محمد اکبر کورگو

PROPERTY OF ARIC Established 1989

# چی ماشومان سندره ووایی

د محمد اکبر کرگر د لنډو کیسو مجموعه

PROPERTY OF ACKU 7758

۱۳۷۷ سنبله

Download From: Aghalibrary.com

د کتاب نوم : چې ماشومان سندره ووایي

لیکوال : محمد اکبر کرگر

د چاپ شمیر :

د چاپ ځای : دانش کتابخانه پیښور

کال : سنبله ۱۳۷۷

د کمپیوتر سمبالوونکی : محمد ابراهیم «امیری»

# فهرست

عنوان — مخ


١ - چي ماشومان سندره ووايي ........................ ١
٢ - جهنم دی هر انسان د بل انسان ........................ ٨
٣ - تورې جامې ........................ ١٩
٤ - حلاجې ........................ ٢٩
٥ - د زمانو سندره ........................ ٣٥
٦ - يو سيوری يو تصوير ........................ ٤٠
٧ - لکه غنه پخپل جال کې ........................ ٥١
٨ - خونړۍ شپه ........................ ٦٢
٩ - يه لارويه! ........................ ٦٨
١٠ - ترهه او ککره ........................ ٧٧

١١- ماته د حسنک پوره کیسه وکه! ........................ ٨٣

١٢- د ځیریو په ځنګله کې ........................ ٩٢

١٣- تابوتونه او کفنونه ........................ ١٠٤

١٤- زه همزولی د زمان د ته‌سنګر د ژوبلورو ........................ ١١٢

١٥- د شوتلو بوی ........................ ١١٦

١٦- بی کچکوله ګدا ........................ ١١٨

## نیم نگاهی به کتاب

# «چه ماشومان سندره ووایی»

اکبر کرگر زمان درازیست که پژوهش و تحقیق میکند و قصه و داستان مینویسد و بخشی از داستانهایش وقف مکاشفات درونی و دردشناسی روانی میشود. درونمایه های مرگ و جدایی وانزوا و شکست و سقوط را زیاد به کار میرد ورشته های مشترکی وفضای گاه مشابه داستانها بیشتر آثار نویسنده را به هم ربط میدهد ورگه های گوناگونی از افکار فلسفی و سمبولیستی و تاثیر آثار و افکار کافکاو صادق هدایت را به وضوح میتوان در آنها دریافت. اما این رگه ها اصالت شان را حفظ میکنند و عطر و طعم آشنا و وطنی دارند و گرما سنجی هرچند کوچک از چهار فصل تاریخ معاصر کشورما میتوانند به شمار آیند «جهنم دی هر انسان د بل انسان، حلاجی، لکه غنه پخپل جال کی».

در داستانهای «چی ماشومان سندره ووایی، ماته د حسنک پوره کیسه وکه، توری جامی» نویسنده موفق شده که ما را همراه خود به دنیای خیال انگیز کودکانه ببرد و به کاخ کودکی نفوذ کند. نویسنده دراین داستانها گرچه گهگاهی

توری جامی » نویسنده موفق شده که ما را همراه خود به دنیای خیال انگیز کودکانه ببرد و به کاخ کودکی نفوذ کند. نویسنده در این داستانها گرچه گهگاهی احساساتی میشود و از ما جرا فاصله درستی نمیتواند بگیرد. اما در بیشترین موارد خویشتندار است و رویهمرفته در ایجاد فضای ساده و کودکانه موفق است.

« زه همزولی د زمان ته سنگر د ژوبلورو و دشوتلو بوی » نویسنده به معنای واقعی کلمه داستان نه بلکه طرحگونه هایی اند رمانتیک و ادبی مانند در کار نویسنده به مرحله داستانی ارتقاء نیافته و درنیمه راه مانده است.

بخش دیگر و بیشتر داستانهای کتاب را تصویر گری مسایل جنگ تشکیل میدهد. این داستانها هر یک گوشه یی از جنگ و نشانه های مشقتبار و ذلت خیز آن را نشان میدهد « یو سیوری یو تصویر، خونړی شپه، ترهه او ککره، ماته د حسنک پوره کیسه وکه، د ځیړیو په ځنګله کی، تابوتونه کفنونه... » در این داستانها ضمیر ناخود آگاه نویسنده، از تصاویر رعب و خشونت و خون و تفنگ انباشته است و زبان گویای انسانهای رنجدیده و زجر کشیده کشورش است و حرمانها و تاسفها و حسرتها...

طرح اغلب داستانهای اکبر کرگر باداستان سنتی تفاوت نهادین دارد. در آن ها ضرورت فراز و فرود و بحر آنها و اوج داستانی مردو دشمرده میشود. درگیریها بیشتر درونی و فکری و روانی اند و شخصیت داستانی تحرک و پویایی

لازم را ندارد و کل داستان در زمان محدودی اتفاق میافتد. علی رغم گرایش نویسنده به شیوه تک گفتار درونی که در چند جا چهره مینمایاند، اکبر کرگر شیوه های گونا گون داستان نویسی را کمتر تجربه میکند و بیشتر از زاویه دیدسوم و دانای کل استفاده میکند دراین شیوه هم بیشترین جا راتوصیف مستقیم یا روایتی دار و در نتیجه اساسی ترین جنبه داستان که همان نشان داده است، در پرده باقی میماند.

نویسنده در بیشتر داستانها زبان نرم و پر انعطافی را به کار برده که از عهده توصیف مناظر و صحنه ها به خوبی برمی آید. زبان اکبر کرگر تکلفات ادبی و تضعات هنری را کمتر راه میدهد و میکوشد که یک رابطه ملموس عینی و ذهنی بین شکل و محتوا که در متنهای صمیمیت ساخته شده برقرار کند و نثر مهمتر از محتوا جلوه نمیکند. از این لحاظ داستانهای اکبر کرگر خواندنی اند و شورو اشتیاق اکثر خوانندگان خویش را ارضاء میکنند و ما همه را به خوانش آن فرامیخوانیم.

حسین فخری

اسد ۱۳۷۷ شمسی

# چې ماشومان سندره وواېي :

ځوروځي يې تيرې شوې وې . يوازې څوورځي چې ښوونځي ته يې لاره پيدا کړې وه . موريې د همدې ورځې ليواله وه هو ، دهمدې ورځې ، څويمه ورځ يې وه چې ښوونځي ته تللي وو ، په کڅوره کې يې يو کتاب هم په اوږه فشار راوړ او دروند بريښيده . په دروازه راننوت ، سملاسي يې څه نوې خبرې زده کړې وې . موريې ډيره منتظره او تږې وه چې دهغه دنن ورځې توري او کلمې واورې . ماشوم يو څه له ځانه سره زمزمه کول . داسې لکه چې سندره وايي ، هغه سندره نه ويله . څه بل شان يې زمزمه کوله . موريې دليدلو او دهغې داوريدلو تږې وه څويمه ورځ يې وه چې هغه ښوونځي ته تللي وو .

- ښه بچې جانه ، ماليم دې درته څه وويل ؟ موريې وپوښتل .

- ماليم سبق راکه ، هغه په کوچنې او تنکي ژبه وويل او بيا يې دواره زياته

کړه :

- موږ یی قطارو درولو او په موږ یې داسندره وویله .

- کومه سندره ؟ زوی جانه .

- هماغه سندره .

موریې بیا په دلاساتری وپوښتل :

- زه یې بیا نه شم ویلی . هماغه سندره چې وایی...

- کومه سندره ؟ ته خو یې لږ شان ووایه .

- اغه په تولیزون ( تلویزیون ) کی یې چې وایې . اغه جنډه چې رپیږی . اغه ماشومان چې پکی قطارروان وی .

موریې بیا په غیږ کې ونیو دواړو خو او ته یې شکل کړ ، دهغې دارمانونو دهیلو او میدو نو نهالگی او د هغی دخواریو او سختیو بچې و . ډیره یې تنده وه چې یو وخت خپل زوی په ښوونځی کې ووینی . دهغه په تنکی ژبه سبق واوری ، دوطن نوم ، دوطن دغرونو نومونه ، دسیندونو نومونه ، دښارونو نومونه ، دوطن دقهرمانانو نومونه . او آن دوطن دڅارویو اولیوانو نومونه تری هم واوری .

خو داوخت سره له دی چې دمور دژوند انه یو ارمان پوره شوی و ، یو نیمګړی ارمان ، یو نیمه خوا ارمان ، یو تاند او تنکی ارمان . هغی دلومړی وارله پاره خپل زوی دښوونځی له کتاب سره ولید او بیا یې هم زړه صبر نه شو ، بیا یې له زوی نه

پوښتنه وکړه . دهمغې زمزمې او دهمغای سندرې ...

- ښه ته ووایه کومه سندره دې یاده کړه :

- سندره نه وه هغه قومي ترانه وه ،هغه چې تولیزون ( تلویزیون ) کې یې ماشومان وایي . اغه بیرغ چې رپیږي او ماشومان یې چې وایي...

- نو څنګه ویل کیږي ؟ ته خویې یوټکې ووایه . هغې بیا وچیږه او په دلاسایي و پوښته .

- چې نه مې پریږي نو دالړ درته ویم بیا بس .

- ښه همدالړ ووایه .

په تنکې ژبه یې په خپله ځانګړې لهجه کې په موزیکال ډول همدومره وویل : پاک سرزمین شادباد - کشور حسین شاد باد .

هغه ددې لیوال و چې مور به یې ډیره خوشحالي وکې ، او ډیر به یې ونازوي . خو د ترانې په اوریدو سره د مور اکر څه بل شان شول ... دواره دهغې په اننګو سیلاب راروان شو . ستونی یې بند بند شو . نور ورسره دخبرو مجال ورک شو خو همدومره یې وویل . داخو ...

ماشوم یې خبره غوڅه کړه :

نو ته خفه شوې ، ولې خفه شوې .

هغې نه غوښتل چې نورې خبرې وکړي . خو ماشوم په لالچ سره په یوه ساه

پوښتنې کولې . دموراو ښکو دماشوم وسوسه شیبه په شیبه زیاتوله . هغه یې هڅاوه چې بیا او بیا هم پوښتنه وکړي . دمور او ښکو اوخفگان دما شوم بې پروا او یا غی نظر یوې خواته کړ . او بیا یې هم له موره وپوښتل .

هغې بیاخپل ماشوم زوی ټینګ ته رانژدې کړ . په مخ یې ښکل کړ . په بنده ژبه اونیولې ستونی یې همدومره ورته وویل .

- نه په سندره به دې ولې خفه کیږم ، خو وطن او بیا یې ستونی ډډ شو .

دماشوم په ذهن کې دوطن کلیمې ډیرې پوښتنې راولاړې کړې هغه ته وریاد شول چې کله په او له ورغ ښوونکې له هغه نه دځای پوښتنه وکړه نو دهغه خواکې ملگری وویل ، هو صیب دی مهاجردی . هغه گړی دمهاجر په مانانه وپوه شوی . خو دامهال دی او نورو پوښتنو دماشوم حیرانی نوره هم زیاته کړه .

-هو ، بچیه دازمونږ دوطن سندره نه وه ، او دازمونږ وطن هم نه دی . زمونږ وطن هلته وچې ته پکی وزیږیدی .

- نو هغه چیرته دی ؟

- اخو اته دی . قبلې ته یې لاس ونیوه .

- هلته خو خلک مانځه ته دریږي .

- هو ها خوامونږ لمونځ کوو . او بیا یې قبلې ته لاس ونیوه ، زیږی مازدیگرو . د پیښورا سمان ته دلوگو او ککړی هوا پولې ورجگیدلې . د تاترې پرسر سپینه

غوړسکه وریځ د شنه اسمان په لمنو کی د پاغوندو په څیر بریښیدله . دلمر وړانگی دوریځو له پولیو سره ستر گه په سترگه کیدلی او بیا یی دوریځو شاته داسمان لمنه کی دبوډی ټال په غرغړ وکاوه .

دتاتری جگ غرونه چې له کلونو پیړیو او زمانو راهیسی دیو جابر او باعظمته امپراتور په څیر یې دپیښور په ورشوراج چلاوه خو داشیبه ورته ډیر هوار بریښیدل . هلته دپلارنیکه دیره او هدیره ده . شنی ونی پکی زرغونی دی ویالی پکی په شرک بهیږی ، سیندونه پکی غورځنگ وهی . دشپنو شپیلی پکی دپخوا په څیر اوریدل کیږی . دخلکو شور اوزوږپکی غوږونه کڼوی . خو هغه یووار بیا دخپلو خیالا تو سره دماشوم زوی خبروته وگرزیده ،ماشوم تری وپوښتل :

–نوزمونږ کور هلته وړاندی و ؟

– هو هلته وړاندی و . هلته قبلی ته ، هلته چې دخلکو لمونځ رواکیږی .
هلته زمونږ کلی و ، هلته زمونږ کورو ، اوزمونږ ...

–نوولی نه ځو ؟

– ارومرو به ځو .

– کله به ځو ؟

– یووخت به لاړ شو ، او هلته به بیا خپلو همزولو سره لوبې وکړې .

– ولی اوس هلته ماشومان لوبې نه کوې ؟

په همدې خبرو سره يو واربيا دهغې په ستر گو توره تياره راغله . دهغې ذهن اوخيال يوو ار بيا خپل کلي کوراود ختهينو ديوالونو په کوڅوکې ننوت . دخپل زوی دپيدا ښت لومړی شيبې يې ياد کې راغلې . ډيره هيله يې درلوده چې زوی يې يو وخت دخپل کلې په کوڅوکې دخپلو همزولوسره لوبې وکړی . دخپل وطن سندرې ووايي . خپلې ديرې او هوجرې وگورې . دخپلو پلرونو له عظمت اولويې خبرشي . او ديوه با غروره زلمي په څير دنورو په وړاندې ځان ديوه وطن زلمی احساس کړی. خو داوخت دهغې تصورات څه بل شان وو .ماشوم بيا هم پلتهنه کوله ، اوبې واره يې پوښتل :

– نواوس زمونږ کلي کې سندره نشته ؟

– شته خوماشومان يې اوس نه وايي .

– هغه کومه ده ، اوولې وطن ته نه ځو ؟

– بچيه ، هلته خو جنگ دی ، هلته خوډزی دی ، اوماشومان هم تښتوی .

په ماشومانه تصور يې وپوښتل:

– ښه ، دا چې اسمان هلته سور دی کورونو اوراخيستې دی ؟

داسمان لويد يځې لمنې ته يې لاس ونيوه .

–هلته کورونو اوراخيستی دی ؟

– دالمبې چې ښکاری .

- هو ، داچې لمبی ښکاری اخواته داورلمبې دی اوزمونږ په کلې باندی بلې دی .

- اوماشومان هم تښتوی ؟

- هو ماشومان تښتوی .

- نوولی یې تښتوی هلته څوک سبق هم نه وایې ؟

- لیونیه هلته سبق له کومه شو ، هلته یوازی د ټوپک سبق دی .

- نوموږ به کله خپل کور ته لاړشو ، اوکه به نه ځو ؟ هغه په ډیره معصومانه ژبه وپوښتل ، موریې په ورو له ځانه سره وویل ، خدای خبر ، خوماشوم ته یې په تسلیت سره وویل :

که خدای کول یووخت به لاړشو .

- نه ژر شه راته ووایه کله به لاړشو ؟

دماشوم په ډیر ټینګار دهغې ستونی ډک شوله خبرو کولو ووته. کوراوس ...... اوس هلته هدیره ، او بیا دهدیرې په اوریدو سره دماشوم سترګی همداسی دمور له اوښکو سره ورغلی پاتې شوی .

جنوری لسم ۱۹۹۶

# جهنم دی هر انسان د بل انسان

خپلې تنګې کوټې ته ورننوتلم. د دروازې په بېرته کولو سره مې بدا وله ځنه تريو او ناوړه بوی تر سپږمو شو. بد او ناوړه بوی مې احساس کړ. خپل غوړيدلی توشک ته ورنږدې شوم. فکر مې وکړ چې ګوندې دا بوی زما له تنه او زما له جامو راځي، خو لکه چې کوټې مې ښخوبې هم درلود. ځای ځای ښخيدلی وه، نم جن بوی تری راختلو، ترسپږمو کيدلو. کړکې يې ډير وخت نه وې بيرته شوې، دروازه هم کرې ورځ بنده پاتې شوې وه، خو ما هم ډير وخت ځان نه ووينځلی، فکر واخيستم ګوندې چې ځان مې بوی کوي، او تن مې خولې کړی دی، د خولو بوی دی خو د خولو بوی، د تن بوی د کوټې د نم او ښخوبې سره په ټوله کوټه کې خپور ګيده...

خو چې د کوټې زړې سترنجې، او مسبودې توشک ته مې فکر شو او بيا مې د کاغذ او د زړو اخبارونو ټوټو ته فکر شو نو بيا مې هم په ځان او هم په خيرن تن او

ډیر وخت ناوینځلو جامو ګومان راته. خود کوټې نم، څڅوبې، لوند او د باران څڅوبې وهلې توشک، تړلې کړکې او دغه راز د کوټې، تروه فضا چې زما په څیر یې د هر نوي رانونوتي کس دماغ سیزه.

دخپل توشک او خیرن بالښت ترڅنګ کوچنۍ الماري ته فکر یوړم، هلته مې لاس اوږد کړ. ډیر وخت کیده چې خپل کتابونه مې نه وکتلي ځو محدود کتابونه چې دمخه به مې هر وخت را اخیستل او له خاورو به مې پاکول فکر شو. خوکتابونه پکې سرپه سرا ایښي وو. په کتابونوهم ډیري خاوري پرتي وي. هر یوه د سري لاس توراوه. کتابونه هم نم وهلي وو. لند بل یې اخیستي و. پاڼې یې سره مښتي وي. دا وار ځوشپې، ځو ډیري شپې وروسته دغه کوټې ته ورغلی وم، د پخوا په څیر چې په خپله بسترد کې به پریوتلم. خو دا شیبه څه بل شان احساس راوپارولم. له یوې خوا د کوټې دنمه او لنده بله تر یوبوی، چې زما یې پر ځان او د تن په خولو هم شک راوستلو، او یاد چې زما د تن د خولې بوی هم پکې ورکیده او له بلې خوا سره مښتي او یو پر بل ایښې ځوتوکه کتابونه، هم لانده بریښیدل. وراسته شوي بریښیدل، خو عبث شوي لانه وو. سره مښتي وو، لکه چې په کتابونو هم باران شوی وي. لکه چې باران په همدغه کوټه کې اوریدلی وي. او بیا د دې کتابونو په منځ کې ځای شوی وي.

خو ما یو یورا واخیست، د ځینو پاڼې زیړې شوې وي. د ځینو حاشیې زیړې

شوي وي. لکه په اوبو کې چې لويدلې وي. او په ځينو کې چې په قلم او يا پنسل ليکي کښل شوي وي هغو هم اوبه اخيستي وي. او نشريي کړي وو. لړ څه خراب شوي وو. يو يو مې وکوت. تاريخونه مې وکتل. خو هيڅ يو مې پام غلط نه شو کړي، نور مې واخيستل، ادبي اثار مې وکتل، د شعر په باب کتابونو هم زما پام ... داستانونه، رمانونه ټول مې يو يو را واخيستل. ژر ژر مې وکتل لکه چې په درنګ شيبه کې مې ټول لوستي وي. بلې خواته مې کيښودل، د ښوونځي او بيا پوهنتون د دوري لاس کښلي يادښتونو ته مې پام شو، هغه مې هم وکتل لکه چې د زده کړې، او د کاريوه دوره مې په دې لړه شيبه کې ترنظر او سترګو تيره کړې وي.

نو په دې ټولو کې يوه کتابګوتې ناڅاپې له ځان سره واخيستم، يو ازې کتاب نه بلکې په هغه کې کښلو او لاس کښلو تصويرونو رسمونو او يادښتونو. له راجګولو سره يې وځورولم. زما هم د ماشومانو عادت و، چې کتاب به مې وليده نو اول به مې رسمونو د ليدلو هڅه کوله. خو په دې کې ما خپل لاس کښلي رسم، کوږ وږ رسم کې د يوه نالايق شاګرد رسم، يعنې زما کښلي رسم و، خطونو يې سره توازن نه درلود، زما يې هم له توازن سره کوم سرو کار نه و.

هغه يوازې د يوه انسان رسم و. لاس تر زنې ايستل شوي و، په ملا کړوپ، ښه مې ياد شي په پوهنځي کې، په ټولګي کې مې د درس په وخت کې په يوه سپينه

پانه کښېلي واو له همدغه وخت راهيسې په کتاب کې ساتل شوي و ، خو هغه يو عادي رسم و ، ديوه انسان رسم و . سريې خپلې لمنې ته کښته و ، لکه چې خپل ځان ته ، خپل تن ته او خپل زړه ته گوري کټ مټ همداسې و خو هغه مهال ما ته يوازې يو رسم نه و . يو ياد يې راتازه کړ . يوه يادونه او يوه تيره شيبه يې راته په ذهن کې ژوندۍ کړه او په دې شيبو کې يې د ژوندانه يوې مهمې ستونزې ته متوجه کړم . ځان ته يې راوگرځولم ، او زيات کلونه دمخه د وران يې راياد کړ ، د خپل درس خونه يې رايادہ کړه . د خپل تولگي حالت يې . خپل تولگي وال يې راياد کړل . همغه شيبه او همغه ساعت . يوه په خپله بوڼده رېړه کې لاس واهه ، او داستاد لکچر ته په فکرو ، نور هم غلي ناست وو ، بل په وروستي قطار کې د يوې هم تولگۍ نجلۍ سره خپلې خبرې بس کړې وې . هغه هم غلی و ، خو استاد لکچر راکاوه ، هغه د توري تختې خواته په يوه څوکۍ ناست و . امسا يې څوا کې څوکۍ ته تکيه ايښې وه موږ تولويي لکچر کښېلو . او هغه هم خبرې کولې . نه ډېر فصيح يا يې نه غوښتل واضح خبرې وکړي ، يوازې محتوی يې تشريح کوله ، کله به په ډير زغم جگ شو ، امسا به يې لاس کې ونيوه په توره تخته به يې يو رسم وکيښ . موږ هم د لکچر په څوا کې دغه رسم ويسته . عجيب رسم !! هغه يوازې رسم نه ويسته بلکې داسې رسم چې خبرې يې ورسه هم درلودې . ډېرې له ماناډکې خبرې . هغه زياتې د انسان په باب خبرې کولې او په انسان کې يې د انسان په څيره کې يې بلاگانې ،

دیوان او ښاماران او نور ځیروونکي لیوان انځورول، داسې لکه چې څوک فکر کوي د یوه موجود دژوندي بنیادم په تن کې داسې څه ځای شوي دي چې سړي خوري، کورونه خوري، ښارونه هواروئ او وطنونه او ملکونه...

او له هر څه څخه به یې ترهه زموږ په ټولګي را پلنه کړه. په اتلس شل کسیز کوچني ټولګي کې به مو یو بل ته وکتل. داسې چې له یوه بله به مو ویره پیدا شوه، چې ګوندي دي مې خوري. هغه مې خوري، او هغه دا کار کوي، او ګوندي خپله استاد دا کار کوي.

د ټولګي فضا به سکوت او چوپتیا په سر واخیسته. موږ به ټول غلي وو، هغه چې په ړیره کې به یې ګوتې وهلې او د استاد لکچر او خبرو ته به فکر وړی و، هغه هم غلی و، هغوی چې څنګ ته ناست وو، او هغوی چې د ټولګي په وروستۍ برخه کې یې خپل پس پس غلی کړی و. ټول غلي او چوپ وو. ټول ټولګی چوپ و. ټوله فضا غلې وه. داسې لکه چې آسمان هم لږ را ښکته شوی وي او زموږ د ټولګي پر پاس چت باندې ناست وي. او زموږ حالت ته یې غوږ نیولی دی. لکه چې په لاره تیریدونکې ځلمي او نجونې هم په دې چرت کې دي. هم داسې سکوت یې ټینګ کړی وو، پر موږ هم سکوت حاکم و. ځکه چې د انسان د خویونو درس مو وایه د انسان د روان تجزیه مو اوریده. نو ځکه نوي څه وو. او ټول ورته غلي او چوپ وو.

هغه په خپل لکچر کې هغه وخت چې لاس کښلی تصویر ته به یې ګوته نیولې

او یا به یی د رسم د شاو خوا خپله امسا تاوه کړه نو دا شعر به د خپل استدلال په ترخ کی غبر گ کړ چی :

یوه داچې
داژوند څه دی
یو مو موزه سمندر دی
خو ددی سمندر غاړی پوری لارشته
او ددی لاری ړومبی پړاو دوزخ دی.
بله داچی،
جهنم نه چرته لری دي نه پټ په بل جهان کی
جهنم د هر انسان دی هر انسان ته په خپل ځان کی

او په دی وینا به موږ ټولو یو بل ته سره وکتل. «دیو انسان جهنم په بل انسان کی !!» ټول به فکر واخیستو.

یو بل ته به مو سره وکتل. داسی به موو انگیرله چې هغه چې په خپله بونډه ږیره کی لاس وهی. هغه چې زما په څنگ کی ناست دی. او ټول یو له بله سره یو د بل له پاره جهنم یو او د لکچر په وخت کی به فکر واخیستم. د خپلی خوا او څنگ ته ملگری می ولیدل. لکه چې هر یو جهنم دی، هر یو تنور دی سکروټی دی. لمبی دی.

او د هر يوه وجود په تدريج سره په يو بل څه بدليږي، په يوه اژدها. په يو ښامار چې يو بل ته خوله اچوي. يو بل رانغاړي او يو بل ته ګواښ کوي.

او له دې سوچونو وروسته يو ځل بيا مې د خپل کتاب په منځ کې خپل لاس کښلي تصوير ته فکر شو، لاس کښلي رسم کوږ ووږ رسم، د کوتې نم او بدبوي بلې خواته واخيستم د درنګ شيبې لپاره يې زما د فکرونو لړۍ پرې کړه. فکر مې کاوه چې زما له تنه بوي راځي. ډير وخت کيده ځان مې نه وو وينځلي. احساس مې کاوه چې زما له تنه او زما له جامو دابوي را پورته کيږي، ويښتان مې ببرو، خو د کوتې بدبوي، او نم جن تريو بوي. خوسااو وراسته بوي مې بيا هم فکر يدل نه کړ.

يوازې همدې رسم ته فکرو اخيستم را په ياد شول، داد انسان رسم دی.

«*انسان د انسان لپاره ليوه دی،» په همدې ډول لکه چې يو انسان بل وژني د بل لپاره جهنم دهغه په تن کې دی. دهغه په وجود او ځان کې دی.

او يا همدې تصوير ته فکرونو واخيستم...

يوازې يو رسم. يو کوچنی رسم. د بنيادم رسم چې ښار پکې ځاييدای شي. يوه لويه هستي پکې... وګړي پکې. ګڼ او له شوره ډک بازارزونه. چيغې او کوکارې، دماشومانو چيغې. دهغوی دمازديګر نی لوبو چيغې، خويو کوچنی رسم په يوه «ځان» کې... «زه» يم چې د دې وړيم، چې د ټولو فرماندارشم. لکه چې لاس کښلي رسم راته په کږه خوله ګډوي او راته وايي د انسان يا د بنيادم له

دریزه.

په ټولو حکم وچلوم. ټول باید زما تابع شی. زه باید ددوی« سلطان » شم، چې یم، زه باید ددوی امیرشم چې یم، دوی... دوی ددی ورتیا نه لری چی ځان راپورته کړی اوماته وګوری او ماته مخامخ وګوری.

هو!

« ما » ته زما « زه » ته کتل یعنی دژوند بیه. ددوی دژوند بیه، دوګړو دژوند بیه. ددوی د « ناڅیزه » هستی بیه، دابیه ډیره لږه ده، « زما » دسترګو یو رپ باید ښارونه، کورونه او هر څه راونړوی. چې رانړویی یې، سرکونه باید دځمکی پرمخ تری تم کړی. ژوندی ټول باید او باید سر لاندی پښې پورته کړی. آسمان باید راښکته شی، لمرهم څونیزی، دوی باید ووینی چې دا « زه » یم چې ددی وس لرم او همداسی کولای شم. ددوی وس لرم او داسی حالت راوستی شم... دا « زه » یم« زه » او بیا هم « زه » . خو داوخت چې ډیر کلونه له دی کوچنی تصویر یا رسم نه تیر دی سره له دی چې دایو کورووړ رسم دی خوزه یی تصویربولم، او تصویر یی ګڼم، ځکه چی، خبری لری... او زه یی اوس په خطو نو پوهیږم، ماته یی وختونو او اوږد ووختونو دلوستلو بیا ځلی وس راکړ، او څه بل شان یی لولم سره له دی چې په رسم کی تنبل شاګردوم. خواوس ددغه کاږه واږه تصویر، په مانا پوهیږم، تروه تندِه، زوږند او ربوز، له غضبه ډکی سترګی، بی توازنه اند امونه ، او دچابکی او

تلوار یو تصویر گوتي.

خو ماته پکي داخل ټول تاریخ راتداعي شو. لکه چې سکندر پکي دمور له غیږي پاڅیږي، لوییږي، لښکري راټولوي، او بیا دختیز په لور راز غلي، او داسونو د پښو خړ گرد یې ترشا راپورته کیږي، همدا کوچني تصویر لکه چې کوچني نه دي، اوس هره شیبه لوییږي، او پسې لوییږي، داسې لکه چې اوس د «گوبي» دښته ده. چنگیز پکي زغلي توره یې له تیکي راکښلې، چنوغده یې له ملا تړلي، او په دې لور راځغلي، د آسیا په لور راز غلي، مدرسې ورانوي، ماشومان په زانگوگانو کي وژني، خپل شلگي او نیزه دهغو پرتټر ونو منډي، لکه چې امیر تیمور دي. تصویر نه دي، داسیا یوه څنډه ده. تیمور پکي هند او بغداد ته ځي. روان دي، دلښکرو او رسالو دگرد بوی، کوتې د تروه بوی سره بیا سپړموته راځي، او یانور امپراتوران دي. هند او فارس ته زغلي، سوبې کوي کله منارونه جوړي. او له دغه ځایونو دلته راځي. دلته ماشومان وژني. میندي بور وي. ناوي په ډولیو کي پرېږدي او داډول... او یو وار بیا په کي خپل کلي، قریې بندونه او جوماتونه وینم چې دااورپه لمبو کي سوځي. د تصویر آسمان هم خړاولو گجن دي دلو گولو خړ ونیولي دي. کوچني تصویر لکه جام جم، چې ټوله دنیا پکي بریښي. دنیا پکي په طول او عرض سره، او په هغو ټولو کي یو بنیادم. او په بنیادم کي یوه اهریمني نه ایلیدونکي قوه چې ټولو کلیوته اور اچوي، هرڅه

سیزی. ښوونځی سیزی. کلی سیزی، کروندی سیزی او هرڅه...

همدی تصوراتو لړ څه دنم جنی کوټی دبد تعفن څخه بلی خواته تلم او چې سپږمی می راکښلی بیا می له ځانه بد راغله. چې دابد او ناوړه بوی زما دځان او جامووی، زما دخیرنو کالووی چې په میاشتومیاشتو می ځان نه وو ینځلی، لکه چې اوبه می نه وی لیدلی لکه چې په ځنګلونو کی ووم...

خو بیا تصویر په مخه واخیستم. بیا درسم دویستلووخت ته ورغلم. د یروړاندی وخت، څو کاله دمخه وخت، خپل ټولګی ته، ځواتیمر ګ ټولګی، چې زیات یی اوس ځوانیمر ګ دی دلته نشته، استاد هم نشته، لکه چې ټول« ما » خوړلی دی، استاد هم او یا هماغه رسم او تصویر...

داوړی ټکنده غرمه وه. راښکته شوی آسمان چپ او ساکت او غلی ټولګی، ټول سره غلی ناست دی. یوازی استاد په خپله امسا په توره دړه باندی کښل شوی تصویر ته اشاره کوی. تصویر ته اشاره کوی، تصویر تشریح کوی. انسان تشریح کوی. دانسان جهان او په دی ډول وایی:

چیرته لیری یو لوی ښارو

اوازه یی دښایست خپره هر لوری •

په دی ښار کی اوسیده یو لوی سړی هم

داولس په هوښیارانو کی هوښیارو

سوچ وهل فکر کول یی کسب وکارو
دجهان او ژوند رمزونه لوټول ده
په دفترو په او راقو کتابو کی
یوه ورځ د ورځ یی د اشانی بیان کړو
تر کوم وخته چې دا زمکه دا آسمان وی
تل د هر انسان دو زخ به بل انسان وی

۱۳٦۹/۲/۱۰

# توری جامی

ډیره موده می شوی وه چې خپل زاړه کلي ته نه وم تللی. په دی څو کاله لیرې ولي کې راته دا تنده پیدا شوې وه چې کاشکې خپل همزولي، نجونې او هلکان ووینم. دهغوی مستی ووینم دهغوی رنګه کالي ووینم او کاشکی دخپل ماشومتوب دلوبو او خاپوړوځایو نه ووینم. زه دهمدی تندې سره داوارله ډیرې مودې وروسته، دوختونو وروسته او له کلونو وروسته وررروان شوم.

ډیره موده شوی وه. ان ډیر کلونه تیر شوی وو چې زه په ښار کی په درس ویلوبوخت وم. پخوا به دښوونځی په وخت کی څه ناڅه وختونه په ځینو رخصتیو کی خپل زاړه کلی ته ورتللم خو داڅو کاله کیدل چې له مانه دخپل کلی څیره هیره شوی وه.

داوار چې دخپل زاړه کلی په لورروان شوم په تپوله لاره کی راته، په موټر کی او په تم ځایو نو کی دخپل کلی او کلیوالو څیره نیغه ترسترګو کیده. یوازی په هغوی

مې د خپل ذهن او فکر سترګې ګنډلې وې او بس.

دا وار له ډېرې مودې وروسته خپل زاړه کلي ته روان شوم. رښتيا پخوا چې به د ښوونځي په دوره کې خپل کلي ته تلم دا فکر به راسره وو چې څرنګه خپله زده کړه او ليک لوست د خپلو همزولو په سترګو ومومښم. څرنګه ورته ځان وښيم. خو دا وار داسې نه وو. په دې فکرونو کلي ته لاړ نه شوم. بلکې څه نور شيان راته په ذهن کې ګرځېدل.

زموږ زوړ او روايتي کلی د لوی سړک نه لږ څه لېرې او څېرمه پروت دی. يو څه په پښو منزل غواړي. او زه هم چې د پاخه سړک پر سر له موټر نه کوز شوم راساً د خپل کلي په لور روان شوم. د پلي مزل په لاره هم ټول کلي راته تر سترګو سترګو کېده. دا وار مې په هماغه وسټلونو داسې ځان احساسولو لکه چې اوس هم ماشوم يم، لومړنی ښوونځی ته چې زموږ کلي نه لږ لېرې پروت دي ورځم. د هغه وخت د تګ او راتګ ټول دور راته بيا په فکر کې را ژوندی شو.

د موټر له تم ځای نه تر خپل کورو کلي پورې راته ټول د ماشومتوب وختونه ذهن ته ودرېدل. ادی مې ياد ته راغله چې زما د ماشومتوب او مکتب ته د تللو ټول نازونه به يې وړل خو زه به يې ژړا ته نه پرې ښودم. خو کله به هم له دې ټولو فکرونو او سوچونو سره ځان ته متوجه شوم.

***

خپل اوسنی عمر او د ماشومتوب دوران ته. او بیا به می د خپل ماشومتوب د دوران افسوس وکړ. رښتیا چی ماشومان پاک وی. هغوی د چا خبره پرښتو ته ورته وي. پاک زړونه لري. خو چې رالوي شی بیا د نوروو ګړوخوی بوی واخلی او د دنیا په ټولو شیطانیو کی ککړ شی.

زما به هم خپلی پاکي ته فکر شو، د خپلو همزولو سپیڅلتوب ته به می فکر شو. چی ټول وګړی به می د ځان او همزولو په څیر پاک او سپیڅلی لیدل. ځان او دونیا به می هم داشان. او دي ته به می فکر نه وو چې انسان یوازي نه رالوییږی. هغه وخت زه د شیطان په مانا هم نه پوهیدم. بلکی یو عجیب او غریب افسانوی موجود راته مجسم کیده خو اوس پوهیږم چې د هغه دوران او اوس څومره توپیر دی.

ما ته خپل کلی د خپلو ټولو زړو د یوالونو سره، دورانو کنډوالو سره او د ګنو او رنګینو دیرو سره دورانو او ترلو بندونو سره د یر ښکلی او ښایسته بریښیده. زموږ د کلی په مخکی د نګ چنار هماغه ډول د آسمان سره سیالی کوله، زموږ په کلا باندی پوری راهوی راسورو غرونو د پخوا په څیر ماسپښین لنډولو او مازدیګر یی ژر راوستلو. دا وار هم د پخوا په څیر کروندی شنی وی. غنم زیړو چې کله د غنمو د پټیو په پولو هم زیړی غواګانی هماغه ډول څرول کیدلی. د پخوا په څیر به چې کله د غنمو په پټیو د دری تود باد راوالوته او د غنمو وږی به یی ترنیمایی

پوری کړول او بیا به یې د غنمو د وړو خوږ بوی خپراوه، هماغه ډول دا وار هم کېدل. د هماغه درې بادرالو ته. د هماغه غرونو له څوکو راکوزیده. د هماغه دنګو غرنو له ګنو ځنګلو راپلنیده او بیا یې غنم خوړول.

ویالی هم د پخوا په څیر په شرک بهیدلی. خو یو شی د پخوا په څیر نه معلومیده او زما د کوچنیوالی او اوس په منځ کی همدی یوی خبری له ځانه سره وړی وم.

دا وار چې زه خپل زاړه کلی ته ولاړم، زما همزولی هم زما په څیر رالوی شوی او زلمی شوی وو. ځینی به لیدل کیدل. د پخوا په څیر وستلونو ته لاړم. هلته کیناستم دیرو ته هم ولاړم. په مجلسونو کی می برخه واخیسته او جوماتونو ته هم ولاړم. زموږ د روایتی کلی په مخکی د جمعه خان پښی هتی، هر مازدیګر او غرمه زموږ د کلی د بزګرو او هلکانو د بنډار او راټولیدو ځای وو. هماغه ډول د پښی دبنی په پوټکو ملنډی وهل کیدلی او هماغه شان د سری او سپنی درایستو په موقع ټولو به د شهادت ګوته بنی ته نیولی. هو د پښی هتی می ولیدله، چی د پخوا په څیره به په کی بزګرانو د خپل کرکیلی وسایل جوړول، او زلمی به په کی راټولیدل د پخوا په څیر به یی په کی ټوکی ټکالی کولی.

خو زموږ د کلي زلمي لا هماغه ډول د پخوا په څیر کله چی زه ماشوم وم مست نه بریښیدل. هغه وخت چي لا زه کوچنی وم، ما چی به په وستل کی په دیرو کی او په

لاړو کې او کروند و کې ځوانان ولیدل چې خولې ګانې به یې په ورځو راسوري کړې وې د مرمیو د کې غاړه کې به یې ځنګ ته اچولې وې نو له ماسره به یې هم تنده پیدا شوه ، هو د به مې وکړچې که زه زلمی شوم حتما به خپل پلار باندې خپله ژیړه غوا خرڅوم او په هغه باندې به ځانته تومانچه او د مرمیو د که غاړه کې اخلم.

یو وار مې په یوه واده کې هم ورته ویلې وو ، شیرانو سازکاوه ، یوه تن باجه غاړې ته اچولې وه ، او تومانچه یې هم غاړې ته اچولې وه ، تیروبیر . د یر د ول یې ورسره کاوه ، هغه چې به د یکه زار غږ وکړ نوحتماً به یې دومره تاثیر وکړچې له ناستوکسانو به یوه تن د خپل نرې ټوپک سر پورته ونیو او څو ډزه به یې وکړل.

هغه وخت یوازې په وادونو کې ډزې کیدلې . څومره خوند ورې وې ، دوادونو ډزې.

خو ماته د سازنده غاړه کې اوباجې خوند راکړ ، د پلار غیږ کې ناست وم یو بل تعلیم یافته سړی یې هم خواکې ناست وو ، ما ورته څو واری وویل ، ماته به یوه تومانچه او باجه اخلې.

هاغسې د هغه ولاړ سړې چې غاړې ته یې پرته دد ، هغه سندرې چې وایې . . .

هغه وویل !

پیسې نه شته.

او ما بیا ټینګار وکړ !

خو زمونږ ژیړه غوا خرڅه کړه.

PROPERTY OF ACKU 7758

پلار مې هغه وخت په یو څه بهانه زه په کرار کړم. زما ژړا یې غلې کړه، خو هیڅکله یې بیا ماته باجه وانه خیسته او تومانچې خو اوس...

خو دا وار چې زه کلي ته ولاړم د خپل کلي پیغلې مې هم هماغه شان مستې ونه لیدلې، کله چې به زه پخوا د مکتب په دوره کې کلي ته ولاړم او بیا به په پټو ورسم شوم او یا به د خپل کلي د بندونو او ویالو په غاړو ورسم شوم او د خپل کلي مستې نجونې به مې ولیدلې. د هغوی کاږه اوربلونه به مې ولیدل. د هغوی ګڼې کمیسونه به مې ولیدل، او سره شنه پرتوګونه او ټکرې به مې ولیدل، او چرمه داره کمیسونه به مې ورته ولیدل، په ټکریزو سره لاسونه او د سبو او واښو له پاره د هغوی ځانګړې زولې او مستې خنداګانې، نو بیا به مې فکر کاوه چې خدای تعالی د خپل ښایست پرښتې ټولې زمونږ کلي ته رالیږلې دي، نه بل چیرته.

خو اوس له هغه وخته زیات کلونه تیر دي. ډیره زمانه شاته پاتې ده. نه شم کولی د خپل کلي او د کلي د پیغلو ښایست بیان کړم، هغوی ډیرې ښکلې دي، خو زه د خپل کلي او کروندو د ښایست سربیره د هغوی ښکلا نه شم هیرولی، زه لا کوچنی ووم چې هسې به مې یوه بانه لټوله. چې هم د خپل کلي په ټولو لرو برو ځمکو ګرځم او ښایست وګورم. هغوی مستې هم وې. او ښکلې هم وې. بې پروا او یاغې هم وې او ښځنې حیایي هم درلوده، نه شم کولی هغه د ښار د ښکلیو سره پرتله کړم او یا یې د ښکلا یې ستوره سره یو شان ویولم.

هغوی هری یوی ته خدای زمور د کلي له پاسه د ځلیدونکی سپوږمۍ په څیر ښایست ورکړی وه. زمور د کلي د چنارونو په څیر دنګی ونی یې درلودې، او زمور ددری داوبو په څیر مستي او ښکلي اورښي وی، غرور او یاغی نظرونه یې هم د اوچتو غرونو سره سیالی کوله، اوس هم چې ډیر وخت تیر دی، د هغوی یاغیتوب او مستي نه شم هیرولی، لکه چې یې زلمیٌ نه شم هیرولی.

هغه وخت چې لا کوچنې وم، په ودونو کې به مې لیدلی، په وستلونو کې به مې لیدلی، د ویالو په غاړو او یا به مې په ودونو کې لیدلی او د میلو او اخترونو په ورځو کې په مې په زیارتونو کي لیدلی، زه به د هغو ښایست حیرانولم. فکر په مې کاوه او په شپو شپو او ورځو ورځو به د هغوی ښکلا له ځانه سره وړی وم. هغه وخت به په وادونو کې هم هغو رنګه کالي اغوستل. سره شنه زیړه ابی، سپین... او په اخترونو کې هم. او دا ډول به په نورو د ستورو کې هم. هغوی هیڅ کوم خاص کلیوالی جامی نه درلودی. یوازی به له ډیرو ښکلو نجونو څخه یوی نیمی له ناز او مستی نه خپل سپین مړوندونه په تور کالیو کې پټول.

خو دا وار چې له ډیرو کلونو وروسته بیا د پاخه سرک پر سر له موټر نه کوز شوم او سم دم د کلي پر لور روان شوم. پټی هماغه ډول له غنمو ډک وو، غنم زیړ شوی وو، غرونه د پخوا په څیر به غرور او پرتم سره ولاړ وو، د مازدیګر وروستي زیړی لمر هم د پخوا په څیر تر ناوخته د غرونو پر سر پاتی کیده. ویالی په شرک

بهیدلی. خوړونه ډک روان وو. زیری غوا د پخوا په څیر په پولو څریدلی. د پخوا په څیر د نورو کلیوالو په شان چې هر مسافر کلی ته راته نو لومړی به د کلی زړی هدیری ته ورستنیده. له ماسره هم دغه خاطره را ژوندی شوه. بی اختیاره د هدیری په لور ورستون شوم، ډیر وخت شوی وو، چې زه کلی ته نه وم تللی، هدیری ډکی شوی وی، پراخی شوی وی. زموږ د کلی هدیره هم د غنمو د کروندو په ټټر کی دننه غزیدلی وه، زیاته پلنه شوی وه. په هدیره کی څه نوی شیان بریښیدل، د زړو او نویو قبرونو ډیر توپیر وو، په نویو قبرونو یوازی د ډبرو شناختی نه وی، بلکی بیرغونه او جنډی وی، رنګه ټوټې وی، هدیره پراخه شوی وه. قبرونو او جنډو ته می دوعاو کړه، د یوه نوی تازه جوړ شوی قبر خواته په تورو کالیو کی یوه میرمن ناسته وه، په عمرپخه وه، په مخ کی یی ګونځی معلومیدلی په اننګو یی د اوښکو لاری جوتی وی سکیندی یی وهلی، څو واری می زړه را پورته کړ، د پوښتنی وسه می ونه شوه، ډیر می زړه رالوی کړ.

- ترور دا قبر د چا دی؟

- دا د اسد ځوانیمرګ دی.

مانوره خوله چپه کړه، سپینی می وتښتیدی، د هغی سکیندی ژړا او سلګی زیاتی شوی، زما ټول اندامونه تاوده شول، ژبه می خوله کی وچه شوه. او د بلی پوښتنی متره راکی ورکه شوه.

بیا می زړه صبر نه شو زړه می بیالوی کړ ، پوښتنه می وکړه :
او دا قبر ؟
- دا د منصور دی ،
- هغه هم ځوانیمرګ . . .
- هو .

او بیا می ذهن د ټالندی او برښنا په څیر زما د خاپوړ و او ماشومتوب وخت ته ورستون شو. نور می څه ونه ویل ، د منصور څیره می ترسترګو شوه ، ما او هغه ډیری لوبی کړی وی. په لومړی ښوونځی کی سره په یو ټولګی کی وو. ډیر تکړه او ځیرکه هلک وو. هغه زموږ د کلی د نه را ستنیدونکی کاروان وروستی لاروی وو ، او بیا چې کله کلی ته ورسیدم ، د ټولو کلیوالو په خوله د منصور نوم څرخیده د هغه زړه ورتوب یی ستایه میړانه یی ورته ستایله ، او زلمیتوب.

خو دا وار می په وستلونو کی د پیغلو ښکلا د پخوا په څیرو نه لیده ، زما د ماشومتوب د دوران پیغلی نیمزالی شوی وی ، زامن یی رالوی کړی او زلمیتوب ته رسیدلی وو او بیا . . . نوی تازه هلکان چې ما ته نا آشنا وو ، را پورته شوی وو ، خو دوی هم هغه مستی نه درلودی. هغه وخت یوازی یو شی ته فکر وړی وم ، یوازی یو شی ته . . .

هغه وخت کی چې زه په کلی کی اوسیدم زموږ په کلی کی د کالیو د اغوستلو څه ځانګړی قیدنه وو ، خو دا وار چې زه کلی ته ولاړم ما د پیغلو په تن کی رنګه

کالي ونه ليدل. فکر مي کاوه څه مي ورک کړي دي. کومه خپسه مي په ستوني ناسته ده، چا ته يي نه شم ويلای. خو کله چې مي د خپل کلي د ځونو د ښايست په باب او د هغو ښکلا په باب فکر کاوه. نو يو ناليدلی شي فکر ته راتلو چې په خوله مي نه شو ويلای، او نه مي هم په ذهن مجسم کولی شو.

يوازي په دي به پوهيدم چې د دي کلي زلمو به د غرونو په څير او چتي شملي درلودي. دا شملي اوس هم کوچني نه دي، ښکلي او نيغي وي، خو د پيغلو په ښايست چې د لمر سره به يي سيالي کوله لاسونه يي په نکريزونه وو سره. او کالي يي هم رنګه نه وو.

خو وروسته پوه شوم، د کلي له زړو د يوالونو نه وپوهيدم. له ناستو کنډرو باران وهلو برستنونه هم وپوهيدم چې زموږ د کلي په يونيم وران کور کي له ډنګي ډوال د روازو د ننه ليدلي کيدلي. له بل څه ونه پوهيدم. ډير وروسته د هغو له څيرو او چو شونډو څخه د پراخي او پلني هديري نه. او يا خودي خبري وپوهولم چې کله به زموږ په کلي کي واده شونو کومي ميرمني چې به تور کالي اغوستي وو، نو زوم او ناوي به د تورو کاليو والا ښځي نه مچولو، همدا خبره راته تداعي شوه، همدي دستور، پلنه هديره، وراني کنډوالي، او د پيغلو تورو کاليو وپوهولم چې، کله زلمي جنګ ته ولاړ شي نو هديري پلنيږي او پيغلي بيا توري جامي اغوندي او تور ټيکري پر سر کوي.

۱۰ سرطان ۱۳٦۷

بوداپست – روغتون

# خلاجې

له هماغه وخته چې ښار ته راغلی د هغې په فکر کې شوم. ماته هغه وخت ډېر عجیب شی بریښیده. یوازې په ذهن کې مې د هغه تصویرونه او شکلونه جوړول. ښار ته له راتګ نه د مخه مې ورته نوم هم نه وو اوریدلی. په یوه نیم ځای او یا که کوم کور کې به مې هستی اونګ هم ولیده نو ډېر سات به ورته ودریدم. آواز به یې راته د موزیک په څېر ښکاریده او د هغه د ګوزارونو پراثر به میده کیدونکو شیانو له ځانه سره واخیستم. ډېر سات به ورته ودریدم هغه وخت به مې د ټکوونکو لاسونو ته پام نه و. بلکې یوازې د اونګ لاستی او کتهی ته به فکر وړی وم چې څومره سخته او ریزمریز کوونکی کار دی.

څو چې ښار ته راغلم د غوښې د ماشین نوم مې هم اوریده. چا به ورته د کوفتې ماشین وایه او چا به ورته د غوښې ماشین او چا به به ورته د غوښې خلاجې. د خلاجې کلیمه ماته هم په زړه پورې وه، ځکه چې ما خپل کلي کور کې لیدلی و، او

د غوښې حلاجي هم ما داسې تصور کوله چې ګوندې د پنبې دانې او مالوچو په څير به بيلول کوي.

ما ته هغه وخت چې اوس ترې ډير وخت تير دی ، د غوښې حلاجی هم د مالوچو د هغې په څير چې سپين مالوچ له تورې پندانې بيلوي يو ډول ښکاريده ، ما به فکر کاوه چې د غوښې حلاجي به هم غوښه او هډوکي بيلوي ، او د مالوچو د حلاجي په څير به په اسانۍ تاويږي يوازې لکه وچ مالوچ به غوښه هم بيلوي خو زما نه دانسان فکر بدلوي ، انسان بدلوي د انسان تصورات به لوي ، او دا ډول د هغه هر څه له پخوا سره بيلوي.

يوه ورځ زه هم په سودا پسې بازار ته ولاړم. د کور له پاره مې ډير څه واخيستل څه شيانو ته چې اړوم وامې خيستل ، خو د غوښې د حلاجي پسې مې هم سترګې هرې خواته واړولې. ډير ورپسې وګرزيدم چې څه پياز او نور شيان ترې تير او ميده کړم ما ته هغه وخت د غوښې حلاجي د تمدن نښه وه ، په ليدو پسې يې ليونې وم. او تراوتر ورپسې د قصابانو په کرځوکې هم وګرځيدم ، هيڅ مې ونه ليده. نوره يې هم د ليدو تنده راسره زياته شوه. تلوسه يې راسره پيدا شوه. ماورته د غوښې حلاجي ويله حال داچې هغو لکه چې په بل نوم يادوله. هرې يوې هنې ته چې به ورنژدې شوم چې د غوښې حلاجي شته. ورزوې به يې پورته وغورځولې او ځان به يې ناجانه کړ. هغوې ټول قصابان وو. قصابي يې کولې. خو د غوښې حلاجي يې

نه پیژندله، ما ته به لږ شان ناخبره او بې معلوماتو ښکاره شول په فکر کې به راته د مجلسونو، سالونونو او میلمستیاوو خبرې یادتې راغلې چې د نویو راغلو ماشینونو په باب به کیدلې. ځان سره به مې وویل، نو د وی ولې د خپلې گټې او ښېگڼې څخه خبر نه دی، ولې یې نه پیژني لکه چې کوفته غوښه نه خوري.

ما ته هغه وخت ټول بازار ړوند ښکاریده، ځکه چې د غوښې حلاجي یې نه پیژانده، او په همدې تصور مې ډیر عمر په ښار کې تیر کړ. هرکله چې به په کوم مجلس کې د غوښې د ماشین او یاد غوښې د برقې ماشین خبره یاده شوه ما به ځان ناجانه او ناخبره نه اچاوه. داسې به مې ښووله چې ما هم لیدلې دی او زه هم پرې کله نا کله غوښه حلاجي او کوفته کوم. او چې د برقې ماشین په باب به خبرې شوې نو دوه زړې به شوم: یو به مې خپله ناخبرې راته ودریده چې ما ولې تراوسه د غوښې حلاجي نه ده لیدلې، او بل به مې په ظاهرې توگه له هغو سره سرخو ځاوه چې رښتیا د غوښې ماشین کلکې غوښې نرموي، میده کوي یې، که کانې ورته واچوې هم پکې ایره کیږي.

کله نا کله به ما هم ورته د دروغو کیسې پیل کړې، خو خبر نه وم چې د غوښې حلاجي څه اژدها ده. څومره غوښې له ستونې تیروي، ښارونه تیروي، کلي تیروي او سیندونه تیروي، یوازې دغوښې ماشین نه، بلکې د هر څه ماشین دی، د هستي او نیستي ماشین دی ...

ډېر وخت را باندې همداسې تېر شو چې د غوږونو د حلاجې فکرونو په سر اخیستې وم او د هغه څه په باب به مې فکرونه کول چې مانه ولیدلې. خو یو وخت عجیبو فکرونو پر مخه واخیستم، هر مجلس او هر ځای ته چې به ورتللم نو خپل، اصلي ځان » به مې له، ځانه پټاوه او په دې فکر به وم چې باید هغه وګړم راغلي او ناست ګسان زما په ناپوهي ونه پوهیږي هغوی باید په دې خبر نه شي چې زه یو ګلیوال سړی یم. زه له مدني ژونده ناخبره یم. زه د برېښنا ماشین او په تیره د غوږونو له ماشینه ناخبره یم. زه په الوتکه کې نه یم الوتلی. ماهیڅ نه دي لیدلي. زه په محفلونو کې د خوښیو په مجلسونو کې په نڅا نه پوهیږم. د مست موزیک سره مې تړونه نه دي زده او داسې نور . . .

خو په دې ټولو تصوراتو کې زه د غوږونو د ماشین نه لیدلو ډېر ځورولم، او هغه مې د خپلې ډېر ځورې اوښې اشتهاله مخې هم خوښیده، په دې خاطر مې هم خوښیده چې غوښه مې خوښه وه، او په دې فکر به وم چې کله له دغه ماشینه غوښه تیره شي نو مزه او خوند به یې حتماً نور هم زیات وي.

یوه ورځ په یوه مجلس کې په دې باب او په نورو برخو او د نورو لوکسو شیانو د لیدلو په هکله ډېر پاتې راغلم، ډېر مې ځان کم او کوچنی احساس کړ. ځان راته ډېر عاجز ښکاره شوی وو په خپل پلار او کورنۍ مې منت راتلو چې کاشکې خو یې زه په کلي کې نه وایې زیږولی او هلته یې نه وای رالوی کړی. کاشکې خو یې ماته

ښاري ژوند رابنودلای وای. اوس به ولی د خپلو همزولو په مخ کی دومره کوچنی او کم راتلم... ما خو به هم لږ تر لږه یو څه د «تمدن» علامی لیدلی وای.

ما سره له دی چي څو تولګی ښوونځی لوستلی و او لږ څه په خط کتابت پوهیدم، خو د غوښی د ماشین سره او د نورو ډیرو نالیدلو شیانو سره به یو ځای فکرونو واخیستم، تول ورځ می په تصوراتو کی تیره کړه، وایی چی څوک څه په ویښه فکر کوی نو په خوب کی یی وینی، دا وار پر ما هم داسی وشول، نالیدلی اژدها می ولیده، او د روزګار له تولو خوږو او ترخو تصوراتو یی بیزاره کړم.

***

نن بیا بازار ته راغلم چي شیان واخلم، او په تیره دا وار خو حتماً د غوښی ماشین وویتم، بازار ډیر ګڼ او تود دی، هری خواته چیغی او اوازونه پورته دی. د قصابانو کوڅی ته ورغلم، تولو چرمی سری کورتی اغوستی دی پسونه او غوایی زوږند دی تول په یوه وخت تیری چړی په خپلو څرمنیزو چمتو راکاږی، تیری کوی یی. او بیا غوښه را بیلوی. په یوه وخت کی د هر یوه په خوا کی د لرګیو کوندی لیدی شی چي د تیرو تبر ګیو ګوزارونه پخپل تیر اخلی. غوښی د ماشین خولو ته اچولی کیږی. په لاسونو تاویږی. ځینی ماشینو نه د برښنا په وسیله چلیږی، په خولو کی یی میده غوښی راووځی سری او به تری لاندی لاری باسی. په ککړ او وچتلو لښتیو کی حرکت کوی. تول بازار سور ښکاری، لمر هم سور بریښی رنګی

وریځی هم سری ښکاری، دیوالونه هم سره ښکاری د خوب بستر هم سور دی، او هر څه دا ډول سره معلومیږي.

نه پوهیږم لکه چی ما پخپلو سترګو سور رنګ وهلی وی او که همداسی دی. د هر دوکان پر مخ کی د غوښو ماشینو نه وینم، لومړی خوښیږم، دادی زه یې هم پیژنم ما هم لیدلی دی، څوک وایی چې زه یی نه پیژنم زه خو څه ساده انسان نه یم، د غوښی ماشین څه چې په ډیرو شیانو پوهیږم ګوری په هر څه پوهیږم خو دا دبرښنا په وسیله چی چلیږی وایی ډیر مدرن دی، لکه چې نوی له بهر نه بازار ته راغلی وی.

د قصابانو دوکانونه ډیر فکر ته راځی. د قصابانو د کوځی اخیر او پای نه بریښی ټوله سره معلومیږی. دماشین د جغاری اوازونه پلن دی، په ذهن کی می د غوښو د ماشینونو خولی ورو ورو پلنیږی. غیږی پراخیږی او د اژدها شکل ځانته غوره کوی. ټولی خاوری ځانته راکاږی. ټولی غوښی. ټول ماشینونه یوه خوله کیږی. فکر کوم ټوله کوڅه ځانته راکاږی، ماشن لوییږی، پراخیږی، فکر کوم انسانان هم راکاږی، بازار هم رانغاړی ښار هم راکاږی.

ودانی هم پکی د پیازو په څیر الوییږی. سرکونه هم راکاږی غرونه هم پکی رانړیږی او ښوونځی او د ښوونځیو ماشومان او هر څه ... او لکه چې زما د پښو لاندی سرک هم په هغه لور حرکت کوی، ما هم راکاږی...

خو یو وار ناڅاپه د لویی او اوږدی کړکی سره د خولو نه لوند او جړب جړب په خپل کټ کی راکښینم، د وجود ویښته می نیغ ودریدلی و، شونډی می له ویری راوتلی وی... کاشکی می دغوښو د حلاجی په باب هیڅ فکر نه وای کړی. او کاشکی می نه وای لیدلی ... کاشکی

۱۳٦۸/۱/۱۸

# د زمانو سندره

ماشومان په زانګو کې د امیر تیمور د نامه په اوریدو ویده کیدل. د لویانو به غوږې زیږیدل. په کلیو او ښارونو به دویرې او ترهې اسمان راټیټیده. هغه جبار او قهار امیرو. هغه ته یې جهانګشاه ویل.

کله چې امیر تیور د هند او فارس له نیولو بریالی راستون شو په ډیر پرتم او دبدبې سره «شنه ښار» ته راورسیده. لښکرې او رسالې ورپسې را روانې وې. ستړې او ستومانه راغلې وو. د ملکونو او هیوادونو له لټاړو لوراستون شوي و. لښکرې او رسالې یې هم ساه وتیره وي. ښارونه ټول غلې او چوپ وو. امیر له پرته ډک سفر څخه راستون شوی و.

د ملکونو او هیوادونو او ښارونو او کلیو ګردونه یې په لښکر واورسالو پراته وو. د وګړو او انسانانو، د ژوند یو اووژل شویو انسانانو څیرې یې په فکر کې ګرځیدلې. شنه ښار د هغه فکر بدل نه کړ. یوازې د نورو ښارونو او ملکونو د

نیولو په سودا کی و.

هغه د یوی ویالی غاړي ته راورسیده. یوزوړ نابینا ربابی یی ولید، هغه هم د ویالی په غاړه ناست و د ویالی اوبه ښی په شرک بهیدلی. زمان او ختونه هم ورسره په غبرگه تیریدل، خو زاړه ربابی د خپل زاړه رباب تارونه ترنگول، او د حافظ شیرازی یو شعر یې ورسره په دی حاصل زمزمه کاوه!

دا نړی یوه شیبه اندیښنه نه ارزی.

زما د ملنگی کالی په میو پلوره چی له دی زیات ارزښت نه لری.

امیر د حافظ شیرازی شعر واورید، د بوډا ربابی سندره یی واوریده. په رباب یی سترگی ونښتی، په بوډا ربابی یی سترگی وگنډلی، له اسه واکوزشو. حیران ودرید. عاطفی او احساس یی غزونی وکړی. په فکر او ذهن یی بله څپه راغبرگه شوه. ملکونه یی له یاده ووتل، لښکر یی ټول تم شو. سپه سالاران هم له اسونو راښکته شول. د امیر وچولی ته یی کتل. ټول په حیرت کې ولاړ وو. ټول غلی او چوپ ولاړ وو. په فضا کې یوازی د ړانده بوډا ربابی او هغه د رباب سندره پلنیده، زوړ ربابی پوه شو. خو خپله نغمه یی چوپه نه کړه. درباب په تارونو یی گوتی خوځیدلی لړ حیران شو. خو امیر یی نه لیدلو، هغه ړوند و، او په سترگو یی څه نه لیدل. یوازی د امیر شان او شوکت یی په غوږونو اوریده.

امیر ورنږدی شو، تریی وی پوښتل:

– نوم دی څه دی.

– ځواب یی ورکړ.

– دولت!

– امیر مسته خندا وکړه، د هغه د خندا څپې په ټوله دښته کې پلنې شوې، د وختونو په سینه کې یې د خپلو لښکرو په څیر لاره پیدا کړه، بیا یې خپله خبره غبرګه کړه.

– دولت نو ړوند دی؟

– که ړوند نه وای نو یو ګوډ به یې نه خاوند کیده.

دې خبرې د امیر ټول لښکر راوخوځاوه، ټولو خپلې توري له تیکو راوایستې. سپه سالاران په قهر شول، سپاهیان د خپل غضب تنور ته پریوتل. له قهره د ټولو خولو ځګونه وکړل.

خو امیر ورو خپل لاس جګ کړ خپلو سپه سالارانو ته یې د چپ کیدو اشاره وکړه، امیر تیمور د زروسکه دړانده ربابۍ پر رباب کیښوده. پر هغه رباب چې امیراتوریې ایل کړ، هغه امیراتور چې ملکونه یې داسونو د پښو لاندې کول. هغه د بوډا درناوی وکړ. د بوډا ربابي ترمخ یې ځان کمزوری ولید. او خواشینی ستون شو.

د «بی بی خانم» مینې او عشق هغه خوشاله نه کړ. افسانوي قصرونو د هغه

زره ونه غوراوه، د هند او بغداد بريو هغه ته تسل ورنه کړ، او د هغه قهاره وس او قوت چې د انسانانو له سرونو به یی «کله منار» جوړاوه، هم راضی نه کړ.

امیر غلی خپل اس ته پورته شو، او په لویه او پراخه دښته کی همداسی له سترگو پناه کیده.

دښته داسونو او رسالوگردونو نیولی وه، تور تم جوړ و، بوډا ربابی په بی پروایی سره خپله سندره ویله، او د رباب تارونه یی ترنگول، خو د امیر سکه هم د رباب په توره کتنوه کې ځای نه شوه. او بوډا ربابی بی پروا خپله سندره بلله.

# یو سیوری یو تصویر

هغه له ډیره وخته وروسته دې ښار ته راغلی و. په کوچنیتوب کې له دې ښاره تللی و، دا ارمان یې له کلونو راهیسې په زړه کې غوټه پاتې و، چې یو وار خو خپل مورنی ښار چې د نومړي په کې د اوسیدو مرغ اونصیب نه و، ووینی. له نیکه مرغه همدې لرغونو هیلو او اسرو، د کلونو هڅو او کوښښونو په یوه توره شپه کې دی ښار ته راورساوه. له خوشالتیا نه په کالو کې نه ځایده، هیښ پاتې وچې دا دومره کراړې ستونزې څرنګه یو دم له منځه ولاړې، څرنګه دا ستوغ ګړنګونه او کږلیچونه ورته په هوارو لارو بدل شول. خپل هوډ او د نورو سرشیندنې یې په زړه کړې، له ځان سره یې وویل: هوکې! د وګړو هوډ او تکل ستر غرونه او سرکښ سیندونه هم ایلولای شي، لاروي له ستړي سفر وروسته خپل منزل ته رسوي او په مړاوو ارمانونو کې یو ځلې بیا نوی ساپو کوي.

ښارته له رارسیدو وروسته ډېرې ورځې پر له اوښتې وی، چې هغه د ښار د

ننداري لپاره د ښار پر تنده یو سپور غره ته وروخوت او د خپل لرو ین په ذریعه یې د ټول ښار ننداره کړه. په خپلو لیوالو سترګو یې لاندې پروت ښار ته وکتل.

دده د خاپوړو ښار چې د جګړنو د تاختوتو پراثر پر کنډواله بدل شوی و، په سترګو کې یې او به وګرځیدې، څو سړې ساوې یې وشړلې، په خپل غمجن سوچ کې ډوب شو.

هغهٔ ښار چې یووخت په ښادمنو خنداو کې ډوبیده نن لکه هدیره چوپ او خاموش ایسیده په هدیره بدل شوی، لکه چې ټول ښار د ویر او ماتم ساندی وایی کورونه یې هم په قبرونو بدل شوی او یا د یوه بیرحمه وژل شوی شهید جسد ته پاتی کیده داسی چې د سرله ویښتو هم زیات په ډیرو مرمیو سوری سوری وی او د شهادت د ویلو بی هم څوک نه وی او بی نظمه دی پروت وی. لاس یو چیرته او پښه یی بل چیرته ! او کله خو پری داسور آسمان داسی بریښیده چی هر آن د نیمزالو کونډو او یتیمانو د بی سره او بی تاله آواز د خفګان له پاره خپله پنجه راکوز وی چی ګوندی د ښار فضاورته تتی وریځی جوړی نه کړی او . . .

خو هغه په خپلو زرکینو سترګو د ښار د چوپتیا او سکون تماشه کوله ماتم او غم ته یی فکر نه کاوه. نوموړی داسی احساس کاوه چی ګوندی عقاب دی، شاهین دی، د ښار په کنډوالو الوزی او ټول ښار د هغه مړی او ارواګانی د ښار ټول خځلی او خاشاک، لوړی اوژوری دیوالونه او ستنی، ټول او ټول د هغه د قدرت او عظمت

ننداره کوی د هغه د یوی بریالی داړی په ننداشه دی. دهغه بریوا و په ښار باندی د هغه ذهنی پروازونو هم په نوموړی کی د عظمت او لویې احساس پیاوړی کاوه او د هغه د کمترۍ د احساس جبیره یې کوله.

هغه احساس چی د زمانو زمانو راهیسی د هغه په ختیه اوریښه کی ځای نیولی وخو داخل دغو بریاوو د نوموړی په تن او روان کی منفی احساس ورک کړی وو، او یایی نه غوښتل د خپل تیر په باب آن فکر وکړی چی په ټپی ښار د هغه یرغل د هغه احساس او کړه وړه بدل کړی. فکر یی کاوه چی هغه خو امپراتور دی یو امیر دی یو داسی قوماندان دی چی په امر یی غرونه له ځایه حرکت کوی او سیندونه دریځ کیږی چی، خو د هغه لویی دومره ستره ده چی په هر څه کار نه لری هغه کی د یوه ډیر عالی او بی مثاله امپراتور، مشر او یاسر لښکر صفتونه شته چی له پیړۍ وروسته اوس د ده په ځان او تن کی راژوندی شوی دی. د لویې او عظمت د شان او د بدبی احساس د غرور او د مفرطی خودۍ احساس. دا ټول د هغه په کوچنی تن او وچه ونه کی په زړکینو او له انتقامه ډکو سترگو کی او آن د هغه په ببرو ویښتانو کی تمرکز کړی دی. دا مهال هغه ځان یو فاتح بأله یو سلطان یی باله یو بی مثاله سر لښکر او یا هغه امیر چی د هغه له داړی څخه درویشت زره نه سوه پنځه نوی ورځی دمخه د همدی ښار په یوه څلور لاری کی خپه او په یوه دړه وځړیده.

خو دا وار د نوموړي خپه شوی امیرروح په معقوله (!) او برحق (!) ډول په سالم تن کی حلول کړی. نوموړی امیر سره له دی چی «عیار» (!) او «کاکه» سړی و خو ساده گی یی درلوده. د خپلو حریفانو په وړاندی یی هم له ځوانمردۍ کار اخیست دا سمه نه ده، هغه بی له لیده سړی و. »

دی فکرونو به هغه په سر واخیست ځان به یی بیا هم لوی احساس کړ. ځکه چی دا زمانه ډیر نیرنگونه لری او ددی په نیرنگونو هغه نه پوهیده «نه پری پوهیږم چی دا غرونه، دا آسمان، ستوزی او دا تپی او له زگیرویو ډک ښار دا سیندونه او خوړونه ولی د هغه درناوی نه کوی (!)

ولی نه ویاړی (!)

- حتماً چی ویاړی (!) »

خو کله چی به د ښار په کنډوالو ورسم شو او پری گرځیده به نو بیا به یی د ځان ځانی ښامار «په تن کی داسی ټوپونه وهل چی په هر سیوری دیوال په هره کنډواله، هر دکان او پلورنځی، هره ودانی کی د یوه پیاوړی اتل یوه نابغه او یو دفاتح او یا د اوسنی دوران د یوه ناپلیون تصویر لیده چی دملکونو د ایل کولو وروسته راستون شوی وی. نوموړی په ټول ښار کی یوه ښکلا لیده، یوځه چی د ښار کنډوکپر او کنډر او سوی سکاره بدرنگی پری پټیږی.

خیر دی که سوی سکاره دی خیر دی که په مرمیو سوری سوری دی خو یوه

ښکلا خو لري او هغه په ټولو دیوالونو په ټولو دروازو په ټولو هټیو د بریښنا په ستنو په لاسي کراچیو او هر څه باندې د یوه فاتح او سوبمن تصویرونه دي.

څومره ښکلي دي څومره وړ او عالي دي یو تصویر چې ښار ښکلی کوي او د ښار بدرنګي ورکوي! » خو نوموړی له هغه وخته چې دی ښار ته راغلی و په همدې سوچونو کې په همدې تصوراتو او خیالونو و . ځکه د هغه تصورات او خیالات بې ځایه نه وو. « زمان خو په هر دوران کې یو انسان، یو نخبه یو نابغه او یو اتل زیږوي. ټول انسانان خو د زمان او د دوران د اتل په څیر نه وي. نه، نه! »

« ناپلیون یو وار وزیږیده او د ملکونو سوبې یې په نصیب شوې. خو دې هیواد هم یو اتل ته اړه درلوده. سره له دې چې تاریخ اوږد دی. دا زه منم خو ربښتیا له دې ټولو کوم یوه دومره لویه سوبه ګټلې ده کوم یوه لویه امپراتوري ټوټه ټوټه کړې ده.

هو! تاریخ باید نامرد نه اوسي. تاریخ باید زما په څیر مرد (!) او میړه (!) صبور او بیباک اوسي باید چریک اوسي! او د چریک په څیر حیسور (!) خو زه اوس له خدایه شکر ګذار یم الحمد الله! »

« زه د تاریخ او زمان پوروړی نه یم، بلکې دوی زما پوروړي دي، ما د عصر او زمان له ټولو هوښیاریو کار واخیست او دې وران ښار ګوټي ته په بری سره راغلم. د عقابانو ځاله مې پرېښوده. اوس نو باید دا کنډر کنډر ښار زما منت دار وي نه زه د هغه. زه امپراتور شکن یم. »

« زه یو اتل یو چریک یم، یو قهرمان چې په ساعت ګړی کې د ملکونو پناه کیږم او په عین وخت کې په بیلا بیلو سیمو کې حضور پیدا کولی شم. نو بیا ولې دا ساده وګړي زما د موجودیت شکر ګذاره نه وي؟ خیر دا به تاریخ قضاوت وکړي. تاریخ ښه قاضي دی. » هغه دا ټول قضاوتونه خپل ذهن کې له ځانه سره وکړل. ځان يې د زمان په ټوله بوده او تنسته کې ګزاو ګام کړ د عدالت په تله کې یې وتللو خو بیا یې په وران او سوري سوري ښار کې خپل ذهني سفر ته دوام ورکړ.

« زه پوهیږم د دې ښار وګړي دومره ناسپاسه نه دي دوی اتل پرسته دي. دوی خپل قهرمان ستایي. حتماً چې اوس په هر کور کې دا ښکلې تصویرونه دي. دا تصویرونه چې بې مثاله تبسم لري او د تبسم په حال کې ویستل شوي دي. نو رانیت هم لري، ښکلا هم لري دا موسکا ما نادار دي او ځینې ماناګانې لري او میړونه باید همداسې تبسم ولري. د ښه او بد په وړاندې. څو ک وایي چې ښار بد رنګ دی هر څه ډیر دي ارزانې زیاته شوې ده، اوړه وریجې، غوړي ... او پاپر

او بیا دا ښکلې عکسونه، دا خلک څومره د خپلو اتلانو قدر کوي، څومره یې درناوی کوي نه، نه! خلک خپل قضاوت هم کوي. اشتباه یې نه ده کړې. »

قهرمان یوه شپه اوږود وګرځید. د ګرځیدو را ګرځیدو وروسته د معمول په توګه خپلې قرار ګاه ته راغی. په څو میاشتو کې یې تصورات او خیالات پاخه کړي وو. اوس په دې باور وو چې هغه د زمانې یو بې مثاله اتل دی هغه له خپلو

معجزو (!) ناخبره و خو یوازې همداسې پوهیده چې بې سیاله دې. ستونې ستاغ ځملاست. ستړیا نورو فکرونو ته پرې نه ښوده ستړې ستومانه ویده شو سترګې یې ورغلې اوړود اسویلي یې وکړ. وینې چې:

«یو د اوږدې شملې خاوند چې په تور آس سپور دې شمله یې تر رکابه پورې رسیده زره توره یې له تیکې را ایستې ده. د مرمیو قطارونه یې له دواړو ولو څخه په سینه راځوړند دې. په ډېر قهر وایې:

زه اوس مجبور یم چې ټول رازونه درته ووایم. ته هم ورته اړ دلرې او زه هم ستا روح یم ستا سیورې یم له تاسره یو ځای ګرځم ستا په روح او روان کې ځغلم په هر ځای کې له تاسره مل یم هسې بې ګټې او بې وتې نه بلکې د یوه هدف له پاره د یوه داسې هدف له پاره چې پیړۍ وروسته هم د وګړو د ذهنونو ووځې او تل پاتې شي.

اته زره اوه سوه شپیته ورځې تیرې شوې چې کله زما روح ددې کرغیړن ښار په هغه ځلور لارې کې زما له یوه بله تنه جلا شو. د جلا کیدو په وخت کې مې ورته ستانښه ورکړې وه. چې اته زره اوه سوه شپیته ورځې وروسته به په یوه داسې تن کې چې ببر ویښتان ولرې نرۍ او دنګه ونه ولرې او د مخ بارخوګان یې همداسې وي. هغه به ځوارلس زره دوه سوه پنځه دیرش ورځې وروسته پاخه عمر ته ورسیږي بیا به زما تاج هم په سر کړي. نن له هغه ورځې پوره دوه ویشت زره نه سوه

پنځه نوي ورځي تيرې شوي دي چې زما روح په دغه لنډتن کې کمال ته ورسيده کله چې تاج پر سر کړې هغه به څوک نهويني يوازې خپله به خلک ويني پخپله به پوهيږي چې دى يو سر لښکر يا باتور يو قهرمان او سردار دى. هغه به يو افسانوي قهرمان وي په يو آن کې به له غرونو دريابونو او ځنګلونو پناه کيږي. خو په هر سنګر په هره پرخه او هره دره کې په عين وخت کې حاضر او موجود هم دى. د هغه برياوې به زياتې وي نو اوس ته يې. اوس ستا روح تا ته پټ رازونه وايي هغه رازونه چې غواړم ستا سر پرې خلاص کړم او تا ته يې ماضي او مستقبل ووايم تا ته ستا سيورې ستا روح خبرې کوي!

ته به د هندوکش په لوړو او ژورو والوزې. سترګې به دې له بازانو باج واخلي. توره به دې تيکي ونه پيژني ته په د لښکر وسردار او د عالم افتخار وې. خو يو شي درته وايم چې دغه روح ته دغه له آفته ډک ښار تنګ دى. په دې کې ته نه شې ځايداى. دا ډيره پراخه فضا غواړي ددې روح د غورځنګ له پاره غرونه، ځنګلونه او غارونه هم کفايت نه کوي. داسې نه چې دا روح دې په تن کې وي او د مدنيت او د مکتب په نوم د ساز او سرود په نوم بې مانا مفاهيمو سره ککړ او چټل شي. زه تلوار لرم ته بايد دغه بې مانا شيان ورک او دړې وړې کړې. دا ټول بې مانا شيان دي. دا ددې باتور (!) روح سره هيڅ ډول سازش نه کوي په دې اساس تا ته وايم چې! زه ددې روح د لويي او عظمت په باب درته وايم. دا هر چا او هر موجود کې نه

راژوندی کیږی. په هره پیړی کی څو واره ظهور هم نه کوی. دا داور له ذاته دی، اورونه غورځوی. دی له پیریانو او دیوانو چټک حرکت کوی. ددی روح جسد په افسانوی قهرمان بدلیږی. په هره شیبه چی وغواړی له ملکونو پناه کیدای شی. په هر ځای او هره معرکه کی حضور پیدا کولی شی خو په دی ښار کی دده وجود لکه په پنجره کی بند کړی دی. دی روح چی کله یی په یو امیر کی ظهور کړی او بیا د غرونو سرونو ته ختلی دی په بیلا بیلو زمانو کی را برسیره شوی دی..

کله یی د یو ختنګر په تن کی حلول کړی چی هیڅ کله یی برجوره کلا جوړه نه شوه کړای. او نه یی د ختو چمان په رجو ونښتل. هیڅکله یې یوه ودانه جوړه نه شوه کړای. بلکې په بیلا بیلو زمانو کی بیاهر څه بوس او ککر کړی. ځکه یی د یوه داسی سلطان په تن کی حلول کړی چی راغلی او ټول ښار یی لوټلی او له لوټ وروسته یی بیا اور ور اچولی دی. اور د ښار له لوګو جوړی شوی وریځی او هم په دی اساس آسمان کی ګرځی او کله کله د باران له څاڅکو سره سرپ اوروی.

او کله خو دی روح په یو داسی تن کی حلول کړی چی په کلیو او قریو راسم شوی خو بیا یی ټول ماشومان او تور سری وژلی او د هغو په وینو یی ژرندی ګرځولی دی. نو وا وره داروح عادی روح نه دی. هر وخت په آسانی سره په یوه «پلید» تن کی چی د هیڅ ورانی وس ونه لری حلول نه کوی. بلکې یو داسی روح دی چی کله هم په یوه عاجزه او بیوزلی تن کی حلول کوی. خو هغه چی هر وخت ژی

د غونډې ترسره خيژوي پښه يې خوئيږي او را پريووځي او په وار وار دا کار تکرار وي او چې ستړی شي نو بيا په يوه داسې تن کې حلول کوي چې ټول ښار د قهر او غضب په لمبو کې وريتوي. او دې وګړو ته يو داسې درس ورکوي چې ترابده يې پوهوي چې دوی د څه وړ دي او د څه وړ نه دي!

نو ګوره! هوښيار اوسه، کله چې زه د همدې ښار په راکوز واټ کې په دړه وختم او روح مې له تنه رخصت واخيست ما ورته يوه اشاره وکړه چې په کوم تن او څه وخت حلول وکړي. هغه ټولې نښې نښانې مراعات کړې دي. هغه ته يې سمه ښه يې موندلې وه. نو اوس بايد ته له دې ښاره زما غچ واخلې.

او ته بايد د عقاب په څير له دې ښاره والوزې. له دې سورې سورې ښاره پرواز وکړې. دا ستا وړ نه دي. دا بايد وريت کړې. دا د انسان په خدمت کې جوړ شوي بې مانا شيان بايد که په هر نوم او نښان وي په سکرو بدل کړې. داسې چې د دې ښار وګړي ديوي پيړۍ له پاره آرام ژوندونه کړي ټول سر سانده او ليونيان شي ټول په اوتو بوتو اخته شي.

د بت پرستانو نښانې پرې نه ږدې د ساز آواز وسيلې ماتې کړې د هغو جنډې بايد د دوی دوينو د سيلاب د پاسه نيزه وړې شي.

هيڅکله بايد د کتاب، قلم، او مکتب په نوم بې مانا بنيادونه جوړ نه کړې. سازو اوازو نه کړي. آرام خوب ونه کړي. آزاد ونه ګرځي او د مرميو د ميوزيک پر

ځای بل میوزیک وانه وري. جنګ ویني، وژني، ترور او بربادي داسي افسانه شي چي د زمانو له ذهنه ونه وځي او دا ټولي یادوني ستا له نامه سره غبرګي وي. نو ګوره زه اوس ځم ستا روح یم، زه ستا سیوري یم زما خبري همدومره دي او بس. »

د آس د نعلونو په ټکاري قهرمان هم ورو سر راپورته کړ او بیرته د خپل روح د وصایاوو سره د خپل خوب د تعبیر پسي په فکر کي ولاړ.

۱۳۷۱/۹/۸

«لکه د غني په څیر چې کورېي ځانته غوره کړ او دډېرو ژړو رانیدونکو کورونو څخه د غني کور دی. » «قران کریم العنکبوت ٤٠ آیت. »

# لکه غنه پخپل جال کې

داوړې په تکنده غرمه کې مې په یوازې دنګه او اوچته کلاکې هغه ورځ ځان څه بل شان احساس کړ. لویه، ستره برجوره او ددنګود یوالونو کلاکې یوازې. یوازې د فکرونو او سوچونو سڼه. د کلا د یوالونو هم ښوره کړې وه، خو او چت او سمان څکې ولاړو، چاوونو او درزونو یې د پیړیو کیسه کوله. هواپکې دپ جنه او خپه کوونکې وه. آسمان، لمر سترګه او هرڅه چې پاس او د ځمکې پر سر تصور کیدل، ډیر راتیټ او د کلا په دیوالونو او برجونو بریښیدل، لکه چې په ګرمي او هوایي فشار راوړې وي. ټول په یو ډول خپه او دپجنه فضا کې سره یوې او بلې خواته اوښتل، لکه چې یود بل اواز هم نه اورې. غوړونه هم د ټولو درانده وې، سترګې یې هم درنې وې او نه بیرته کیږې، خو بیایې هم د بیرته کیدو مجال نه درلود. هوا

دېجنه وه، ځمکه او آسمان سره نږدې شوي وو. لکه چې له پېړيو وروسته خپل وصال ته سره رسي. همداسې تصور کېدل. انسانان ټول د مېړيانو په څير په ځمکه رغړېدل. ټول يوې خواته او بلې خواته. په سرکونو لارو، پټيو او پولو، غرونو او کروندو کې، خو حرکت يې نه محسوسيده. داسې نه لکه چې څنګه تصور کيده بلکې داسې لکه ځمکه، او لارې ورسره مرسته نه کوي، او ددوی ګامونه هم له منډې او ځغاستې عاجزوي.

خو هغه څه چې ما ته محسوسه وه، لويه او ستره کلا، دړړو ديوالونو سره همداسې په پرتم او د بدبې سره ولاړه وه، لکه چې نړۍ ټوله همداسې کلاشوې وي. زموږ کلي او مالت او ښار او هرڅه راته کلاشوي وي. ټول پکې يوې او بلې خواته رغړي، خو زه پکې يوازې، له يوه موقعيته، د ځانته والي له موقعيته، د خپل احساس او تصور له موقعيته ځان وينم، او همدا کلا چې په پرتم او سکوت ولاړه ده. په کونجونو، د ديوالونو په چاوونو، د اوچتو ديوالونو په بيخ کې ناستې خزندې فکر کوي چې ګواکې آسمان په همدې بلېو ناست دی. کلايې تينګه نيولې ده. د کلا برجونه يې تينګ نيولي دي، کښته راليدو ته يې نه پرېږدي. نه داسې نه... چې راونه لوېږي، او بيا چې ښوره وهلو د يوالونو ته وګوري نو بيا پرهر څه ترهه پلنه شي. ويره پيدا شي، غوني زيږه شي، او دوجود ويښتان رانيغ ودرېږي. بيروني فضا زما په ذهن اووجود کښيني، زما د تن په پوټکي رابرسېره شي، لکه

چې زما احساس په یوه موقعیت کې دربېږي. زما د تن د پاسه زما په ذهن او شعور کې.

له هر څه مې زیات د تصور او احساس د کلا انګړنه بلکې زاړه د یوالونه ترنوي. هغو چې ډېرا خېرونه یې لیدلي دي، د آسمان لاندې ځمکه کې چې نه خو پرې لمر لګېږي او نه خو تول سیوري، د لمر او سیوري، د لمر او سیوري ترمنځ، لکه د وریځې سیوري، داسې چې تور تم او رڼا یې یو شان وي، هر څه پکې خړاوفو لاړي برېښي، خو دد یوال چاوونه د مېږیانو ځالي لرې، د خزندو ځالې لرې د غنو او غونډلانو جالونو او تنستې لرې، دمچیو او غومبسو ځالې او چکونه لرې، لکه چې څو واري وران شوي دي څو واري رنګ شوي وي، څو واري اور وراچول شوي دي، سېزل شوي وي او بیا بیرته یې پکې خپل چکونه رانښلولي وي. ډېر چکونه پلن او خواره، کاږه واږه چکونه د مچیو چکونه، د غومبسو چکونه او د هغوی ویزوونکي او بوږنوونکي موزیک.

لنده بل ځمکه چې موږ کانو او خزندو پکې لاندې د خپلو ځانونو له پاره ښارونه او کورونه جوړ کړیدي، او بیا د کلا یوې ګجنې کوټې یو کونج، له کړکې څخه پکې لږ شان رڼا ترسترګو کیده. د کوټې په تورتم کې یې یوه نرۍ څیره ویستله خو آسمان پکې نه برېښیده. د سپوږمۍ او لمر سترګه هم نه، ستوري هم نه او باد او باران هم نه. د کوټې دیوالونو هم ښوره کړې وه، لکه زما د ذهن ښوره،

لکه زما د ځان ښوره، لکه چې زما وجود او تنې هم په ښوري کولو پيل کړې وي، او په شيبو شيبو کې ترې خاورې د وريږي.

د کلا د نګ ديوالونه، اوچت برجونه، د هغو له پاسه ناست آسمان، خود کوچنی لنده بل کوتې خپه فضا، د هغې تور بخنه فضا، پولادي رنګه کوټه هرې خواته چوپتيا او بيا کله کله د غومبسو موزيک، د مچيو اواز، د مچانو بنګارې، داسې احساس او دا ډول تصور چې دا هرڅه زما په ذهن کې دي، او يازه په دغو کې، يو بربل کې محو او له منځه تللی يو.

يوه شيبه مې د ټولو په موجوديت کې ځان ودراوه. احساس مې کړ، مچې چې چيچل کوي، نيش وهي، زهر پاشي، پړسول کوي، سترګې پړسوي، چې په سترګو ځوک وچيچي نو بيا يې سترګې درنيږي، او چې سترګې درنې شي، نو بيا ځوک نه ويني، لکه چې موږ ټول مچيو چيچلي يو. ټول يو بل سره نه وينو. خپل د ننه هم نه وينو، بيرون هم نه وينو او په يوه بل څه کې محوه يو.

او که په غومبسو کې، د هغو چک لانه بريښي، له ژورو سوړ وراوځي، بنګارې کوي، شور کوي، که ځوک ورته وګوري نو بيا پرې يرغل وروړي، او د ماشيګنې د مرميو په څير د سرې په ځان پورې نښلي، اور غورځوي، پړسول کوي، وژل کوي، ځومره بده، ځومر ناوړه بې خونده زهر لري، موږ ټول زهر لرو، موږ پخپله مرمې يو. يو پر بل نښلو، يو بل را پرزوو، کاشکې يوازې سترګه وراوير غل

گروای. نه هر یو د بل...

بیا هم په دې احساس کې ورک شوم، له «ځانه» جلا شوم، لکه چې څوک یو څه سره بیلوي. ما هم دا ډول. کله د شیبو له پاره د لږ درنګ پاره غومبسی او د هغو نیش انسان وژني، د هغو زهر هرڅه وژني، زه خو زهر نه لرم، نه شی کیدای غومبسه شم، نه شم کولی کینه ولرم، نه شم کولی خپل کسات واخلم، توان نه لرل، او بې وسي...

خو اوس لا دومره موقع نه شته چې په هغو کې هم ځان وګنم، د هغو په مغزاو روان کې ننوزم، د هغوی جاج هم واخلم، د قضاوت جاج، خوزه له غومبسو، له مچیو لږ څه ګوښی...

خو بیا هم هماغه تور تمه کوټه، هماغه اوچته کلا، هماغه ماحول چې مرغه تري پرنه شي وهلی، دالوتلو مجال نه وي، د کلا او د کلا د دیوالونو سوري او چاوونه، درزونه، د دیوالونو د رزونه، دپ جنه او خپه هوا، د ساویستل په ګرانه بیه د بې ارزښته ژوند په بیه، د نفس ویستل په ډیره بې خوندۍ او پیکه توب سره چې خپه کوونکی مچان هم پکې ښکار کوي، په هرڅه کښیني او پاڅیږي.

زما په خیرن سر، په خیرنو پښو، خیرنو کالیو، خیرن ځان او... او بیا داسې احساس کله چې زه یم د خپل ځان سره لوبې کوم، د ځان سره مشغول یم، نه بلکې هغه مچان نه دي، زه له هغو یو یم، زه له دغه ډلې یم، له دغه ګلې یم، په یو باد سره

ټول پورته کېږو، ټول پاڅېږو، او بیا تښتو، او دروزان او د کړکې تتې رڼا ته راټولېږو، لړې شان خوړې ته راټولېږو، زه په همدوی کې یو یم، له دوی یو یم او دا ډول... له ځانه سره یوکېږم، له ځانه سره لاسونه مروړم، ټول سره لاسونه مروړو او ارمان او افسوس کوو. د څه شي افسوس؟ لکه چې چا څه له موږه تښتولې وي، له موږه یې وړې وي، په همدې تصوراتو کې چې رڼا هم ورکه ده، پولادي رنګه فضا پلنه ده، نه خو لمر شته او نه خو تور تم، د دوا ړو ګډون دی، دواړه سره یو ځای شوي دي او یا دواړو خپل خاصیت له لاسه ورکړی دی دواړو کوچ کړی دی، ځای یې بل څه ته پرې ایښی دی، لکه چې ګوردی، لکه چې قبر دی، داسې نفس تنګوي، لکه چې له ستونې څوک نیول کېږي، زندې ورپریو ځي، موږ ټول داسې وو، ټول سره لاسونه مروړو، له یوه ځایه الوزو، پورته کېږو یا کېنو او بیا پاڅېږو... پاڅېدل، کېناستل، د لاسو مروړل، افسوس کول، له ځان سره بنګېدل او بیا درڼا پسې الوتل...

کرار کرار بیا خپل ځان ته راګرځم، ځان خوځوم، پښې مې خوږېږي، لاسونه مې هم سترګې مې هم په ډېرې سختۍ بیرته کېږي، په خوله مې هم څه شی نه دي ایښودل شوي خو داسې نه، ځان احساس کوم، نه مچ خونه یم، مچان پر ماناست دي زما د ځان خیرې کشوي. د سرد ویښتانو، پښو، کالیو، لاسونو او زیات مې په خوله راټول دي، لکه چې همدلته یې څه پیدا کړې وي، ورو ورو سترګې راکاږم،

لکه چې دډېرې سختۍ نیشي او خمار وروسته سړی راجګ شي، دراجګیدو وسه ورسره نه وي، هماغه کوټه، هماغه دیوالونه، هماغه ستره کلا او د هغې پربرجونو ناست آسمان، برجونه، مغرور برجونه، آسمان یې کلک نیولی چې پر کښېته دیوالونو راونه لوېږي، او بیا د دیوالونو ترمنځ سوړی او د رزونه خراب نه شي او شوره وهلې دیوالونه پر ځمکه ونه لوېږي.

د تنګې کوټې د چت لرګو بشونوګیاه او توري کوټې ته فکر واخیستم. داوارمې بیا هم د مچانو شخه، د هغو له بنګاري نه ځان رابیل کړ، «ځان» راسره نه و، بې ځانه داسې لکه چې روح مې حلول کړی وي، یا لکه چې د خزندو روح په ماکې حلول کړی وي. همدا ډول سرکاوته، سرګردانه پټې سترګې، په خولو کې غوپه په خپلو خیرنو جامو کې تاو یو خیرن او چټل او ببرسری بې خوده چې د لاس او پښو د خوزولو وس نه لري. داسې په همدې ډول کله کله په لنده بل د کرښو ویستل، د میږیانو په جنګ اچول، یو میږي له بل سره مخامخ کول، لکه د روم امپراتور چې مریان سره په جنګ اچوي، او بیا له دغه جنګ هم یوه ترخه کرکه لري. د ترخه ماحول د فضا او هواڅښل. څرنګه په سختۍ له ستونې تیرېږي. لکه چې د میږیانو سره زه جنګ کوم، زه هم د میږیانو په څیر په خپلو ښکرو لارو ینم، او له اوږد وواټنونو د غنمو دانې خپل کورګې ته راوړم، لکه چې د میږیانو د کورګې په مخکې پرتې دی او په همدې ماحول کې د غنو ځالې، هرې خواته پلنې

ځالي، په هرڅه او هر ديوال په هرچت او هر څه پلني ځالي، د غني ځالي . . .

اوس نو دا په زړه پوري ده، اوږده تارونه د کوټې په هر کونج، هر ديوال او هر لرګي کې ځغلول شوي دي، په خړه پولادي رنګه درنده فضا لکه د اوسپنو او پولادو د تارونو په څير درانده ښکاري. ورته ښه ځير شوم. په نيمه بيداره حالت کې ورته ځير شوم. ځان مې هم ورسره په ښکي احساس کړ، بلکې په هره ځاله کې د ديوالونو د درزونو په خولو کې، د مچيو او غومبسو د چکونو په خولو او ګرد چاپيره غني.

غني هم روح لري، هغه هم يوه حشره ده، د هغې سا بايد ونه ويستل شي، د غني کور بايد ړنګ نه شي، په سختۍ يې جوړ وي، په خواري يې او بې . . . خير دی که له پښو لاندې شي، خو څوک نه چيچي. د غومبسو په څير چيچل نه کوي، او غنه خو بيخي جواز نه لري، چې څوک يې مړه کړي.

د غني تارونه، جالونه او ځالي هرې خواته خپرې وي. تارونو يې د دپ جنې هوا په څير زما د سترګو، خولې، پوزې، غوږونو او مخ په وړاندې هم ځای نيولی دی. لکه چې له ما څخه هم راچاپيره شوي وي، لکه چې غني زه هم په خپلو تارونو کې راښکيل کړی يم. زه يې هم د يوې مچې، د يوې غومبسې، د يوې خزندې او يوه ميږي په څير راښکيل کړی يم. ټول تارونه يې له مانه ګرد چاپيره تاو دي. داسې يې کلک ښکيل کړی يم لکه پولادي او اوسپنيز تور رنګه، خړ زنځيرونه چې يې

زما له ځانه او زما له تنه تاو کړی وی، او یا یې زما د ذهن او شعور له پردو تیر کړی وی او بیا یې پکې زه سوټ بوټ تړلی یم.

همدا ډول کرار کرار پکې خپل ځان ورکوم. ځان پکې محو کوم. په یوه نرۍ پرده، د غنې د ځالې په یوه پرده بدلیږم، روح مې هم د یوه سترې او سیلې په څیر بهر پاتې کیږي د غنې له ځالې بهر، زه یې له پښو او لاسونو سره پکې ښکیل کړی یم، څرنګه نه شلیږي؟ ولې ترې بهر او لاندې نه لویږم؟ ولې د خپل روح سره نه یو ځای کیږم؟ او ولې ترې ځان نه شم ژغورلی.

خو ددې ټولو تپوسونو ځواب بیا هم د غنې په ځاله کې دی. د غنې ځاله چې حشری رانیسي، د هغو سا اخلي، او بې یې لاشونه په ځالو کې د ماشومانو د ځانګو په څیر ځنګیږي او روح یې بهر پاتې کیږي. اوس زه هم داسې احساس کوم. د خپلو لاړو په اثر ځانته ځاله جوړوم. زه هم په غنه بدل شوی یم. ځانته کور جوړوم، د غنې د ځالې په څیر، په اوږده بوده او تنسته کې، په دپ جنه هوا او فضا کې په راښکته اسمان او راپورته ځمکه کې، د غنو د ځالو سره د غنو په اوږدو ځالو کې، همدا ډول په تروه او ترخه فضا کې، لکه د زهرو ګوټ چې کوم، لکه خوسا او وراسته شراب چې زما له ستونې نه تیریږي، خو سترګې پټوم او څښم یې.

په همدې ډول راپورته کیږم. د شیبو څخه یوه څکه کوم. د زمان شیبې له ستونی تیروم، شیبې زغمم، او بیا بیرته د غنې په څیر، نه بلکې «زه» یوه غنه

لکه تولی «زه» یعنی غنی هر یوه ځانته ځالی جوړوی، تارونه یو بل خواته کشوی، یو او بل لوری ته یې کاږی، او په یو او بله خوا کې یې ځغلوی، په ډیرو منډو او ځغاستو تړړو او هڅو سره یوی خواته او بلې خواته کشوی، هرڅه چې د غه فضا ته ورننوزی، هغه هم پکې ښکیل کیږی. او بیا څه وخت وروسته یې کالبد لیدل کیږی. یو سپک لاش یې پروت وی او زه هم په دی ډول فضا او ځاله کې ځان وینم.

د غنی هره ځاله هری خواته ځاله او په هر څه کې د هغې تارونه داسې بریښي چې زما له ځانه او زما له تنه تیروبیر شوی وی، او زما د خولی په لعابو. نوزه هم غځیږم، نوره هم اوږدیږی، او نور هم تاو راتاو کیږی، زما له ځانه تاویږی او په همدی تاوولو کی نوری خځلی او خزندی وینم چې له مودو مودو پکې نغاړل شوی دی، حرکت یې له لاسه ورکړی دی، ځان خوځولی نه شی، په ډډه اوښتلی نه شی، او همدا ډول یې خپل روح او نفس له لاسه ورکړی وی.

خو زه هم چې په خپله ځاله کی راگیریم، په خپلو تارونو کې ښکیل یم، د خپله لاسه زنځیرونو کی تړلی یم، او په خپله په یوه غنه بدل شوی یم، زه یې هم انتظار باسم، داسې انتظار چې کله یو ماشی رابرابر شی، یوه کوچنی حشره رابرابره شی، زما یوه ذره وینه وځښې سا ورکړم او بیا زما کالبد زما د اوږدو پنجو او کوچنی جسامت سره په خپلو تارونو کی همداسې وزانگی. کیدای شی، لمر راختلی وی،

فضا بدله شوی وی، هوا صافه شوی وی، گرمی لری شوی وی، برجونه په بیخ ناست وی، ښوره وهلی دیوالونه هم په بیخ ناست وی، خو زه به همدا ډول خپلو تارونو کی وزانگم، ټولی غنی به وزانگی. هغوی چې د نفس ویستلو هوابندوی، جالونه او بی... غنی چې یو عمر یی زحمت ویستلی وی، اخوا دیخوا یی خپل تارونه ځغلولی وی، او خپل ځان یی پکی راښکیل کړی وی، نورې حشری پکی رانغښتی وی، اوړد جال یی خپور کړی وی او یوه نیمه پکی پخپله په بی سا ډول زانگی، په بی ساه او بی روحه توگه، روح ورته له جاله بهر گوری هغه یی وینی چې دوی غنی اوږدې پنجی او کوچنی جسامت همداسی په ټالیو کی دی، ټالی وهی، په خپل او بدلی جال کی او پخپله او بدلی ځاله کی...

همدا... او همدا ډول

۱۳٦۹/٤/۱٤

# خونړۍ شپه

سهار چې لمر لا نه وو راختلی د ډزو د ندو کار دلړو سره يو ځای شوی و.

چو په چو پيا وه ، د شپې سخت جنگ تير شوی و. د بی بی مهر و غونډۍ او د مرنجانو د غونډۍ ترمنځ او د کابل د نورو جگو ځايونو څخه د يو بل په لور سختی مقابلی شوی وې.

ډيری مرمۍ د ښار پر ديو الو نو مښتی وې. ماشومان ، تورسری او نارينه ټول له ښاره وتلی وو. کورونه شړېږاته وو. سهار مهال چې لمر ځړيکه وهلی و. اورپکی سترې ستومانه په کوڅو راسم شول . يوه کورته ورننوتل. هلته ؤگرځيدل. بيا له هغه ځايه راووتل ، بل کورته ننوتل . هلته يې هم څه ونه ميندل . يوازی له يوه کوره يې ځوجوړه ښځينه جامی ، ښځينه جورابی او واسکټونه په لاس کی نيولی وه . بل ته يې وښودل ، يوازی همداوو. خو ابل ورته په ټينگار وويل :

- جيبونه دی ډک ښکاری ارومرو چې د کار شيان دی له ځانه سره ساتلی دی ،

سمه نه ده زه یې قوماندان ته وایم. آبل په جدي لهجه وویل :

- نه په خدای که به مې نور څه موندلي وي نور څه شي نه و.

هغه بیا خبره غبرگه کړه :

- ارومرو چې ووبه. په توره شپه خو هغه کم بختو تول کور نه شوړلای.

ښه یې وگوره !

ما خو پیدا نه کړل ، ځواب یې ورکړ :

بل ورپسې شاته ولاړو. هغه په لاس کې د ماشومانو څوچاکټونه نیولي و .

بل ته یې اشاره وکړه:

واخله دا دي ماشومانو ته یوسه ! زما خو نه په کاریږي .

دوه دري کسه توپک والا چې وربوزونه یې هم تړلي وو په بل کور ورسم شول. هماغه کورته ورننوتل چې څوورځې د مخه پکې یوزلمي نوی واده کړی و. کور خالي پروت وو ، تول کور بانه تري تښتیدلي و. ډ ک کور تري پاتې و.

یوه ورځ په همدغه کور کې د واده نه ترمخه ساز وسرود غږ یده ، د ساز او اواز په اوریدو د کورخواکې اوریکې بې له اجازې کورته ننوتل ښځې او ماشومان یې وچنگول ، شور او پکړ پورته شو. د کور خاوند یې د ښځې په مخ کې د توپکو په کونداغونو وواهه ، د هغه جرم دا و چې سندر یې یې ویلې او موسیقي یې غږوله .

دا وریکو په نزد هغه ناسم کار کاوه ، د مخالف کاريې کاوه ، هغه ویل سندرې

باید وانه وریدل شي ، په طبله یې دماشیندار برچه ښخه کړه. او په ارموینه یې موزې کیښودې. ټوله یې ماته کړه. دکور خاوند یې له ځانه سره پوتلو او ښه یې وواهه داوارهماغه اورپکي په دغه کور ورننووت ، هغه ته دکور کونجونه ښه مالوم وو ، په ټولو کوټوکې دنورو انډیوالانو سره وگرځیده .

دآوخت په کورکې له واده نه څو ورځې تیرې شوې وې ، خلک او خپل خپلوان ډلې ډلې دواده مبارکۍ ته راغلي او تللي وو. خو دامهال دواده له خاونده ډک کور پاتې و. یو تن دکور په دروازه کې ودرید ، دوه تنه وردننه شول .

هماغه اورپکي چې دې کورته دمخه هم راغلی وو او ماشومان یې چنگولي وو ، لومړۍ دناوې کوټې ته ورننووت ، دخوب دپالنگ خواکې یې په هنداره کې وکتل ، ورینه خولۍ یې پرتنده سمه کړه. بیا یې بیرته کږه کړه ، ماشیندار یې د اوږې پورې ونیو او بیا یې بیرته لاس کې وینو په هنداره کې یې خپل بیلابیل حالتونه ولیدل داسې معلومیده. چې زیات خوند یې ورکړی وي ، زلمیتوب ! ماشینگنه ، دکور خالي انگړ او بیا خپله څیره. دخوب نه ډکې سترگې یې په هنداره کې ولیدې. دې حالتونو هغه ته دلویې احساس ورکړ.

بل ملگری یې وگرځیده ، هغه لومړی دسینگار دمیزله سره دسینگار او ښکلا ټول شیان کښته راوغورځول ، پښې یې پرې کیښودې. او ریز مریزیې کړه. یوه دسرو گوته چې دمیزله پاسه پرته وه ، ژر یې راواخیسته او په جیب کې یې واچوله

اخوا دیخوا یې غلچکې سترګی وغړولی ، په کوټه کی دروازی ته مخامخ یوه تابلو ځوړنده وه ، په هغی کې کلیمه طیبه کینل شوی وه. هر مؤمن یې په لیدلو سره زمزمه کید و ته رابلل کیده .

پربل دیوال هم یوه تابلو ځړیدلی وه ، دبیړۍ تابلو چی نیمه په سمندر کې په غوپه کیدو ده او نیمه هم بهر. ما نوګان په ډیر هیجانی حالت کې دی . هری خواته لاس وپښې وهی ، خو بیړۍ دسمندر تل ته ورننوزي.

آخواته په ښکلی او رنګ شوی دیوال یوه بله تابلو هم راځړیدلی وه .

چې یو ځلمی دیوی پیغلی سره سیوری او تروږمۍ حالت کی خوله په خوله دی سپوږمۍ د راختو په حالت کی وه. خو په تابلو کی یوه د بل لاس ښه کلک نیولی دی. او جلا کیدو ته ځانونه نه پریږدی. په تابلو کی دمینی ابدیت ښودل شوی او چې کتونکی ورته ښه ځیر شي نو بیا پوهیږی چی د تابلو دتصویر هدف څه دی؟

خو اور پکی ځوړندی تابلو ته د ماشینګنی برچه ور لاندی کړه ، هغه یی را وغورځوله ، او په کانکریټ یی هنداره ټوټه ټوټه پریوته.

هو ! دا دناوی کوټه وه. چې د سری برستنی څخه لا د عطرو بویونه ختل. برستن یی په قهر په لغته ووهله. له پالنګ نه یی اخواته کړه. د ناوی د تنړ واسکټ یی هم دماشیندار په میله کی راجګ کړ او ملګری ته یی وښوده. دی ته لا ګوره ! »

وروسته بلې کوټې ته ورننووت. هلته دکتابونو الماریۍ وه. د کتابونو ډکی الماری دی. قران کریم او تفسیرونه هم پکی وو . خو له هغه سره د نورو کتابونو او

قران پاک توپیر نه وو ، نه پری پوهیده چې څه دی. الماری یې رانسکوره کړه. پرته له دی چې پوه شی. پاڼې یې ورته وشلولی. د ماشینګنې په برچه یې څیری کړی. په کوټه یو انځور چې خول یې پر سرووا ود زیری له سپینو تارونو یې هیبت او عظمت بریښیده ډیرېې ورته ونه کتل. د ماشینګنې د برچې په ورورلو یې پری د خپل قهر او غضب تنده ماته کړه. هغه یې هم په ځمکه راوغورځاوه.

په کتابونو یې پښې کیښودی. داسې بریښیدل چې په کور کې یې زیات څه ونه میندل. له قهره تنور و ګرځیده. هغه په ډیره هیله راغلی وو. د غنیمت په هیله. فکر یې کاوه ډیر څه به ومومی. ډیر څه به ترلاسه کړی. خو لکه چې هیڅ یې ونه میندل.

د کور په مخکې یې پرندو خاورو ته پام شو. بل ته یې وویل:

دلته یې څه شی نه وی ښخ کړی.

هغه ځووب ورکړ:

– نه صیب دلته یې پرون دوه ماشومان ښخ کړل. په راکټ لګیدلی وو.

– هغه هیڅ افسوس ونه کړ. ورته معمولی شان خبره وه. یوازی همدومره یې وویل:

«دی احمق ته ګوره: خلک پیسې او سره زر راټولوی. خو ده راته کتابونه انبار کړی دی.»

همدومره یې وویل: د کور دروازه یې په لغته ووهله. او بیا له کوره ووت.

۱۳۷۳/۷/۲۴

# يه لاروېه!

زښـتـيـا تـه زمـونږ له کلي راغلې . هلـتـه دې څـه ولـيـدل . کله زمـونږ له کلي راووتې. هملتـه اوسيـدلې اوکه زمـونږ د کلی له لارو اووستلونو څخه راتير شوې. رښتيا خبره وکړه هلته دی څه وليدل. کليوالو څه خبرې کولې څه يې ويل او دڅه په باب يې انديښنه کوله .

ټولې خبرې راته وکړه ، دختونو وختونو خبرې وکړه او دډيرې مودې افسانې راته ووايه . راته ووايه چې زمـونږ په کلی څه تيرشول. دتوقان او وباکلونه څرنګه وو ، ستـا دې په خداې قـسم وي يه لارويه چې مـا تـه دخپل کلی دټولو وړوزړوحال ووايه . هله ژر شه ،چې ستـونی مې نـور راډک شو ستـا پـه ليـدلو مې اوس ټول لوی کلی پـه کـوچنی ذهن کـې ټالې وهی . هر کـانې او بوټی مـې بې واره پـه خـوله کی وچيږی او نور څه نه شم ويلای .

لاروی ددی او ترو خبرو په اوريده سره سوړ اسويلی وکيښ ،دمه يې جوړه کړه ،

دیوال ته یې تکیه ووهله اوبیا په چرت کې لاړ ، لکه چې فکر یې کاوه له کومه ځایه خپلې خبرې پیل کړي خو له یو څه ځنډ نه وروسته یې همدومره وویل :

ټولې خبرې به درته وکړم مه وارخطا کیږه. زه همدلته یم . لرې چیرې نه ځم. حتماً یې درته کوم ، له یوه سره یې درته کوم ته مه وارخطا کیږه.

لارویه ستادې په خدای قسم وي ، چې ماته دخپل کلي احوال ووایه ، راته ووایه چې څه دې ولیدل ، ستا په لیدلو سره پوهیږې چې زما کو چنی ذهن اوس یوه سرسبزه ورشو او دره شوه ، چې ډکې ډکې ویالې په کې بهیږي. ګنې ونې په کې ولاړې دي اوس داسې خوږ اوشیلې ته ورته دي چې شرنديې او به په کې تیند ک خوري. ټول کلی په کې ځای شوی دی، ډیری اوحجرې یې په وګړو ډکې دي. وستلونه یې دماز دیګرنیو میلو او ټوکو ټکالو محل دي. او داټول ستا دلیدو له برکته اوس زما له ذهنه نه ځي . نو ... یه لارویه ! کله چې ته زموږ دکلي له څنګه راتیریدې هغه شپولونه و او که نه ، دکلي برګ سپي درپسې ونه غپل او که ته هم ورته اشناوې .

– هیڅ مه وارخطا کیږه ، همداسې چې ته یې وایې دکلي کیسې ډیرې په زړه پورې دي او په یوه یادوه ساعتونو کې پای ته نه رسیږي ، دکلي کیسې له هغه وخته چې انسان لومړی ژړا وکړې تر څو چې حق ته ځان سپاري، دوام کوي. نوزما او ستا دکلي کیسه هم اوږده ده. ته مه وارخطا کیږه. زه یې درته کوم ، ته

به یې ووینی ته ډاډه اوسه !

لارویه ! ستا خبره سمه ده ، چې دکلی خبره دانسان دژوندانه په اندازه اوږدوالی لری. نه خلاصیدونکی ده. خونن مې ستا په لیدلوفکر او خیال څه بل شان شو. ذهن مې اوس زمونږ دکلی هغه پلنی هدیری ته ورته دی چې پلار ، مور ،نیکو نه او ټول کلیوال په کې په خواره خوب ویده دی. درنې درنی شنا ختی پری ولاړې دی . - هغوی هیڅ خبرنه دی ، خو ارواح یې یی هر ماښام دتنبو شاته راځی - او دکور نیو ددعاو په اوریدلو بیرته ستنیږی .

ربښتیا چې اوس مې ذهن هغه خندک ( سرک گوتې ) ته ورته دی ، چې زمونږ دکلی خلک په کې ډله ډله تیر وبیرکیږی، زما همزولی هم په کې منډی تړری کوی ، مستی کوی خندا گانی کوی او یو پربل ټوکی او ملنډی وهی. اوس مې په ذهن کې هماغه همزولو او دکلی تنگوکو څو ، ختهینو دیوالونو او په دیوالونو کې دغومبسو ځالو ځای نیولی په غوږونو کې مې دغومبسو بنگاری انگازی کوی نه یې شم کولی چې له ذهن یې وباسم یا هغه لاروته چې په کوچنیوالی کې به پری ښوونځی ته تلم . نو ځکه ته اوس په خپله کیسه وکړه ، چې څه حال و.

-لاروی : زه به هیڅ هم له تانه پټ نه کړم ، ټول واقعات به درته په مخ کې کیږدم ، تاته به دکلی ټول داستانونه ووایم . دکلی دخلکو داستانونه ،

دکليو داستانو نه لکه زما دکلي او ستا دکلي دونو پاڼې. لکه زما او ستا په کلي دراسواره اسمان ستوري. لکه دکلي دهوامرغان خو ته صبر وکړه. زه به درته ټول داستانونه induced ووايم. خبرې ډير دي، و ختونو او زما نواوس ډير داستانو نه جوړ کړي ډير کيسې يې زيږولي دي او زه به دکلي دونو کيسې درته وکړم. دپټيو، لارو، سړکونو، پلونو او بندونو، دښوونځي ستادهمزولو، زما دهمزولو، دکليوالو دمستيو او غمونو، دنجونو دميلو او ماشومانو، دسپين ږيرو دنصيحتونو اوصبرونو او د ځلمو د غورځنگونو او غيرتونو دکلي دسپو دوفاداريو کيسې، داټول به درته وکړم، زما دکلي او ستا دکلي کيسه به درته وکړم. هيڅ تلوسه مه کوه، ټولي به درته وکړم اويوه به هم پاتې نه شي.

لارويه! ستادې په خداى قسم وى چې ماته دکلي د برگ سپي کيسه هم وکړه او داهم راته ووايه چې ايا اوس هم زموږ دکلا دمخه چنار په جگو ښرونو کوترې کښيني او که نه، ايازموږ ددرې په غرونو اوس هم بازونه الوزي او که نه يادغرونو په ترږکي اوس هم دپخوا په شان سيسې او تنزرې نارې وهي او که نه. يا په ويالو کي اوس هم او به په شرک بهيږي او که نه. يا زموږ دسيمې سيند هماغسې په مستۍ غورځنگ وهي او که نه. او زموږ کليوال په کي دپخوا په ځير خپله جاله دسيند په پراخه زولۍ کي لاهو کوي او که نه.

گوره لارويه! رښتيا دتروږمۍ په ځير مې ذهن ته راځي داسې مې په ذهن کي

اوړی راوړی لکه دوریځوپه لړو کی چې یوځه وینم ، هغه وخت چې لازه ماشوم وم ، شونډه می لانه وه توره شوی ، کله چې به دکوم مشر سره اویابه دخپل پلار سره دسیند غاړی ته لاړم نو په سیند کی به مې دلرگیو تېلونه لیدل ، نو راته وو ایه چې اوس هم زمونږ دسیمی په ځپانده سیند کی دلرگیو دگوردموجالی تیند کونه خوری اوکه نه. ذهن ته می راځی چې ډیر لږ به داسی پیښ شول چې یو چا به یو ځوک بې گناه وواژه نوسیند ته به یی واچاوه خوسیند هیڅکله پیښنه نه پټوله ، هغه به دیوه رسوامشر په توگه دبی گناه مړی په ځنگلو کی ونیو او دخپلو ځپو له پاسه به یی ټول عالم ته ورښکاره کړ ، نو نه پوهیږم چې دسینددود خو به تغیر نه وی کړی او ایا گناهکار او بی گناه دواړه به رسوا کوی او که نه .

خو رښتیا لارویه ، راته ووایه! حتماً یی راته ووایه چې زمونږ دکلی هغه ببر سری لیونی به چیرته وی . آیا اوس به هم ژوندی وی اوکه نه . هغه چې په وستلونوکی به ناست و ځمکه به یی کری پری کوله. تیره لرگی به یی په لاس کی و او په فکر کی به ډوب و ، له هیڅ چا سره به یی خبری نه کولې یوازی له ځان سره به اخته و یو یادوه ساعته وروسته به یی سررا جگ کړ ، لمرسترگی ته به یی وکتل ، له ځان سره به وبوږنیده همدومره به یی وویل « ځه ځه ته ورځه زه همدلته یم » او چی چابه پری غږوکړ چی لیونیه ښه چارې ، نو هغه به کله کله له ځان سره وبوږنیده او همدومره به یی وویل ، « ښه چاری ، ښه چاری – او ښه چاری ، نو دی

لیونو ته ګورد ښې چارې چرته دی ښې چارې او ډیر ښې چارې به ووینې . څه لرې نه ده ، وربه شې خبر به شې » او بیا به دځمکې په ګرولو اخته شو.

نویه لارویه! راته ووایه : چې هغه لیونې اوس چرته دی . هغه مړ دی که ژوندی. که ژوندی وی چرې دی که مړ وی نو قبریې معلوم دی او که نه .

- ته مه وارخطا کیږه ، چې ژوندی یې ډیر څه به واوری او ډیر څه به نور هم ووینې. دهغه لیونې کیسه به هم درته وکړم. هغه لیونې نه بلکې غیرمعمولې بنیادم و - هغه ټول حقیقتونه په بله ژبه اوبل شان ادا کول. چې عادی خلک پرې هیڅ نه پوهیدل. ماهم هغه وخت ډیر پخواکله به چې دکلې له لارو تیریدم په وستلونوکې به ناستو ، او له ځانه سره به بونګیده .

- هو : ربنتیا چې هغه عادی سړی نه و ، هغه عجیب بنیادم و. په هیڅ چایې کارنه لاره اونه به یې له چاسره خبرې کولې ، یوازې دلمر سترګې په لور به یې کتل. یوازې دسهار او ماښام اندازه به یې اخیسته ، هیڅ چاته به یې دخبرو کولو اجازه نه ورکوله. کله کله به دکلې ماشومانو زوراوره خو هغه به دماشومانو دډیرو ځورونو په وړاندې هغو ته مخ راستون کړ اوهمدومره یه یې وویل :

یه هلکانو ولې چیغې وهی او څه ته شور کوی. مامه ځوروی ! ماپریږدی چې ... او بیا به له ځانه سره وبونګیده عجیب کلې عجیب یې ماشومان او عجیب یې لویان . ټول په خپله ... لاس وپښې وهی. دومره نه پوهیږی چې لمر له کومه ځایه

راپورته کیږی او په کوم ځای کی غوپه کیږی او بیاه به یی خپله خبره اوږده کړه ، له مباخه غواړی ورشی په هغه چاپسی چې له تاسویی په ژوند ونی ساه اخیستی. تاسی یی زندی کړی یاست ، خوزه دمرګ له پاره شپی سبا کوم ، دمرګ له پاره .

دکلی ځینو پخو کسانو به ویل : دی لیونی یوه ً شپه خضر (ع) په ویښه لیدلی دی او له هغه وخته په دی خوا داډول دی له چاسره خبری نه کوی او نه په چار کار لری. خو ځینو به لالیونی هماغه شان لیونی باله .

نویه لارویه ! ډیر به خوشحاله شم که دهغه لیونی کیسه راته وکړی ، او داهم راته ووای او ربښتیا راته ووای چې زموږ دکلی ځوانی پیغلی شوی دی او که نه ، او که پیغلی شوی وی نوهغو په خپلو لاسونو دواده نکریزی ایښی او کنه، او هغوچیری خپل او ربلونه خواره کړی وو او که نه – چې زموږ دکلی ځوانی دپخوا په شان خپل ګو درته تللی او که نه او که نه تللی علت یی څه و اوکه تللی نو هماغسی ډلی ډلی به تللی اوکه یوه نیمه به په کی نه بریښیده ، ته ربښتیا ووایه .

ته خبریی چې هغوی به پخوا په ګودر کی او د ګودر په لاره کی د خپل قسمت او تقدیر فال اچاوه. ډیر وخت کیږی چی په دی باب می څه نه دی اوریدلی.

خو کله چی کوچنی وم نو دا خبری به می ډیری اوریدلی. چی کله به غلچکی ورتلم نولیدل به می چی هغوی د خپل قسمت فال په ګودر کی لیده . د ځینو به ښه فال خو وت خو دځینو به ډیر خواشینوونکی و. او تر بل ګودر ته تر راتلو پوری چی

فال به یې ښه نه وو ختلی فکر به لاهو کړی وی. نه پوهیږم چې اوس څرنګه وی. ایا ته تری خبر یې او که نه! داهم راته ووایه.

- هو زه به درته داهم ووایم. ته رښتیا وایې. زمونږ کلی هماغه ډول ولاړ دی. لیکنه نه ښوری. حرکت پکی نشته. ځلمی هم پکی نشته. او پیغلی هم تری تللی دی. ښنی ونی هم ولاړی دی. خو پاڼی نه لری. سیند هماغه شان مست روان دی. خو چپه کښ پکی نه مالومیږی. او نه خو پکی دلرګیو تلونه شته. کلی تش او ډنګی ډوال ولاړ دی. د کورونو په انګړونو کی اوس واښه راشنه شوی دی. د جومات دروازه ډنګی ډوال پرته ده. د کلی په مخکی لویه حجره شاړه پرته ده. دیری ورانی او باری یې نړیدلی او پر بیخ ناستی دی. اوس هغه سپین ږیری هم نه ښکاری چې پخی پخی خبری به یې کړی. هغه درنی پګړۍ هم نشته. هدیری پلنی شوی غځیدلی او په کروندو کی ورننوتی دی. سرګونه او لیاری او بوړی دی، او کلی په کنډواله بدل شوی دی.

همزولي دي نه بریښیدل. وایې چې نجونی لمځي او برستنی پر سر له کلی وتلی دی. پته یې نشته چې چیرته تللی دی تغری ساړه پراته وو. په ګودر کی هم لنګی سپې په یوه ساه غپل او کورنچار یې کاوه. په لیوني جنډی ولاړی وی. او وایې چې تبو نیولی کلیوال یې زیارت ته ورتلل. وایې چې لیونی مړ دی خو ځینو ویل چې ژوندی دی. هغه وخت چې لا کلی ګڼ و لیونی و مړ یوه کلیوال وویل هغه ما

پخپلو لاسونو خاورو ته وسپاره. خو نورو بیا ویل چې هغه ژوندی دی دشپې مهال اوس هم درمندونه ساتي. او به په پټو سموی دغلو مخه نیسي. او کله کله په زیارتونو او هدیرو کې لیدل کیږي. ځینو خلکو ته ځان ښایي او هر څوک یې نه شي لیدای.

خود پیښو پوښتنه نوره مه کوه. کلی وران دی. څه دیوه برخه، څه د بل برخه، او څه پاتې د لیوني برخه ده. چې اوس د چاخبره د هغه پکې قبر دی. او د شپې مهال یې پکې سیورې گرځي. کلی تور سکاره، شاړې کنډوالې او تشې کوڅې او بې اوره نغرې.

۱۹۹۳ اکتوبر - کابل

# ترهه او ککره

هغه د کوټې پر دیوال باندې پرهغه انځور سترګې، وګنډلې چې د یو شلیدلي پټکي د ښتن ګونځې ګونځې مخ او ننوتو سترګو راوتلو بار خوګانو په شکل کښل شوی و ، دیوال همداسې د پسرلنیو بارانونو په اثر چې څڅوبو پرې لارې جوړې کړې او په ځینو ځایو کې د تېک وهلو میخونو او کړکیو سوریو ژوبل کړي و هغه یې په فکر کې له ځانه سره یوړ. داسې بریښیده لکه چې له نوموړي څورند انځور سره دزړه خواله کوي او یا دهغه بیا نول غواړي . دانځور زوړ کاغذ هم لوګیو تک زیړ اړولی و . دسپین ږیرې بوډا دانځور په سترګوکې بیا ډیره اوږده ماضي بریښیده . دږیرې رنګي رنګي تارونه یې راځوړند ایسیدل . ما یواوربیا دهغه پام ځانته راواړ اوه او ومې پوښته! لکه چې ډیر ستړی یې ؟

هغه نور څه ونه ویل یوازې همدومره یې د سر په نغوته راوپوهول چې کیسه درته کوم . هغه چې له اوږدو شپوو رځواو لیرې لارو له منزلونو ستړی ستومانه

رارسیدلی ودخپل ښارګوتې کیسه یې په دې ډول پیل کړه :

یو سهار و ، خلک ټول له محلې څخه تښتیدلې وو . دمرمیو او باروتو بوی لا په محله کې همداسې خپورو . امه شمه پکې نه وه . کورونه بیرته پراته وو ، په کورونو کې هیڅوک نه اوسیدل . ان زاړه بوډاګان او سپین سرې هم ترې تښتیدلي وي . دشپې دډزو دسخت زور له امله خال خال او څاڅکي څاڅکي ویني هم پرتې وې ، څو تنه ټوپک والا چې وړیني خولۍ یې پر سروی دلمر څرک سره پرمحله راسم شول دپوچکواو دهاوانونو د ټوټو ننداره یې کوله دوی ډیر درانه په لاره تلل لکه چې محله یې فتح کړې وی او بیګاه شپه یې سترګې هم نه وی ورغلې . په کوڅه کې هیڅ څوک نه بریښیدل هلته دکورونو مخ ته دچتلیو په ډیران کې دوه ځاربه سپي هم لګیاوو . خوله یې وهله چې له لیرې به یې څوک ولیدل نو یووار به برګ شول او بیا به وغوزیدل ، تور کارغه هم ورته په بلۍ ټغیده ، خو دکورونو میرمنې نه ویې چې دکارغه په ټغیدو ورته پوښتنه پیدا شي او د هغه تعبیر وکړي . دکوڅو دیوالونه ټول سوري سوري وو . دنوي کال ورځې رانژدې وې خو له مې جوړوله چې پوښتنه ترې وکړم ، خو زه له هغه سره سترګه په سترګه کیدو پر مخه واخیستم ، سترګو ته یې ځیر پاتې شوم پرلوغړن مخ یې چې خاورو او دوړو پرې پنډ پرده جوړه کړې وه داوښکو نروب پرې راوڅڅیده سترګو ته یې همداسې ځیر پاتې شوم خو زما ستونی هم له غریوه ډک شو .

روزي گل د پاخـه عـمـر سړئ و ، دوه زلمي زامن يې لا د مـخـه په جنگ کـې ځوانيمرگ شوي وو ، دهغو ځوانيمرگي ډير کړولي و له وړې کورنۍ سره تراوسه پخپل ځای کې پاتې و ، دهغه خبره چې زه له ښاره نه وځم خيردي که لوږه او تنده وي ، زه دخپلو ځوانيمرگو زلمو پر قبرونو ملنگي کوم. نه پوهيدم څه سبب و چې روزيگل خپله ملنگي پېښوده او له خپل مـالتـه يې اوس پښې راسپکې کړې دڅوکالو خونړيو پيښو ډزو ، مړو او ژوبلو او چاودنو يې عمرنورهم اړولی بريښاوه ، دږيرې سپينو تارونو يې پر تورو زياتي کاود ، د مخ گونځې يې د کږوږو لارو په مثال وې ، دمخ باړخوگان يې راوتلي وو . يوه شيبه يې دزړې کوټې پر راڅځيدلي ديوال سترگې وگنډلې ، داسې معلوميده چې يو ځلی بيا هم دخپل سر گذشت او ترخه سفر ذهني غبرگون کوي دهغه په ننوتو سترگو اوراوتلو کومو دمخ په گونځو او لوغړنه څيره کې ژوند ترخه حکايتونه خوندی و. ژرمې ستونی صاف کړ ، ومې پوښته :

– روزيگله کله را روان شوي ؟

– کابو يوه مياشت وشوه خو همدانن راورسيدم . بيا يې په کرار کرار دخپل راتگ کيسه پيل کړه ..کابو يوه مياشت وشوه خوهمدانن راورسيدم . زياته لاره مې پلې ووهله او کله نا کله موټر هم پيدا کيده . زه پر چپو لارو راغلم او دادی اوس د شورماشور ښارته راورسيدم . ياهغه چوپتيا او ياداشور . ما يې خبرو ته

په ارامه غوړنیولی و ، داسې ایسیده چې دویلوله پاره ډیر څه لري او دډیروور ځوخبرې کول غواړي . کله به یې د کوټې دديوالونو پر مخ دراڅڅیدلو اوبو لاروته وکتل او کله به یې دهغه دمخ په کاسه کې نویو پیدا شویو ګونځوته او کله به یې دمخ کاسه دوطن دخونړیو پیښو هنداره شوه چې تنکي ماشومان په کې سوځي، اوځینې په کې دچور تلان او په غنمیت پسې سرکاوته ځغلي. دی فکرونو به زما غونې نور هم ځیږه کړل . نه مې غوښتل چې نورې پوښتنې ترې وکړم خو دخاپوړو دکوڅې کیسه زما له اندځخه نه لیرې کیده نابېره به یې وهڅولم چې دناخوالو په اوریدلو باندې ځان پوه کړم : اوستا ماشومان څنګه وو ؟

داوار دهغه پرمخ داوښکو سیلاب راوبهیده .ستونی یې راوپړسیده ، لکه چې غوښتل چې څه ووايي خو خبره یې مرۍ کې زندۍ شوه ، یوازې دومره یې وویل : نور مې مه ځوره سملاسي مې خبره واړوله .

معلومیږي چې دلارې مزلونو ډیر ستړی کړی یې هو ! کله چې راروان شوم عجیبې پیښې مې لیدې په دې ډول چې دشنې چایو له پیالې څخه یې په سختۍ سره ګوټ وکړ. خبرو ته یې دوام ورکړ : هسې سر سره لوبې کول دي ، په یوه ځای کې کله چې موټر یو تنګي ته ورننووت دوه کسه چې پیږ پیښوري څادرونه یې له ځانه تاو کړي وو دګاډي مخې ته ودریدل . ډرایور ته یې دکوزیدو اشاره وکړه ، هغه ورکوز شو نور ناست کسان هم کوز شول . یو تن را دمخه شو ، بل ترې

وروسته ودریده ، وروستي د پیښوري څادر پلولیرې کړ . ماشینګنه یې راوښوده ، د پیسو ټولو لو اشاره یې وکړه یوازې همدو مره یې وویل زمور حق ! مور ټول یې دوسلې په را ښودلو وګواښلو ، ابل لیرې ولاړا و خپل شرطونه یې یودوه درې کړه اوبیا یې غاښونه وچیچل. له دې سره سم یې بیا ستونی وپرسیده اوښکې یې بیا پر مخ را روانې شوې، له خبرو سره یې غونې هم ځیږه شول پر خپله خولې یې لاس کیښوده پر خپل سر یې ښه جوته کړه شونډې یې وچې شوې دویرې څپه پرې تیره شوه . بیا مې وپوښته نو هغه څه ...... هغه ډیره بوږ نوږې ننداره وه چیرته مې په ژوند کې هم داسې نه و لیدلې . ماشومان له ویرې لړزیدل بیا مې ترې بې واره وپوښتل : نو ټول یې ووژل ؟ نه ! هغه ته یې دمرګ وحشتناکه څیره په مخ کې ودروله . مرګ یې وروښود غاړه یې صافه کړه او دخبرو په دوام یې وویل : هغه بل چې شرطونه یې شمارل هغه هم ورو د پیښوري څادر پیڅکې کوږ کړ . خو هغه ماشیند ار ونه ښود ! روزیګل سترګې پټې کړه وریږدیده ، زه یې هم اریان کړم . خو د هغه لاس په وینو ککړ و ان تر ځنګلو پورې دوینو داری وی بیا وریږیدیده سترګې یې پټې کړې. داسې وریږدیده لکه چې همدا شیبه په هماغه تنګې کې دسړک پرسر ولاړوي او ټوپک والا ورته یومخ دمکې ورکوي. خو بیا یې خپلې خبرې ته دوام ورکړ . دڅادر پیڅکې یې لیرې کړ دڅادر د پیڅکې په لیرې کولو سره یې د موټر ټولې سورلۍ ته دهغوی بر خلیک وښوده او بیا چوپ شوه زه هم

اريان شوم يوازې دومره مې وویل په خبرو پوه نه شوم .

هو ! هغه د پېر پېښوری څادر د پېڅکې په ليرې کولو او دوینو د ککړ لاس په ښودلو د یوه بدمرغه سرنوشت غمیزه راوښووه : د موټر سورلی ټوله چوپ ولاړه وه داسې لکه چې د ټولو خولې ګانې له سرونو څخه جګې دریدلې وې او د تن کالي له خولوخیشته شوی وی . چلوونکې د موټر ماشين غلی کړ خو د شوکمارو هیبتنا کو څیرو اووحشی کړنو ټول لاروي هک پک درولي وو . ما هم ځان داسې احساساوه چې ګوندې پرمځکه ولاړنه یم له مځکې څونيزی پورته یم ، آسمان هم څرخي خو د دغو کسانو د لاس ننداري راځنی هر څه هیر کړل یوازې دومره پوه شو چې یوه کس وویل : که د قومندان صيب حق ! پری نه کړی نو دا به موسرنوشت وی. وروستي دهمدی خبرې سره له خپلی اوږی نه پېښوری څادر وغورځاوه. له دې سره زما پرسترګو توره تیاره کښيناسته . ټول ولاړ کسان راته سرچپه ښکاره شول موټر هم .ځان هم ،او دوی هم. کله چې ما دهغه وروستي کس په لاس کې د یوه ښکلی ببر سر ي زلمي له ورمیږ څخه غوڅه شوې ککرۍ ولیده .

پیښور ۷/ ۷/ ۷۵

# ما ته د ځنګ پوره کیسه وکه!

بیګاه شپه می بیا می کوچنی لور ځنګ ته راغله. د کیسې ویلو غوښتنه یې کوله په ټینګار یې غوښتنه کوله. چې ارو مرو ورته کیسه وکړم، دوختونو د پرون کیسه. د پیښو کیسه او د زمانو د ناخوالو کیسه.

لومړی ونه پوهیدم چې ولې او ځنګه ورسره بیا د کیسې د اوریدلو تنده پیداشوې ده. خو په ډیره مینه یې غوښتنه کوله ډیره تنده یې ښودله، چې کیسه ورته ووایم او د تیرو شپو په څیر یوار بیا یې د کیسې په اورولو د خوب غیږې ته وسپارم خو بیګاشپه څه بل شانی وه ددې پر ځای چې ویده شي او خوب یې یوسي، د زیات وخت له پاره یې خپله غوښتنه همداشان تکرار وله.

وروسته وپوهیدم چې داخل ټینګاریې د ښوونکې د خبر و سره اړه درلوده ښوونکی ورته د تاریخ په باب او د تاریخې کیسو په باب څه ویلي وو. داسې چې

کله یې پخپله تیری ورځی دښوونکی سبق او په ټولګی کی دهغه خبری اویا په تورو دړه دځه لیکلو کیسه کوله ، ماورته په ځیر ، ځیر غوږ اېښی وو . ډیرورته حیران شوم ، دهغی احساسات هم بورنید ونکی شان وو ، کله چی به یې په خپله خوند وره ژبه یعنې دماشومتوب په ژبه دټولګی دښوونکی او په دړه باندی دهغه دانځور کښلو جریان وایه نو پخپله به هم پری ډاراو ترهه لاسبری شوه . هغه به یې وریږ دوله اوزما په غیږ کی به ښه راټوله شوه . خوداخبری یې ټولی ددی په خاطر کولی چی دهغی په ذهن کی ښوونکی دتیر وخت یو داستان راژوندی کړی وو . په ډیر تینګاریی راته ویل چی نن شپه به هماغه کیسه راته کوی . نه . نن دی نه پریږدم . ارومروبه یی راته کوی . او اوږده کیسه به راته کوی.

ما به ځان په ناګاروکی واچاوه او پوښتنه به می وکړه !

کومه کیسه ؟ اوڅومره اوږده کیسه ؟

هماغه کیسه چی تاراته ویلی وه هغه چی تاویلی ووچی داکیسه په کتابونوکی وه . اودادی هم راته ویلی وو چی دارښتیانی کیسه ده ؟ هماغه راته وکړه هغه ډیره اوږده او تر سهاره پوری هم نه خلاصیږی.

پوه شوم اود وار وار پوښتنو په اثر می ټینګارهم واوریده وی ویل ښه هو ! مونږ ته نن مالم صیب هم دخپل وطن نقشه په تخته کښلی وه .

اوزموږ دوطن د تاریخ کیسی یی راته وکړی هغه موږ ته وویل چی تاسی به

هر یوسبا ته یوه یوه تاریخی کیسه راوړی ،خوما ته به هماغه کیسه کوی چی یووخت دی په کابل کی راته کړی وه.

زما دکابل کیسی ډیری خوښی دی هغه می له یاده نه ووځی. هماغه کیسه چی تاراته دکتابونو په کوټه کی کړی وه . او تاراته ویلی وو چی یو با چاوو یو یی ډیر هوښیار وزیر وو ، دوزیر یوه مور وه . دوزیر نوم حسن وو ،که بل څه ! ما سملاسی وویل حسن نه حسنک به وی !

هو! هو ! همدا دی حسنک چی دباچا زوی پری په قار وو او مورییی وه

-ښه نور څه ؟ ما وپوښتله:

نور څه نه ، ما ته مالیم صیب ویلی وه چی همدا کیسه به ته زده کوی ، او بیا به یی خپلو ټولګی والو ته وایی . مالیم مور ته لږ شان دا کیسه وکړه . هغه دا هم وویل چی دا کیسه نه زړیږی، دا به هر وخت دخلکو په یاد وی ښه نو مالیم در ته نور څه وویل؟ مالم صیب ډیری خبری کولی ، اوس ټولی زما په یاد نه دی خو یو رسم یی وکاږه .

دڅه شی رسم ؟

مالیم صیب مور ته دتختی په مخ یو کتاب رسم کړ وی ویل دا تاریخ دی . تاریخ ټولی کیسی له ځان سره ساتی ، تاسی هم دتاریخ په شان کیسی یادی کړی ګوری چی له یاده مو ونه ووځی .

ښه !اونور....

بیایي د تختې بلې څنډې ته زموږ دوطن نقشه رسم کړه . په منځ کې یې ورته دوه لرګي رسم کړل ، اودلرګو د پاسه یې بل لرګی رسم کړ ، له هغه نه یو پړی راځوړند شو او په پړي کې یې یو بنیادم رسم کړ چې سر یې ورته په پړي کې بند کړی وو.

دځوړند سړي پښې په ځمکه نه لګیدې . مالیم صیب وویل چې په تاریخ کې په دې ډول خلک اعدامیږي .

دماشومې وارونه شو ، ژر پاڅیده اوخپله چټله کتابچه راواخسته په یوه پاڼه کې کټ مټ هغه کښلې وه .

ماته ښکاره شوه چې هغې ته دا کیسه دښوونکې له خبرونه دهغې په ذهن کې راژوندۍ شوې ده .بریښید له چې هغې په دې ډول دخپل هیواد تاریخ په مفهوم پوهیدلې ده همد غه تصویر دهماغه ښوونکي خبرې ، هماغه دوه لرګي ،اوهمغه ځوړند سړی ،دهغې دوطن دماضي ژوند ی تاریخ دی . هغه شیبه همدې افکارو دهغې دکوچنی ذهن دکوچنی نظربو ده اوتنسته جوړه کړې وه فکریې کاوه چې تاریخ یعني : یو کوچنی وطن ،چې دتختې په مخ هم ځایدای شي . په هغه کې دوه لرګي ایښودل شوي دي چې ټوله نقشه اورسم یې ډک کړي وي.اوددوه لرګیو ترمنځ دهغه انسان تالي وهي اوځوړند وي .خو هغه لاکوچنی ماشومه وه درې

ځلور ټولګۍ یی لوستی وه.

دوطن تصویریی دمسافرت اولیږ دیدنی کلونه ورو ورو پری منځلی وو اویو وار بیا یی پر ماغزو وکړاوزماد فکرونو لړی یی پری کړه . ښه نو اوس خو راته کیسه وکړه . هیر دی شول . هغه کابل کی چی به دی ماته کوله ،هغه دکتابونو کوټه کی ،یوه ورځ چی دی ماته کوله .یوکتاب درسره وو اودهغه له مخی دی ماته کوله چی یو وزیر وو اویووخت یو باچاوو دوزیر یوه مور وه .مور یی دخپل زوی پسی ډیر وژړل .خیردی نن مور ته مالیم صیب هم دا کیسه کړی وه .ته یی هم وکړه .هماغه چی تاراته کابل کی کړی وه .

ماتری وپوښتل ؟

ښه نو کابل څنګه ځای دی ، ؟

اوس می په یاد کی نه دی پاتی .ښیسته وطن دی .خوزمور پکی ښیسته کوټه وه .نورمی څه نه دی یاد .

نو اوس زه تاته څه کیسه وکړم . ؟

اخ هیر دی شول هغه دباچا اودوزیر کیسه .

-تاته خومالیم صیب کړی ده نو ما څله زوروی ؟نو ولی بله کیسه نه ؟

نه بله کیسه می نه خوښیږی همدا کیسه می خوښیږی همداکیسه راته وکه .دامی ډیره خوښه ده . ځکه چی ډیره خوږه ده .

-نوخوږوالی په څه کی دی ، ؟

- خوږوالی یی په دی کی دی چی په اخیره کی سړی ژړوی . ماهم ژړوی داسی می ژړوی لکه دوزیرمور چی ژړاکوله .

نوچی دومره دی زده ده .بس دی همدا کیسه ده اوستاهم زده ده .

(حتمی )راته وکړه دادیره ښه کیسه ده .زه یی هم وژړولم .نن . نه ته یی اتمی مونږته مالیم صیب په نقشه کی داکیسه رسم کړه په هغه کی یی پړی او دوه لرگی رسم کړل اویو سړی پکی ځوړند وو .زه یی په صنف کی وویرولم مافکرکاوه چی سړی همداسی لوییږی او تږوله کوته نیسی .زما نور تږولگی وال هم خپه شول .

نوهسی رسم ته خپه شول ؟

نه خو . . .

خوزه وپوهیدم چی دا وخت دهغی په کوچنی ذهن کی یوازی یو رسم اوانځور نه وو .بلکی دیوه وطن انځور ووچی اوس یی دتږولو انسانانو نه یوتن جوړشوی اوهغه یوتن هره ورځ دهماغه دوه لرگو په منځ کی تالی وهی .زوح تری الوځی اوبیا په کړس کړس خپل جسد ته خاندی .

* * *

نه پوهیږم چی کوم وخت هغی ته ما دحسنک کیسه کړی وه .حسنک دغزنوی محمود لوی او باتدبیره وزیر وو .

محمود په هر کار کی دهغه نه سلا او مشوره اخیسته . دهغه عقل او تدبیر ددرباریانو اودهغه دولیعهد دکینې اوحسادت سبب شو . تول په دی لته کی وچی دهغه چاره وکړی دمحمود له مرګه وروسته کله چی مسعود پاچا شو دهغه یاران اوسلاکاران سره راټول شول اودهغه له پاره یی چاره او تدبیر وسنجاوه . کله چی حسنک دمحمود په وخت کي مصر ته تتلی وو . دغه سفر د هغه د بندیتوب له پاره ښه پلمه شوه . حسنک دخلکو په زړونو کی ځای درلود . ځکه هوښیار اوبیدار وزیر وو .

کله چی مشر سلطان مړشو نوی پاچا مسعود په تخت کښیناست ، درباریان او دبوسهل زوزنی اود هغه دیارانو مشوره هریوه دوزیر له پاره دسختی سزا غوښتنه کوله . تول په دی سلاشول چی هغه دقرمطی په نوم ووژنی . ځکه چی هغه مصرته تللی و . هلته چی دقرمطیانو حکومت وو . داورته ښه بهانه وه لومړی یی هغه ونیو بندی یی کړ . بیا یی دخره له پاسه کیناوه دخلکو لوی لښکر دهغه پسی روان وو ، درباریانو امر وکړچی هغه په ډبرو وولی . دښارخلکو چی په وینو ژړل لاسونه یی ډبرو ته نه ورتلل . تول دغم او قهر له لاسه شنه وریت وو . تولو ژړل په وینو یی ژړل . خوپر هغه دهیچ چا لاس پورته نه شو او نه یی په ډبروویشت درباریان ډیر خجالت شول وشرمیدل خوحسنک یی په وهلو ومړ . یوهوښیاروزیر د جلادانو . په لاس ووژل شو . مړی یی ورته په یوه میدان کی په دوه لرګوکی

ځورند کړ. او ه کاله د هغه مړی ځوړند وو . غوښې یې ورته باد یوړې . چا ته اجازه نه وه چې د هغه مړی د خاورو لاندې کړي . موریې هم خبره شوه په وینو یې وژړل په کوکو او سلګو یې وژړل . همدومره یې وویل : زما زوی ستر انسان چې سلطان محمود هغه نه دا نړۍ ورکړه خومسعود ورته هغه دنیا .

* * *

ماشومې لور مې چې ذهن کې یې خپل وطن د تورې دړې پرمخ د نقشې په څیر راکوچنۍ شوې واو د خپل وطن ماضي ورته یوازې د دوه لرګو په منځ کې د رسم او په هغه کې د ځوړند انسان په تن کې رالنډ شوې وو . بې واره بې واره پوښتنه کوله :

–نو هغه یې ولې وواژه ؟–

–بس د درباریانو خوښه وه . نو ځکه یې هغه اعدام کړ او په دار یې ځړاوه .

–نو ولې هغه څه کړي وو ؟

–زه نه پوهیږم خو درباریا نو ویلې چې هغه قرمطي وو .

–نو قرمطي څه ته وایي ؟

–قرمطي یعنې «کافر» .

نو رښتیا هغه کافر وو ؟ چې په دې نوم یې وواژه .

زړ کرته مې د رته ویلې چې هلته! په دې نوم سړی په اسانۍ وژل کیږي ان دا چې ... هم زموږ خلک په دې نوم وژني .

دماشومی خوله زما دخبرو په اثر وچه شوه رنګ یی زیړ وتښتید .بیا یی خوله راغبرګه کړه وی پو ښتل :

نو دهغه مړی څومره موده بیا څورند پاتی شو . ؟

له هماغی ورځی چی ووژل شو هماغسی ځورند پاتی شو .

پای

# د ځیریو په ځنګله کې

د کنډو سرته د هغه په راځنو سره سم یې دا تپه تر غوږ شوه چې په جګ آواز یې وویل :

په غم پیدا په غم کې لوی شوم
ورکوتې مړ وای چې مې نه لیدای غمونه

او د همدې تپې په اوریدو سره هلته ډیر وړاندې ، د ګڼ ځنګله په منځ کې چې د کنډو پرتتم نرې پلې لاره راسوره وه. یو ستړی ستومانه لاروی د خپل توپک سره چې د ګنو مرمیو غاړه کې یې له ملاتاووه راښکاره شو.

له لیرې یوازې د هغه خیرن وړین پکول لکه چې په شپو شپو د شونتې لوګو وهلې وی معلومیده. په غاړه جامې یې هم لکه زیږ کوره سان کالیو ته چې د سپلمې د ډکوټ یې ورکړی وی او فولادی رنګ یې غوره کړی وی بریښیده. په درندو ګامونو او ارتو قدمونو په نری لاره ښکاره شو. له لیری یې یوازې

سرمعلومیده، خیر نه خولی یی معلومیده او د سرسره یی یوازی د تورک توره شپیلۍ هم.

د هغه پکول او د توپک شپیلۍ د هغه د گامونو او قدمونو او حرکت سره ښکته پورته کیده. هغه لالیرې و، ډیر لیری، په نری لاره راښکاره شو او همدا ډول چې هغه د څیړیو په گڼ او شنه ځنگله کې لاره کوله د ټپی او یکه زار غږ د ځنگله د ونو له پاسه د نری ورمی په ټټر کې لاره کوله. د تالندی او برښنا په څیر ان تر ډیره لیری ځایه ولاړه، خپره شوه، او بیا د څوانگازو سره په فضا کې د ځنگله له پاسه او ان لاندی ښکته خوړ کی ورکه او خوندی شوه. خو همدی یوه غږ چې په بیا بیا په فضا کی تکراریده او په بیا بیا د غرونو په څوکو کی څرخیده، زما په غوږونو کی یی هم انگازی کولی، او همداسی په وار وار زمزمه کیده.

په غم پیدا په غم کی لوی شوم

ورکوتی مړ وای چې می نه لیدای غمونه

کلونه وړاندی، ښایسته ډیر کلونه د مخه خان بهادر زموږ د درو خان د خپل زلمیتوب څښی په همدی یاد کی سپینی کړی چی د هغه په کور کی یو نارینه ماشوم پیدا شی، په وژندونی خود هغه په پتیو څوک تناب کې نږدی او نه یی څوک هسی مخی ته راووزی. هغه هم به نری رنځ اخته او بیا ځوانیمرگ شو، خو بختوری چې زیات امیدونه او هیلی یی درلودلی اوښه زیات ارمانونه. زیارتونو

ته په دوعاګانو کې ځولۍ غوړولې، او د ملنګانو او مساپرو دعايي اخيستي وه د خان بهادر مرګ يې غمونه نور زيات کړه. يو خوا ته د خان بهادر ناامېده مرګ او بلې خوا ته د زمانې ناخوالو ته د هغې يوازيتوب د هغې په زړه د غم سيلابونه نور هم ورسم کړل. لکه چې آسمان پرې راتيټ شوی وي، او ځمکه هم چې دا پرې ګرځي ځو نيزې پورته شوې وي. خو د خان بهادر د مرګ او ماتم سره بيا هم هغه چا د خپل مېړه د جنازې کټ ته نږدې پرې نه ښوده. او نه يې ورته اجازه ورکوله، ګوندې نه چې د هغې په نس کې داتو مياشتو په ماشوم سيوري پريووځي او هغه کمزوري کړي، څه زيان ورته ورسيږي. هغې د يوې بلې هيلې له مخې دا غمونه هم وزغمل، د خان بهادر جنازه واخيستل شوه هغه ښخ شو. خاوري پرې واوښتې او بختوره پر ځای پاتې شوه، يوازې د خپلو غمونو سره د هيلو سره، يوه هيله چې لا ور سره مړه نه وه.

دژمې سړه شپه وه، وچه څله نيمايي ته ورغلې وه، ځمکه سپينو واورونيولې وه، آسمان پرې راشين شوی، يخ باد لګېده، په ځوړسنو هم دسړې يخنې نه کرا ريده، بختوره په لنګوال ناروغه شوه، دکلي يوه دوه خواخوږې ښځې ورته کښيناستې، تر سهاره ورته کيناستې. دځلې شپه يې تر سبا نژدې کړه، خو چرګ لا آذان نه وکړی او سپيدې لا نه وای راختلې چې دخان بهادر په کورکې يو مړ څرغ ولګېده. دغم او ماتم په کورکې يوه رڼا پيدا شوه. بختوره هم پوه شوه چې دهغې

لمنه زرغون شوه. او په همدې خوښې سره یې بیا خوله یخه پاتې وه. مناشوم وچنګل، لومړی ژړایي وکړه او بیا پریووت.

او له همدې شیبو وروسته دغمونو په پراخه خو ترورمې دالان کې دشهباز خان لالهانده ژوند پیل شو. هغه دنیا (ادی) په غیږکې رالوی شو. دپلار میراث پرې راتپینګ شو، خو دمور او پلار دمینې خوندیې هډوونه لیده. هغه خو نه دپلار دتن او خولو بوی احساس کړ او نه یې پرسرد هغه لاس، او نه خو په دې پوه شو چې دمورددرنې لمنې لاندې څرنګه دانسان روح او روان دمه کیږي ستړیایې لیرې کیږي او تشویشونه یې لرې کیږي. خو شهباز خان له دې ټولو محروم و. دایې هیڅ ونه لیدل، همداسې دڅیریو په څیررالوی شو. ددې غروتو دونو او بوټو په څیر په تندو، او بارانونو کې رالوی شو. په کوڅو کې یې دهمزولو سره لوبې وکړې، غورځې پرزې یې وکړې، ډېرې یې ګوزار کړې، مچیو او غومبسو چکونه یې راوپارول، سپې یې په کاڼو وویشتل لنګې سپې یې وځورولې د خپلو همزولو له لاسه ووهل شو وټکول شو، نور یې ووهل ویې ټکول، ډیر ماښامونه شلیدلې کالې کورته راغې او سهار بیا پاڅید او بیا پرې مشغول شو، په پټو کې یې منډې ووهلې، او په همدې هلو ځلو کې اومنډو تړو کې رالوی شو. شونډه یې توره شوه. ځلمې شو. خو ددې ټولو مستیو او سرمستیو سره یې د پلار د تن د خولو بوی احساس نکړ. او نه یې د مور په غیږ کې د هغې غښتې لمنې لاندې د هغې د سینې د

شیدو خوند ولید. دایی هیڅ ونه لیدل. او په دی خوند هیڅ پوه نه شوه.

خو دا مهال چې کلونه وروسته د شنو غرونو په منځ کی د څیړیو په ګڼ ځنګله کی دغره په څوړ کی په راکوزیدوو د هغه ددی تپی غږ چې په ډنګ اوازیی وویل:

په غم پیدا په غم کی لوی شوم

ورکوتی مړ وای چې می نه لیدای غمونه

زما ذهن د هغه څو کاله لالهانده، سرګردانه ژوند او په سمڅو او غارونو، غرونو او ناوونو، سر ژوند ته راوګرځیده. لکه چې دا مهال ما د هغه په فکر او روان کی ځای نیولی وی، لکه چې د هغه په خیال کی زه پلټنی کوم او د هغه د ژوندانه ماضی ته وروګرځیدم. دا وخت یی څه څه راته په مخکی کیښودل، خو هغه په هماغه شان چې ستړی ستومانه د کنډوله شا په درنو او پخو ګامونو د ګڼو څیړیو او خونانو او نورو غرنیو بوټو په منځ کی راختلی او بیرته په څوړ راکوزیده، کله به په څوړ کی دونو او ځنګله دونو په پانو کی ډوب او کله به یی سر رانیغ شو.
د توپک توره شپیلۍ یی نیغه له سرسره موازی ښکته پورته کیده.

ښایسته زیات کلونه یی شوی وو. اوه، اته، لس کاله یی کیدل چې هغه د همدی غرونو بازو. د همدی ناوونو رنی اوبه یی څښلی او په همدی شنه او د پلنو لړو په طبیعت کی د سارایی او غرنی زمری په څیر ګرزیده. هغه ډیر ځله په داسی نریو لارو تللی او راغلی و، خو دا وار چې مالید، له ډیرو ستړیاو سره، د اسویلو

سره او د خپلو غمونو سره ملګري و.

هغه په همدې لارو، ددې اوږدو لارو له وهلو وروسته د عره بيخ ته راکوز شو. شاوخوا يې ټوله د ځنګله سکوت نيولى وه. په يوه نيمه برخه کې هلته ليرې لرې راپلنې شوې وې. ايله په سترګو ديوې ډبرينې کوټې دروزان نرى لوګى معلوميده او په طبيعي او ارامه توګه له لرو سره يو ځاى کيده. د بانډې د څوکيدار سپي يو نيم غپ هم د سکوت او چوپتيا پردې څيرلې د سپي يوازې يو نيم غپ د غرونو په سرونو کې تر ډير ليرې ځايه تاويده. د ځيړيو شين او سنګين ځنګل په خپلې چوپتيا سره د يوازيتوب وهم او ويره پلنوله، او د سترګو د ليد پورې يعنې ترکومه ځايه چې سترګو کار کاوه په لوړ و ژورو کې غځيدلى و. ډيرې ښکالو او اواز پکې ځيلې جوړولې. لاندې د ناوو نوړنو، نريو اوبو سندريز شړکهار هم د ځنګله په چوپتيا کې داسې ورکيده لکه په لوى سمندر چې ورګډيږي او بيا غلې کيږي.

خو لاروي سترې ستومانه د اوبو خوا ته راکوز شو. لکه چې دوه درې ورځې لاره يې وهلې وې، خو ستړيايي د کلونو کيسې کولې. د تن کاليويې د خولو مست بوى کاوه. د اوبو پرغاړه د يوې پلنې ډبرې ډډې ته وغځيد. ټوپک يې له اوږې لير کړ، څنګ ته يې ودرواوه. د مرميو ډکه غاړه کې يې هم له ملا ايله کړه، سر ته يې کيښوده. له ملايي هم څو چنډې سره ډوډۍ را ايله کړه. يوه شيبه يې سترګې په هغه لرې بانډه چې نرى لوګى يې د راپلنو لړو سره يو ځاى کيده ولګيدې. د کوټې

ښـتـریزی تنبی ته یی فکر شو. یوه شیبه یی د تصوراتو دونیا ته د سفر سترګی ورغلی.

په نیـمـه بیـداره حـالت کـی یی دی دخپـل کـور دروازی ته ودراوه. یووخت چی نیـمه شپه وه، امه شمه نه وه، یوازی د ښبنو کش کړپ یی اوریدل کیـده. یوازی د خپلی سا ویستو اوازیی اوریده. د کلی په تاوراتـاو کوڅو کی تنووت، او دخپلی کوټی دروازی ته ودرید. د معمول په ډول یی د کیڼ لاس څو ګوتی دوره په درز کی ورننویستی او د ګوتو په سریی د هغی خوا ځنځیر له کونډی وغورځاوه او دځنځیر په شرنګ سره یی پری ښځه او ماشومان راپورته شول، په وارخطایی پری غږوکړ! څوک یی ؟

او بیاهغه په څو واری غلی اواز چوپ شه، چوپ شه وویل.

په تړلی اوربو زسره یی خپلی ترهیدلی مرغی چوپ کړی، ګوګرد یی ولګاوه او له مخه تاو کړی څادر یی خلاص کړ. د هغه په لیدلو بیا د هغه ماشومان چپ شول. زړونه یی ډک شول. د ښـځی سـتـونی یی بند بند شو. مری یی وپرسیـده. خپل ماشوم ځوی یی په تنو پوری ونیوه، ماشومه لوریی ښکل کړه او ځانته یی رانږدی کړه. میرمن یی ببر سر مخ ته کښیناسته، لکه چې د ویلو له پاره هیڅ شی نه لری. تولی خبری یی خلاصی شوی وی، او بیا غلی پاڅیده ددوو سړو پتیرو توکری یی راواخیستـه. په مخ کې یې ورته کیښـوده. وچه ډوډی یی تري جیب ته کړه، څو

شیبې غلې کښېناست. لکه چې د خپل تقدیر او سرنوشت سره شخړه لري. جنګ ورسره کوي، مجادله ورسره کوي، او بیا خپلو زنګنو ته ګوري. نرۍ اوښکې یې پر مخ لارې کوي. میرمن، ماشومان، خواره جونګړه، تور تور لاړې توره کوټه او توره فضا او ماحول.

ماشومان هم د خولې د بیرته کولو مجال نه لري، چې د څه شي پوښتنه وکړي، په سلګونو سوالونه یې تول هېر شوي و، د یو ډول پردیوالي احساس پکې پیاوړی شوی و.

هغه بیرته له کوټې راووځي. د کوټې د دروازې له پاسه ګردونو ته ګوري او بیا غلې ووځي. ماشومان پرېږدي، خپل تقدیر او سرنوشت ته یې سپاري، هماغه تقدیر ته چې دی ورسره په شخړه اخته دی. په سخته جګړه ورسره بوخت دی. غورځي، پرځي ورسره کوي. هغوی پرېږدي. ورو او په بې غږه غوره ډول له کوره راوځي، له کلي را بهر کېږي او بیا په دغه ګڼو ځنګلونو کې ورکېږي.

خو لاروي په همدې اوږده ذهني سفر کې د کمرخواته ډډه وهي. د مرمیو غاړه کې پاسې توپک څنګ ته دروي او په همدې چرتونو او فکرونو کې یې سترګې ورو ورو د آسمان او پاس فضا د خونانو او څېړیو رازورندې لښتې، او د څېړیو پراخه او غزیدلې ځنګل واکوچنې کوي. سترګې یې سره مښلي او بیا بیا د خپلو تصوراتو په فکرونو کې ډوبیږي.

بیا ورته د همدی دوه دری تیرو شپو سفر وریادېږی :

هغه بیا خپل کلی ته تللی و. گوندی چې خپل کلی ووینی، خپل ماشومان او خپله جونګړه، خپل خپلوان، خپل چم او گاونډ، د خپل کلی زاړه دیوالونه، ډبرین او ختین دیوالونه، د خپلو څوتنو محدودو ملګرو سره د سپوږمی په رڼا کی په کنډو کپر لارو خپل کلی ته ورځی، ورنژدی کیږی. له شړو او بی لارو لارو ورځی. خپل زاړه او پخوانی کلی ته ورځی. په شاړو پټیو کی لاره وهی خو د سپو غپا د پخوا په څیر نشته. هدیری اوږدی غځیدلی دی، خو ځینی قبرونه هوار شوی، اوبو په خپل سر په پټیو کی لاری کړی، او یا یی په خپل سر لاری جوړی کړی وی. پټی له وحشی گیاوو او بوټو ډک دی خو د کلی هیڅ اواز نشته، لکه چې اوس په سنگر بدل شوی دی، لکه چې څارونکو یی کمین نیولی دی، چوپ او غلی ولاړ دی او بیا په همدی سوچونو او فکرونو کی له بلدو لارو کلی ته ورننوځی، کلی څه وینی؟ او څرنگه یی وینی؟

کلی ټولی شاړی کنډری ولاړ دی، دیوالونه ځنی په بیخ پراته او غځیدلی دی. کوټی شاړی دی، د خاورو او لوټو ډیری پکی ولاړی دی. یو نیم لرگی پکی پروت دی. د سپو هم غږغوږ نشته چې مسا پروته وغاپی. نور څاروی هم نشته، یوازی د خوږ او پارچاوونو د وحشی خوږ او وحشی پارچاوونو اواز غوږ ته راځی، د کنډر دروازی بیرته پاتی دی، لکه چې د بنیادم له خولی ساختلی وی. لکه چې جسدونه

پر ځمکه ورغړیدلی وي، همدا ډول یې خپل ګڼ او د خلکو ګڼ « ! » کللي ولیدل...

او بیا په ډیره ویره، په ترهه، خپلي جونګړي ته ورننوتۍ شو. بیا خپلی دروازی ته ودرید. د سپوږمی رڼا پلنه وه، د توپک میله یی د سر سره موازی د سیوری په ډول په ځمکه غځیدلی وه، د هغه د حرکت سره یی حرکت کاوه، خوځیده، لکه چی کوم ښارونکی ورپسی وي.

په کوڅه کی د خپل کور په لور قدم اخلي، خو هره شیبه یی زړه کښته لویږی، په تن یی مړه خوله راپیدا کیږی، لکه چی بیا د تیر راتګ په څیر د کوټی د دروازی ځنځیر بیرته کوی، بیا څوک چیغی ونه کړي، نه!

خو لږ شان ودریده، زړه یی درزا کوله، د سینی له پنجری د زړه درزا بهر راوتله، داسی چې په څو قدمو فاصله کی اوریدل کیده. د خپلو ماشومانو څیری یی مخ ته ودریدی، له څو کالو سفر وروسته بیا د کور دروازی ته راغلی و.

د چګړو او جنګونو له سیمو. یو واریی په ذهن او فکر کی د جنګ پیښبی، د وینو پیښبی د وژنو او پرزونو پیښبی ژر تیری راتیری شوی. او بیا یی خپل ماشومان په ترهیدلی بڼه یاد ته ورغلل. میرمن یی مخ ته ودریده. د هغی زاری او ننواتی، د هغی ژړا او مړی اوښکی !!

په کوټه کی یی پرندی خاوری پرتی وی. ډیر بارانونه پری اوریدلی و، د کوټی د نغری په ځای کی د بارانونو په اثر شین شو بی شوی وو، دا توري او سپلمی پکی ولاړی وې. د کوټو تور دیوالونه چې بارانونو پریمینځلی وو هم ښکاریدل.

خو تود نغری نه معلومیده. هغه د خاورو لاندی شوی و. د کوټې تور لاړی هم نه معلومیدل. د ماشومانو د تن د جامو ختې، زړی برستنی او بوریاګان هم نه وو. یوه نیمه ټوټه اخوا د یخوا بریښیده. مسافر غلی ودرید! چوپ و. د سپوږمی رڼا یی د ټوپک د شپیلۍ سره موازی د هغه په حرکت او امر سره د ټوپک سیوری او شپیلۍ د حاضر باش په څیر خوځوله. زړه یی د رزاکوله، او کله چې همدا ټپه یی بیا بیا، او په تکرار سره ذهن ته ورتلله، چې د کنډو په سر کی یی یو وخت پری خوله خلاصه کړی وه چی:

په غم پیدا په غم کی لوی شوم
ورکوټی مړ وای چې می نه لیدای غمونه.

***

د هغه ستونی د همدی ټپی په تکرار سره ډډ شو. سترګی یی سری شوی، نری اوښکی یی پز مخ را روانی شوی، او بیا یی د هغه د قبر د شناختی توږلو کرښو ته ګوتی ونیولی، او په بند ستونی یی همدومره وویل:

هغه ته دا وخت هیڅ څوک پاتی نه وو، خپل کلی تری لیری پاتی و.

ټول حال یی په همدی ډول و، خو ما ته یی یو وخت وصیت کړی و چې که زه مړ شوم، ما به د همدی اوبو په غاړه، او د همدی لاری پر سر ښخوی، او په هر شان چې کیږی دا ټپه به زما په شناخته لیکی...

۱۳۶۹/۷/۲۶

# تابوتونه، کفنونه!

اوس چې هر وخت د کارخانو له مارکیټ څخه دښار په لور په موټر کې سوریږم، نو سملاسي درې څلور تم ځایه وروسته مې د ترکاڼانو په توږل شو یو لرګو سترګې نښلي. ددغه توږلو لرګو په لیدلو مې سم دواره سترګې بریښي او د یوې ترخې ماضي د سفر ور راته را پرانیزي. آن داسې لکه ددغه توږلو لرګو په مخ چې یو کښلې داستان لولم. داسې داستان چې له ځانه سره مې بیا یې، لکه په داستان کې ورشریک لوبغاړی، د هماغه حالت ویره او ترهه رابادی پلنوي. دبې روحه او بې ساه کالبد په څیر مې د تصوراتو او خیالونو تنابونه شاته را کاږي او همداسې تر ډېره وخته مې له ځانه سره یو ځای ساتي. او بیا د هماغه ترخې ورځې په څیر د میوند واټ په یوه نرۍ تنګه کوڅه کې ګرځم. کوم چې په هغه ورځ یې زما ټول خیال، تصور او ذهن سره بل شان کړو. مفاهیمو راته باالعکس مانا پیدا کړه ژوند راته دهیلې او نهیلۍ راته تولې منډې تررې عبث وبریښنولې اود

منډو په ترغ کی یی زما سر په یوه پلن او نه چپه کیدونکی دیوال ولگاوه، په دی ډول:

هو ! هماغه سهار مهال را یاد شی چی د ملا اذان مهال له خوبه پاڅیدم. خوب می هم سم نه وو کړی. تپوله وسنوسه می په دی کی وه چی څنگه د خپلی کورنی د یوه وژل شوی ځلمی د ښخولو بند و بست وکړم. څنگه ورته تابوت او د تکفین نور شیان پیدا کړم، او په دی اندیښنه چی څنگه به پرما داد غم ورځ پای ته ورسیږی.

رښتیا د هماغه ورځی په پرون کله چی ستړی ستومانه له کاره کورته راورسیدم، خپل کورته می په څلورم پوړ کی وو، ساه وتیره ور وختم، او دروازه بیرته نه وه چی د تلفون زنگ راغی. غوږی می پورته کړه، له روغتون نه یوه چا خبری کولی ویل یی یو ځلمی هلک ژوبل دی. په راکتو ژوبل شوی دی. هیڅوک یې خبر نه دی، یوازی ستا نوم یی له خولی ووت.

نور پوه نه شوم. له ځآنه سره می وویل ارومرو بده پیښه ده. خپل اکر او روحیه می له لاسه ورنه کړل. هم دومره می له ځانه سره وویل:

هر څه چی وی اوس راغلي دي، له پیښی تیښته نشته. له ځانه سره می انگیرل. ارومرو به هغه مړوی، یوه شیبه په ځغلنده تیره شوه. دکور دغړو سره می ډیری خبری ونه کړی. بیرته په چابکی له کوره راووتم. راکوز شوم او په ډیره تادی می ځان تر روغتون ورساوه، په تپوله لاره مې د تابوت او کفن او نورو

ضروري شیانو په باب فکر کاوه. همدا می له ځانه سره ویله. خدای ته آسانه وه لکه چي ځوان ځواتیمرگ شو، لکه چي ځوان ځلمي خپلې هیلې او ارزوگانی له ځانه سره یووړي بیامی سوړ اسویلی وویست. خدای ته آسانه ده.

خو دا ځویم وار وو چي د ډیرو نژدې تنکیو ځلمو مرگ می لیدلی وو. روغتون ته په رسیدو سره سملاسي عاجلي کوټي ته ورغلم هلک په وینو کی لیت پیت پروت وو، د ژوند وروستي شیبې یې وې. یوازې د اوبو اوبو غږیې کاوه.

دداکترانو د مشورې له مخې می په غیږ کی راپورته کړ. په موټر کی می واچاوه، او سملاسي مې بل روغتون ته راورساوه. د سترگو په رپ کې یې د عملیاتو کوټې ته ننویست. لږ شیبه وروسته داکتر راووت. لاسونه یې سره وو. د شونډو په اشاره درنژدې شوم. همدومره یې وویل. ځلمي پور پرې کړ. خو پلار یې مه خبروه. او سهار بیاله روغتون نه جنازه یوسې.

داکتر بیرته ستون شو، ما هم پلار ورته د ناروغ د بې هوښې په پلمه رخصت کړ. داسي مالومیده چي پوه شوی وو. په هغه شیبه راته داسختی مالومه شوه چي پلار ته د ځوی د مرگ پیغام ویل څومره مشکل کار دی. هر پلار په طبیعي ډول خپل عُمر زوی ته بخښې خو زموږ په ملک کی دا رواج نشته. بلکي پلرونه دي چي جگ قدونه یې د زلمو زامنو په وژلو سره لیندی کیږي.

زه کورته راغلم، تول شپه می په غوږونو کی د اوبو آواز انگازې کولی. هیڅ

دی غږ نه پرېښودم. ډېر يې ځورولم. هيڅ مې فکر نه کاوه چې تر ډېره وخته به د غه اوازونه زما له ذهنه لېرې شي ټوله شپه مې سره سترګې سره ونه نښتې له ځانه سره مې افسوس کاوه، کاشکې مې يو ...وت اوبه ورکړې وای. کاشکې مې . . . خو شپه په يو ډول سره تېره شوه. سهار شوی لانه وو چې بستر په زورسره له ځايه ښکته کړم. داسې لکه چې څوک راته ووايي، بس ووځه او د هر څه غم وخوره. او غمونه وګاله. په تور چرګ بانګ له کوره راووتم. ميوند وات ته ورسيدم. د تابوتونو پوښتنه مې وکړه، دسپين سان پوښتنه مې وکړه. ډېوه بل چا په لاس کې هم تابوت وو د هغه د راوتلو لاره مې تعقيب کړه. په لار کې، په کوڅه کې په ټولو ځايونو کې مې فکر کاوه چې دوی ټول ما ته ګوري، دوی هم هر يو د تابوت او کفن پسې سرګردانه دي، هغه وخت مې همداسې تصور کاوه. پوه شيبه به مې له ځانه سره ووېل، لږ په هوښ شه. نور څوک کفن او تابوت نه اخلي. يوازې ته ورته اړيې. خو اوس پوهيږم چې داسې نه وه. په همدې سوچونو کې سم دم د تابوت ساز او د تابوت پلورونکي دوکان ته ودريدم. خپلو ډېرو انديښنو، خيالونو او ترېو سره ډېوه مې وريجې ږيرې والا دکان ته چې چينګې داړې يې د حرص او بې توله اشتها حکايت کاوه، خيرن پټکې يې پر سر وو، له يوې پوچې سترګې يې زيم راته. پرته له دې چې زه يې وپوښتم هغه راته د تابوتونو ډولونه ووېل، قيمتونه او بيې يې هم راته ووېلې، لکه چې دا يوه سترګې يې د همدې له پاره جوړه وه، چې پيسې پرې

وشماري، او خلکو ته تابوتونه وښايي. فقط داسي برېښېده لکه د شيطان سکه ورور. هغه د پاخه عمر سړی وو. داسي برېښېده چي هر اړ چي به دخپګان او قهر سره ورته راغي د هغه احساس يې نه بدلاوه. يوازې د خپلې ګټې په غم کې وو. داسي مالومېده چي د ښار د ټولو شاوخوا هديرو سړي دهمدوی په تابوتونو کي ښخ شوي وي. نو ځکه يې په خلکو احسان هم کاوه. خو ډېر بې احساسه، او د هر چاپه وراندې بې توپيره د هر چا په وړاندې سوړ او د خپلې سودا له مخې يې چلند کاوه. که زوی مړی به ورته ودريدو او د خپل زوی له پاره به يې ترې تابوت غوښت نو د هغه پرې څه، او که پلار مړی او مور مړی به ورته ودريده د هغه په اکرکې يې بدلون نه راووست يوازې هغه د اخيستونکې جيبونو ته کتل. يوازې د پيسو په شمير کې وو. يو بې احساسه او بې عاطفې سړی. د مړو سره عادي شوی وو. لکه يو قصاب د پسونو سره. يو ظالم واکمن د ښار د خلکو سره، يو بې رحمه جلاد د پوليګون سره...

خو د يوې سترګې له زاويې يې د هر رانيوونکي سره چنه وهله. له خپلې ګټې يوه شانزده پولۍ هم نه تيريده. د تابوت سره سپين سان او ګلابو عطر او قران پاک يې هم ورکاوه.

خو د تابوت ساز ليدلو او کړو وړو، زما د ټولي شپې اوږده تصورات او غمونه بلې خواته کړل. هغه راته د ښار يو ډېر بې رحمه سړی بلکې يو جلاد ښکاده شو، تحکم او امرانه لهجه يې د ښار واکمن ته پاتې کيده. داسي برېښېده لکه چي د

همدی ښار باچا وی. د ټولو خلکو ارواوی او ساه وی د هغه په لاس کی وی. او هغه د همدی کار له پاره خدای لوی کړی وی چی د مرګ سامان او وسایل وپلوري.

هغه مهال راته د یوی سترګی، چپن چینګ داړی ترکاڼ ډیر زور ورسره ښکاره شو. د تابوت په ترلاسه کولو می د هغه او امر ټول پر ځای کړل، خو د هغه کریحه څیری راته ټول ښار بل شان راوښوده. ټول خلک راته داسی ښکاره شول لکه چی تابوتونه ګوري. تابوتونه اخلی، او د تابوتونو سوداګانی کوي، هتې هم راته د کفنونو او تابوتونو هتی ښکاره شوې، د میوند واټ راته له یوه سره تر بل سره پوری د تابوتونو او کفنونو بازارو بریښیده. او یادا چی کله به می سترګو تور وخوړ ټول ښار به راته د تابوت حیثت پیدا کړ. بیا به می ځان وخوځاوه. دا څه وینم ویده یم او که ویښ. دا خوب دی او که ویښه. خو په دی نه ووم چی زما په ... ذهن کی چینګ داړی پوره ځای وینو، یادا چی د ټولو خیرنو کالیو، چینګوداړو او بی عاطفی او بی احساسه تن سره زما په ذهن راننووت، دا فکر ورسره هم راغی، چی دا به د ښار اصلی واکمن وی. همدا تابوت پلورونکی دی، چی د مرګ سودا پلوری، واکمنان خوله دی کاره بله څه دنده ونه لری. دی هم راته د ساه ګانو د قبضولو باچا، او د نیستی د ښار واکمن شو. ځکه چی د تابوت پلورونکی امرونهی، او راکړی ورکړی دهغه اکربدل کړی وو. هغه د هیڅ مشتری وچوشو نډو ته نه کتل واکمنان هم د زوی مړومیندو وچو شونډوته نه ګوري. زما په ذهن کی ددوی دواړو یو ورته والی پیدا شو. داسی بریښیدل چی څومره دهغه تابوتونه

زيات وپلورلي شي نو دهغه خوبنې په همدي کي ده.

خو اوس چې له دې تصوراتو ډير کلونه تير شوي وي، يوه ويره او ترهه يې زما په مرۍ ايښې وه. د ميوند واټ د تابوت پلورونکي اکر او کره وره دهغه حقير دوکان، داميرانو او واکمنو دربار دده امرو نهي، دهغو حکم او فرمان او زما خوب که ويښه. دا ټول هغه څه وو چې زما له پاره د پوره حيرانۍ خبره وه. نه پوهيدم چې دا ويښه ده او که زما خوب او خيال.

هو! زه فکر کوم که هر څوک زما يا زما په ځای وايي همداسې به يې انګيرلي واي. چې هماغه د ميوند واټ اصلي واکمن. ميوند واټ، ديوه لوی تابوت په توګه، ديوه لوی قبر په توګه، ياد مرګ بازار چې د کفنونو او تابوتونو سودا به پکې کيدله. همدی خوب او خيال.

خو اوس ددغه ويښې اوخوب وخيال تعبير په کتابونو کې نه لولم، چينګ داړی تابوت پلورونکي همالته پاتي دي، خو چې د کارخانو مارکيټ نه دری څلور ځايه د ښار په لور راتير شم، او د کڅه ګړي تورل شوی تابوتونه وګورم، نو بيا پوهيږم چې زما خوب سم وه. ما په ويښه ليدلي وو، مرګ مې ليدلی وو، هماغه ښارچې د مرګ سودا پکې کيده، اوس هم پری دمرګ خپسه ناسته وه.

۹۸-٤-۱۲

# زه همزولی د زمان ته سنگر د ژوبلورو

د پیړیو له درشله، د پیریانو د دیوانو له وطنه را بهیږم.

زه په دغه کړو لارو، زه په دې ځیږو خوړونو په ژورو پلند یو گرداوونو ورسمیږم. ، او تیریږم. د آغاز انجم کیسه می یاد کی نده. خو زمان زما همزولی زما سیال دی.

نوره اړه ورته نشته، چی په ژبه په ویناووی څرگند کړم. د عظمت او د شوکت کیسی می ډیری اوریدي، که د لمروه، که دغروه، که هسکمن وه، دامی ډیری اوریدلی.

ما یې لاپی اوریدلی، ما یې شاپی اوریدلی، او بیا می تولی دی زغملی خود ځمکی ادمیانو، ددی لارې لارویانو د هستیو مالکانو، د مغزونو او فکرونو خاوندانو افسانه شانته بلله :

د سیندونو دلوي سیند او د بحرونو دسالار. او ددی ټول جهان د ځغاستواراو یونو نودبادار د عاجزی نه یی کیسه کړله.

چی :

دا سیندونه ټول وچیږي.

ډوی راځي د لمر له کوره.

د کورونو او ځنګلونو له وجوده، د سپوږمۍ وریځو له ځالي، د آسمان له پلنومورګو راکوزیږي او بیا دروموي په دې لاره په دې سمو په دې غرونو.

په دروا وګړنګونو، په ورغالو، ورشوګانو، په خوړنو او ځنګلونو ورسمیږي. د قبرونو، زیارتونو د جنډو لاندې تیریږي.

د ډیرو حجرو په خوا کې یې ښپې راپورته کیږي. د ژوند یو د کاروان ننداري و کې او بیا دروموي د ناپایه افق لورته هلته ذهن، او تصور له کاره لوییږي.

یو ستر بحر، سمندر ته او هغه سمندر دومره راکوچنی شي او راټول شي چې بیا نه ویني خپل ځان، خپله ماضي او مستقبل هم.

هلته یوه کوچنۍ د چرګۍ هګۍ زغمي سیلابونه.

دا سیندونه دا بحرونه او دا ستر سمندرونه، او چې یوه ورځ ددې ستر بحر د لوی لمنی برخه، د هګۍ په خوله ور سمه دمه نشي، نو بیا چیغې دهګۍ خیژي آسمان ته.

هغه لمر ته، هغه وریځو او د ستورو ستر دالان ته. نو په ښوک په دې باور کا. چې دا لوی سمندرونه دې بیا وچ شي. د غورځنګ او د ښپو زدوردې یې ورک شي. او د سترګې په انداز هګۍ دې وزغمي دا لوی سمندرونه، دا ښپانده شان

سیندونه، دا خړ رنګه سیلابونه دا د تالند ودورا او د پیښو سوغاتونه، یا پله ژبه وایم :

دا به کوم داسی ملک یاداسی خان یا څوک امیر وی، یا چنګیز یادی دا راو سکندر وی، یا دی بلل کوم یو زورګیر لکه نرون او یا هتلروی چی خپل پوځ ته امر وکړی. چی زمان او وخت ته جوړ کړی ستر بندونه، چی تیر نه شی هیڅ زما له قلمروه، او چی یوه شیبه یی تیر شی زما د عمر، زما د شان او د شوکت او د بدبی ښه ساعتونه، خو زمان او د هغه درنګونه هیڅ په وس کی ندی، دا میراو د سلطان.

وخت یو سینددی، زمان سنیددی چی بهیږی او نه دریږی په هیڅ شان.

## زه راتیر شومه د دنګو غرو له منځه :

ګړنګونو، له ناوونو، کږ لیچونو، ما هر وخت په ځیږو پرخواو کمرونو خپل تندی سولولی. خپل سرود او سازمی هم وی غږولی.

د هستیو، سرمستیو، د غمجنو اوازونو، د زګیرویو فریادونو، خو هیڅکله په دی سوچ فکر کی نه وم چی مغروریم، ما غرور او کبر هله ولیده چی زه راتیر له ګړنګو شوم. هم هغه زما آوازو، چی د غرو په سرکی تاوشو، هم هلته یی انګازی کړی، هلته یی جوړی اوازی کړی خو بیا غره په ډیر غرور او کبر وایی :

دا خو زه یم چی زما په سینه بنو ئیږی.

دا خو زه یم چی زما په غیږ کی دانگی.

دا خو زه یم چی زما سینه بستر دی، ستا د منډو، ستا د ترږو، ستا د سترو آوازونو!

زما ستر ئ پرځی گوره، زما ستر ځنگلونه گوره!

زما گڼ ځنگلونه گوره!

دلته ډیر ژوی ځاروی پرما مړیږی. دلته نسل ژوندی کیږی. دلته هر څه سباتل کیږی.

بله دا چی:

زه سکون یم!

زه قرار یم!

تل ترتله، «په خپل ځای په خپل مکان یم» زما سر اسمان ته رسی، زما غیږ د وریځ زانگو ده، زما ژوند په خپل عظمت دی ما هیڅ څوک وژلی نه شی. ما هیڅ څوک رټلی نشی، او ما هیڅ وس اوړولی نه شی.

زه یو غر یم.

زه ستر غر یم.

تر اسمانه می سر رسی، تر ژورومی پلی رسی.

او له دی تولهٔ بهتره چی ای سینده!!

ته همیش په څغاسته منړه.

ته هر وخت په تیر یدرنګ یی.

دا خو زه یم چی زمرو ته څولی کیږم، هر زور ګیر ته سنګر کیږم. او هر غاصب ته مورچل کیږم ته خو درومی، ځی په لاره زه ددی اولس لپاره، خپله هره برخه واوره. چی د ژوند په بیه بنایم، ددوی زور زما قوت دی، ددوی ساه زما نفس دی. او ددوی ژوند زما انعام.

نو ته واوره:

ای لوی سنیده!

دزمان او وخت همزولیه.

زه منمه چی ته هر څه په څولیو کی راوړی شی. او له ځان سره یی وړای شی- خو دا ګوره سپیره خلک، دا سپیره سپیره تنونه، خو شخ بریتی نر میړونه، دوی زما په غیږ کی ناځی، دوی زما لمن کی رغړی. دوی د پرخو سره یو ځای له کمرونو سره یو ځای. سیلابونو سره یو ځای، خو هیڅکله د خځلو او خاشاکو په څیر نه شول، چی د ستا په سرو ناځی او یا زما په سر وناځی.

دوی زما د ناوله تړی.

دوی د شنو ځنګلونو بیخ کی یو سنګر ځانته نیولی.

په هران یی غورږ نیولی، سترګی برندی د کوم تک په پلوځی، نه چی ده

باندې لومړې کوم يو زور گير شي.

هغه تيږې، زيږې تيږې.

هغه پرخې ستري پرخې.

هغه ونې، گڼې ونې، ټولې دوې ته په سجده دي.

ټولې دوې ته درناوی کا.

او ټول د دوی په تماشه دي.

خو:

زه مغروره په ځان نه يم

زه مغروره په تن نه يم.

په خپل جگ سرمې سوگند دی، چې شمله مې د اسمان په غيږ کې رپي، او په ولونو د پگړې مې ستورې نښلي، د سپوږمې وړانگې مې غيږ ته راکوزيږي، او خپل سپين مخ زماله ولو بريښوينه چې په خپل مقام ساکن يم.

د بادونو، توفانونو مخه نيسم.

د سيندونو دريابونو آواز اووم.

خوله دې ټولو اوچت زما اواز هغه اواز دی. چې يې اورم د زړگو ټوله درزانه. د غرونو له عظمته، هيبتونو له هيبته! او دراوي له روايته!

# د شوتلو بوی

د ژمي د سهار لمر دیخ باد سره یو ځای د تاترې په لمنو خوځیده کښته د ښار وادي یوه داسې خوړ ته پاتې کیده چې سړي فکر کاوه چې د ژوندانه سیلاب ټول په مخه کړي دي. د عادت له مخې ټول اوتر اوتر بریښیدل. موټر په کرار کرار د ښار په لور حرکت کاوه. سهارني لمر د ساړه باد سره یو ځای د غرنو په سرلګیده او کله یې هم کښته د ښار په لمنه کې غزوني کولې.

ښاري سرویس ورو ورو د ښځه نیولي مسافر په ځیر پر مخ تلو. د لمر نازکې او تنکۍ وړانګې د موټر په پلاستیکي هنداره لګیدلې. د سرویس په وروستۍ څوکۍ کښیناستلم. ځان مې په څادر کې د سړو له ویرې ښه تاو کړ. هوا سړه وه. خو د لمر تودوخې او د سرویس ټالیو په خپلو څنګلو کې واخیستم له بې خوبۍ مې سترګې سره ورغلې وې د پوره شپې له شوګیر او اندیښنو نه وروسته د خپلو فکرونو په سفر کې خپل کلي ته ورسیدم :

احساس مې کاوه چې ګوندې د شوتلو د کجاوې پیرپرۍ مې په اوږو فشار راوړې تیره لور مې په لاس کې دې. نه، نه! په خواره او درانده خوب ویده یم سهار

ملاذان مهال می ځوک خوځوی او راته وایی چی پاځه او غوایانو ته شوتل وریبه. د شوتلو شین رنګ او دشنو پتو مست او خوږ بوی می تر سږمو کیږی.

هو ! داسی لکه چی تیره لور راسره وی د شوتلو د کجاوی پری می په اوږو فشار راوړی. په پولو سر یم. په احتیاط ګامونه اخلم. داسی نه چی د واښو پر سر پرته پرخه می د پرتاګه پایڅی لندې کړی. او یا می څنډخی تر پښو لاندی شی. د شوتلو د پټی منځ ته ورګډیږم. شوتل له اوبو ډک دی. د شوتلو خوا کی خیدشویو غنمو سر راپورته کړی او توره غوږسکه ولاړ دی. نژدی دی چی د پټی په پوله خپل تهږ ومنبی. هلته ښاری سرویس په ډیره بیړه روان دی. کله هم د سیند د څپو له پاسه د لاهو جالی په څیر کښته پورته شی او بیا په هوار سړک کی خوږ اور پریووځی. خو د غنمو د خید مست بوی، د شوتلو بوی او د سهار باد همداسی زما د ذهن په دښتو کی تاویږی.

د کلی خړسپی می په پښو کی تاویږی نه می پریږدی چی په پوله په زغرده ګامونه واخلم. کله هم زما په پښو کی رغړی. هلته دکڅ په لاندی پټیو کی لمر خاته خواته څو نجونی ولاړی دی. چی پخپلو کی په مستیو او ټوکو بوختی دی. کله په پوله منډه واخلی او کله هم له خندا شنی ودریږی.

په کڅ کی یو سړی لیری ټیټ ټیټ کیږی. د غنمو په پوله دکوترو دراتلو څارنه کوی. چره یی ټوپک یی هم په لاس کی دی. خپلی واری ته ګوری. ښه ډیره شیبه د

هغه ټيټ ټيټ کيدلو له ځانه سره بوتلم. ټوپک يې ونيو د کوترو په لور يې ونيو. د کوترو سرې پښې يې د چره يې په غوټې کې راوستې، په يو درز سره چې د سرويس له جمپ نه پورته شو. درز زما په خوبولې خيال کې د ښکارې د ټوپک له ډز سره يو ځاى شو. زه يې هم نيغ کښينولم. د سرويس نګران مې سرته ولاړ و. دهغه همدا غږ د ټوپک له ډز او د موټر له جمپ سره يو ځاى شو، او همدې اواز زما د ټولو خيالاتو لاړې وشلوله. نور هيڅ نه و، يوازې همدا چې پيسې به راکړې.

پاى

# بی کچکوله ګدا

هغه یو ساده شیخ و، شیخ ګدایي نوم و، یو بې کچکوله ملنګ او ګدا و، د نورو ګدایانو په څېر نه چې په دروازو کې د «خیراوړه» غږ وکي، دایي عادت نه و، هغه ډېر بې پروا و، هغه یوازې د رښا د لارې، د روښنایي د لارې یو ساده سرفروش و، ځکه یې داستان اوس د یوه اسطوره یي انسان داستان دی. ځکه خو یې د هیبت او عظمت د یادولو لیوال یو، او ځکه خو یې د یو ساده شیخ په نوم نه یادوو، ځکه چې د یوې زمانې پیداوو، په هغه کې د یوه نسل اراده وینو د هغه اراده د هغه د همزولو او د هغه د یارانو او د هغه د عیارانو اراده.

نو ځکه د شیخ ګدا داستان زموږ د اسطوره شوي اولس یوه افسانه بولو، یوه کیسه لکه چې د فکر نه بهر هسته شوې وي، لکه چې په فکر کې نه وي راغلی، او یوه خارق العاده موجود جوړه کړې وي.

رښتیا چې کله کله د زمانو په پیرونو کې د یوه اولس اراده په ځینو جودونو او کرکترونو کې تمرکز پیدا کوي، اراده په اسطوره بدلیږي او اسطوره دا ولس پر تهنده

ترابده داسې ځلیږي چې د هماغه اولس هویت ګرځي.

خو زمونږ کیسه او خبره زمونږ د ساده شیخ او ګدا داستان د اوږدو زمانو شاته دی. مونږ کیسه یوازې د کیسې له پاره نه کوو... دا د اکبر باچا د زمانې کیسه ده...

خو نه د اکبر کیسه، بلکې د شیخ ګدا کیسه، د یوه افغان د تمرد او عصیان کیسه.

د هغه د سرغړاوي داستان چې څرنګه هوډ نیسي، او څرنګه یې عملي کوي او څرنګه یې په خپل ژوند کې د خپل اولس د پیړیو او زمانو خصلت ته خپل ځان او تن کې تبلور ورکوي، هغه ځایوي، هغه روزي هغه پالي او هغه ابدي کوي.

شیخ ګدا یو ساده روښاني سرفروش و، د خپلې عقیدې او ارادې سره، د خپلې مینې او ارادې سره، د خپل ایمان او د ننني جمال سر، کله چې د روښان د سرښندونکو لښکر د مغولو د پلویانو په لاس کښېووت، روښان لاله نړۍ، سترګې پټې کړې وې خو د هغه سرفروش لښکر له اباسینه پورې ووت.

څو تنه ستر قوماندانان یې ووژل شول او د اباسین په مینځ کې «بیرته ددوو سترو پرخو په څیر راڅرګند شول.»

ددې لپاره چې خپل ابدیت وښيي او ددې لپاره چې د پیړیو، زمانو او وختونو په سینه کې تل خلکو ته، لاروېو ته، له اباسینه پورې وتونکو ته، لامبوزنو ته

ځانونه ښکاره کړي او د اباسين د څپو په جوړلو کې مرستندوی شي، د هغوی ارواح هملته پاتې شوي، ډېرې شوي، او د دریاب په زولې کې یې ځای ونیو . . .

اوس هم هلته شته او س هم د اباسین په تېر کې ښکاري خو د هیڅ چا په تسلط کې نه دی او نه چا ته د تسلیمیدو . . .

خو خبره د لښکر د نورو سرفروشو په باب نه ده یوازې د یوه ګدا، یوه ساده ګدا او ساده ملنګ او بې له کند او کچکوله ملنګ په باب ده.

د روښان پیرد یوه مرید په باب، د یوه شیخ په باب ده هغه یو ساده او پاک زړی مریدو.

هغه د روښنایي په لار کې خپله پادشاهي داوکړی او خپله یې کند او کچکول ته ناست و، نه خو د «شیخ صنعا» په څیر کوم زاهد او متقي وچې په عشق کې خپل ټول کړی عبادات له لاسه ورکړی، او خپله لاره پرېږدی کافر له دنیا تیر شي او نه خود عابد «برصیصا» په څیرو چې د ډیر زهد تقوی او پرهیزګاري نه وروسته د شیطان په لاره سم شي، او بیا د پښیماني لاسونه ومروړي، بلکې هغه یوازې یو ساده سرفروش او د خپلې عقیدې او تقوی او پرهیزګاري، څخه د انسان په وجود کې یو وجود و چې په شیخ ګدای روښاني یادیده . . .

هغه د مغلو زور ګیرو عسکرو له خوا په روښاني لښکرو کې ژوندی اسیر شوی و. په لښکر کې یوازې جنګي میړونه نه و، ښځې، ماشومان سپین ږیري او بو

ډاګان هم و. هغوی په ډیر کړ او سره نیولی شوی و. د خپلی عقیدی په جرم.

د شپو شپو او ورځوور ځومزلونه وروسته له پښتو نخوا څخه لیری بو تلل شول.

یو وخت د اسیرو لښکر د اوږدی او ستړی ستومانه لمروهلی بروهلی قافلی په خیر د جیلم له سینده پوری وت. پښی ابلی روان و. وږی او نارنهر دلاهور خواته رهی و. دا کبر پادشاه لوی مغولی پادشاه دربارته نږدی شول. اکبر پادشاه چې په بحر او ځمکه یی حکومت کاوه، دنیا یی تر فرمان لاندی وه ځان ته به یی مغل کبیر وایه. ټول وګړی د خوا وشا ملکونو خلک هغه ته په بیعت محکوم و. او اوس د کوهستان باتوران هم دادی د هغه پنجو ته ورغلل. دوی ټول ستړی ستومانه وو.

نارینه ښځی، بوډاګان او ماشومان پکی وو او یو هم پکی د ګدا په نوم شیخ . . .

هغه په ګدا مشهورو. خو یوازی د خپلی لاری او طریقت ګدا و. د صداقت او درونی صفا او رښتینوالی ګدا، د دنیا له کاروبار یی زړه موړو، په روحانی عالم کی یی روح سیر او سفر کاوه، د ظالم د حکومته یی زړه موړ او د مظلومو له حسرته یی ویر او ترهه ورد.

هیڅکله یی چا ته مخ نه ښکاره کاوه، او نه یی غوښتل چا ته مخ ورڅرګند کړي. شپه او ورځ یی په خفی ذکر تیریدله، لوی نقاب یی پر مخ اچولی و.

د خراسان د مشهور نقابدار ابن مقنع په څیر نقاب یی درلود، داسی لکه چې یو وار بیا د خراسان د نقابدار روح په شیخ ګدا کی حلول کړی وی، خو د هغه یارانو

به ویل دی ښکلی سړی و، په ونه دنګ، اوچت مناسبه ږیره، ارت کالی او د هغه له پاسه نقاب...

لکه چې هوډ یې کړی و چې یوازی د خپل پیر او مرشد په سترګو سترګی ومنبلوی لکه چې ټول لیدیې یوازی د هغه لیدلو ته ساتلی و او لکه چې یوازی د هغه سره، یانې د خپل پیر او مرشد سره سترګه په سترګه شی او د نړی او کایناتو او ظالمو کسانو سره هیڅ ونه وینی، د ظالم څیره ونه وینی او په دی ډول د خپلو نه لیدلو روژه تر ابده له ځانه سره وساتی.

له هغه سره راغلی بندیان او نیول شوی روښانیان هم هغه ته حیران و. په لاره کی په دمه ځایونو کی او په بندی خانو کې ټولو هغه ته د سترګو لاندی کتل.

ګوندی زړه یې تنګ شی او نقاب دیوی شیبې لپاره له مخه لیر کړی، خو هغه په ټول سفر او لاره کی او رادوایه، په خفی ذکر مشغول و، د هغه څیره او دوه سترګی هیڅ چا نه لیدلی، د هغه د مخ له لیدو سره د ټولو تنده زیاته وه، هیڅ چا فکر نه کاوه چې ددغه پراته نقاب له لاندی به یوه او سپنیزه اراده وی چې هو به یې هو اونه به یې نه وی. ټول ورته حیران وو.

خو د هغه وروستیو پریکړو او هوډونو وښوده چې هغه اوسپنیزه اراده درلوده. ان «یوبنیادم» نه وه بلکی یوه اراده و، دنه پخلا کیدنی اراده، ددښمن سره د هر ډول مخالفت او د هغه په وړاندی عصیان او غضب اراده چې هیڅ ډول ماتیدنګ

نه منی.

هو با الاخره د گدا شیخ داستان اکبر پادشاه ته ورسید، هغه امپراتورچې یوازی خپله لویی او عظمت او د بد به یی لیده بل ثوک ورته په سترگو نه راتله، د بل چا د عظمت فکر یی نه کاوه، هغه د گدا داستان اوریدلی و، حیران شوی و، نه پوهیده څه وکړی. یوه عجیبه کیسه ورته وبریښیده، د کوهستان یو ساده گدا او داسی هوډ ...!!

هغه ته په زړه پورې وبریښیده چې یو ځل خو یی تماشه وکړي، یو وار خو یې ووینی. دا څرنگه اسیر گدا دی چی خپل مخ نه ښکاره کوی. له ځانه سره وبوگنید.

-«خو د پادشاه امر به واوری! مخ به راڅرگند کړی، وبه یی وینم، هسی به یی کومه افسانه جوړه کړی وی.» اکبر بادشاه په یوان کی خپلو افرادو ته امر وکړ:

زرورشی او هغه مستور گدا راولی...

هغه چې نقاب یی پر مخ اچولی دی هغه چی په مکر او نیرنگ یی شپی تیری کړی دی!! هغه چې دعوی لری هغه دروښان گدا، هغه راته راولی.

پادشاه په قهرو پرتولو روښانیانو په قهرو، په وړوماشومانو او سپین ږیرو بوډاگانو هم په قهر و خو د گدا کیسه ورته عجیبه بریښیده.

- اوس به ووینم چی څرنگه خپل نقاب له مخه نه لری کوی، ایا پرما یی سترگی بدی لگی، ایا له ما سترگی پټوی، شرمیږی، دا کوم عادت او کومه

دستوره ده، د هغه تر راتلو پورې په ډېرو ذهني پېچومو وخوت او کوز شو، په زړه کې یې ډېر څه تېر شول.

خو بادشاه په همدې تصوراتو کې ډوب و. هغه ته یو سات تیرې پیدا شوې و.

د روهستان یو عجیبه افسانه ورته ژوندې مخ ته راغلې وه، پر ته له دې چې څوک یې ووایي. دې یې اوس خپله ویني، امر یې وکړ:

ژر یې ماته راولې، زه یې وینم، ترې پوښتنه کوم، چې څه وایي! د څه له پاره یې نقاب اچولی دی، جادو کوي او که ... خو هغه خبر نه و چې د ګدا شیخ اراده اباسیند په غورځنګ کوي، د ګدا شیخ ارادې ته اسمان سر ټیټوي. پادشاهان یې په فکر کې نه ګرځي، او ددې هوډ لرې چې دنړې سترامپراتوران که اکبر. بادشاه هم وي، دیوه اسیر ګدا اراده نه شي ماتولی، که په بادشاه کې د چنګیز تیمور او بابر اراده راغوټه شي، نو په ګدا کې به هم د هغه دوګړو، ساده خلکو اراده راجمع شي چې ټول امپراتوران او زورګیرانَ یې د خپل ټول شوکت او شان په باب په بیا ځلې فکر اړ کړي دي. په ګدا کې هم د روښان او د خپلو روښاني یارانو اراده راجمع شوې او بیا یې ترې د پښتنو یو نقابدار جوړ کړی و.

خو اکبر له دې ناخبره و، اکبر که د ډېلي په تخت نازېده او داټک په چونې او د هند په محلونو یې نازکاوه، خو ګدا یو ساده افغان و، او ګدا ته د چا خبره د هغه ټوله پادشاهي د خاورو کنډولي ښکارېده.

گدا ته د پادشاه سړی ورغی، ورته وی ویل : شهنشاه اکبر دی خپل حضور ته منی، هغه غواړی تا ووینی، پادشاه وایی ما ته یی راولی. خو گدا د نقاب له منځه اواز وکړ :

- زه یو اسیر یم، زه نه غواړم ستاسو اکبر ووینم، زه کومه اړه نه لرم، زه د خپل اکبر سره راز او نیاز لرم زه یو اکبر پیژنم، نور اکبران نشته. زما سترگی د شاهانو د لیدلو عادت نه لری، زه یو ملنگ یم.

خو هغوی ټینگار وکړ :

- داحتمی ده، دا د پادشاه امر دی ته باید لاړ شی، گدا ته گواښ وشو. ته یو بندی یی، په زوره دی بیولی شو، ته د اوس نه لری، گدا وپوهیده چی وخت اخر دی.

- د اکبر استازو بیا هم ټینگار وکړ، زیات ټینگار یی وکړ، هغوی ته د بادشاه حکم داسی د کاڼی کرښه وه، لکه گدا ته چی یی هیڅ ارزښت نه درلود.

گدا پوهیده او خپله ناڅیزه او وروستی غوښتنه او خپل شرط یی ووایه :

- خیر ما ته سپین کالی او اوبه راوړی، چی غسل وکړم، جامی بدلی کړم، نو بیا به لمونځ وکړم او بیا به گورو...

د اکبر بادشاه استازی خوشحاله شول «اوس یی بیا یو» اوبه یی تیاری کړی جامی یی ورته راوړی هغه غسل وکړ، کالی یی بدل کړل، او دنقاب په موجودیت

کی یی دوه رکعته نفل هم وکړل او له دوعا او تسبیحا توروسته یی استازو ته وویل
:


– زه یوه شیبه سترګی پټوم، او بیا به ګورو !!

خو ګدا پریوت، ارام یی وکړ، په نقاب کی پریووت لږ ساعت وروسته د اکبر استازو هغه وخوځاوه، هغه پروت و، سترګی یی پټی وی، څوک یی نه لیدل، اکبر بادشاه یی هم نه لیدلو، د هغه وقار او دبدبه یی هم نه لیده، سترګی یی پټی وی او په دی ډول یی د یوه پردی شهنشاه له لیدلو د تل له پاره سترګی پټی کړی وی. (۱)

۱۳ جدی ۱۳۶۸

**نوټ :** دغه کیسه د حالنامی د روایت له مخی کښل شوی ده.

PROPERTY OF ACKU 7758



## د لیکوال څو چاپ شوي آثار :

- سینده څه سینده بهیره ، د لنډو کیسو مجموعه
- شیبې د لنډو کیسو مجموعه
- چې ماشومان سندره ووایي ( د لنډو کیسو مجموعه همدا اثر )
- څو ادبي یادونې ( د تحقیقي مقالو مجموعه )
- غني د شګو په محل کې تحقیقي اثر
- په حالنامه کې د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څیره
- د فرانتس کافکا په ذهني نړۍ کې لنډ سفر ( تحقیقي رساله )

چاپ : دانش کتابخانه ، ډهکی نعلبندی قصه خوانی